





Download from: aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# د کتاب پېژندنه


د کتاب نوم :: :: :: :: :: :: :: لویه لار ده څوک به راشي

لیکوال :: :: :: :: :: : :: :: :: عبدالقادرمجرم

د چاپ کال :: :: :: :: :: :: :: :: نومبر ۲۰۱۰ع

کمپوزر :: :: :: :: :: :: :: :: : :: عبدالقادرمجرم

د پښتۍ انځور :: :: :: :: :: : امیر لیکوال

بیه :: :: :: :: :: :: :: :: :: ۱۰۰ روپۍ



Email /facebook______ qmujrim@yahoo.com



خپرونکی : هیواد ادبي یون کلاسیف الله





Download from: aghalibrary.com

# مننه او کور ودانی

د امیرمحمد لیکوال ، محمدعظیم کاکړ ، ډاکټرهرات خان ، واجد تړي ،عنایت اولسمل،نقیب افغان،خان زمان کاکړ ، جمال ناصر ، الله دوست دوست ، او علي محمد سباوون د زړه له تله مننه او کور ودانی کوم ، چې د کتاب د چاپ په چارو کې یې ز یار او مرسته راسره وکړه. .

په درناوي

عبدالقادرمجرم



Download from: aghalibrary.com

# د هېواد ادبي يون خبره

******

د هېواد ادبي يون لپاره په خپل فعاليتونو کي تر ټولو مهم کار د ادبي اثارو خپرېدل دي . موږ غواړو چي د خپلې ژبي د علمي بنياد په پياوړي کولو کي حسبِ توفيق مرسته وکړو، په دې لړ کي داسي کتابونه چي د ادب د معيار ساتلو قوت لري، خپرول يې زموږ په مرام کي دي .

زموږ لپاره د ادبي اثارو د خپرېدو په سفر کي ډېره مهمه خبره دا ده، چي يو ناول چاپ ته سپارو. په پښتو ادب کي د ناول په برخه کي ډېر کم کار شوی دی، ځکه نو موږ دې ته پام سره د عبدالقادر مجرم ناول (لويه لار د څوک به راشي) په دې هيله خپرو، چي د پښتو ناول په شتمني کي به ضرور ونډه ولري. د ناول د څرنګوالي په باب خبره نه کوو، په دې يقين چي اوس تر ډېره حده لوستونکي د نقادانه ذوق څښتنان دي او دا هيله ورځني لرو، چي خپل نظرونه به د کتاب په حواله څرګندوي او دا د ادب لار، لويه لار ده، يو څوک به ضرور راځي، داسي څوک چي د ادب په باريکيو به پوهېږي.

***په درنښت***

***هېواد ادبي يون کلاسيف الله***

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET
Download from: aghalibrary.com

# سبا وختي بارېږو

نن د ژوندون ټولي ښې او ښادۍ زما په برخه دي ، د ښار په شتمنو او قدر منو خلکو کي شمېرل کېږم ، دولت او عزت لرم ، د ښار په هره حکومتي او غېر حکومتي شعبه کي ښه ملګري انډيوالان لرم ، خپل ، پرېدي ټول را باندي چار پېره وي ، ما په ښار کي يو داسي اداره هم پرانيستې ده ، چي په هغه کي يتيمانو او نېستمنو ماشومانو ته ديني او علمي زد کړي ور ښودل کېږي ، ما غوښتو هم دغه ، چي زه داسي کارونه وکړم چي خلکو او وطن والو ته يې ګټه ورسېږي ، اوس زه په خپل سرای کي يوازي په سوچونو کي ناست يم ،چار پېره خاموشي ده ، او ما ته هغه وخت را يادېږي ،چي ما د ژوند دا سفر په څنګه حالاتو کي راتېر کړی ، بيا مي هغه پخوانی قلم "چي ما ډېر په مينه پټ ساتلی ؤ، ولي چي ما په دې قلم ډېر نازولي ليکونه ليکلي ؤ ، اوس هم خپل خاص ليک ، په دغه قلم ليکم " را واخېستو ، ښکل مي کړی ، څو ترخې اوښکي مي بې اختياره وڅڅېدې ، په ليکلو مي پېل وکړو ، زه چي به کله هم يواځي کېدم ما به خپل دغه د ژوند تېر شوي حالات لېکل ..

منی ؤ ، د ونو پاڼي ځيني رژېدلي وې ځيني په رژېدلو وې بلبلانو کوچ کړی ؤ ، د باغونو مېوې شکول شوې وې ، زاغان لا ځای په ځای ښکارېدو ، يخه او خشکه هوا چلېده ، ډېر خوشحاله وم ، د کلي له هلکانو څخه مي بيتي او بډۍ ګټلي وې ،" د کاکو د سرای د دېوال لمر څريکي ته موږ هره ورځ بيتي لا به مو بډۍ کولې ، ما او جمال چي زما ډېر په زړه پوري اشنا ؤ ، موږ به په دواړو ، ګټه سره وېشله ، غرمه وه ، جمال ته مي ووئيل چي سبا به بيا لوبي کوؤ ،خو چا ته معلومه وه چي سبابه څوک چيري او

څوک چیري وي ......؟
کورته چي راغلم ، د کور نقشه بدله شوې وه ، مورکۍ مي په ډېر بدحال کي ولیده چي ما کله هم نه وه لیدلې سر یې ببر . مخ یې ګرځو لاندي کړی پر مخ یې اوښکو لاري جوړی کړی وې ، دکور ځیني شیان یې په پړي تړلي ځیني یې ترمخ خواره ؤ ، دا په اخته وه سره تړل یې، نیکه بابا د خوني وره ته نزدې دېوال ته شا وهلې ناست ؤ ، له سترګویې اوښکي راتلې په سپینه پراخه ږیره کي سره یوځای کېدې ، ما فکر کاؤ ،چي نیکه بابا خو سړی دی ، سړیو نو کله ژړل ،ولي ما کله هم د سړ یو ژړا نه وه لیدلې، ما چي دا حالات ولیدو ناڅاپه مي لمن له لاس څخه ووته ټولي بیتي او بدی په مځکه سره وپاشل شوې ، د مورکۍ را پام شو، را ولاړه شوه هغه یې را ټولولې ،
**زه** :- مورکۍ ته دا پرېږده ، داشیان مو ولي سره تړلي دي ، نیکه باباو تا ولي دومره ژړلي دي ، چي سترګي مو سرې دي ؟
نیکه یو واري راته وکتل بیا به یې د خپلي لونګۍ شمله په سترګو ونیوله او خپل سر یې د ځنګنو په منځ کي کښېښودی ،مورکۍ زه کښېنولم او یو سوړ اسو یلی یې تر خولې و ایستو، پر سر یې لاس راکښېښودی ،
**مورکۍ** :- سبا وختي د آذانو په وخت باربېږو ،ستاسو وطن ته کډه کېږو،
زه نه پوهېدم چي دا مورکۍ څه وائي ، چي ستاسو وطن ؟
**زه** : - زموږ وطن بیا چیري دی ، ولي ځو ، کلی پرېږدو ؟
نیکه بابا هم ځي موږ ټوله ځو ، ؟
**مورکۍ** : - زو یه ژاړم خو ځکه چي ادې ، بابک ، وروړک او ستا د پلار قبر ، دا ټول به دلې وي ، یواځي به زه ، ته او سپلو جانه ځو .... دې خبرو په ما ډېر بد اثر وکړی ، زه که څه هم ماشوم وم سوچ مي نه ؤ ، خو اُوس مي هم هغه خبري تر غوږونو او هغه وخت مي تر سترګو دلې دوري کېږي ...

**زه** : - موركۍ نيكه بابا مو باروي ..؟

**موركۍ** :- زو يه ته يې وينې چي دا څو ځله دي ميراث خواره راځي بابک ته وائي چي زموږ كونډه او يتيمان راكړه ، بابک مجبوره شو ، چي موږ ستا ميراث خورو ته په لاس وركړي .

زه : - موركۍ دوی نو موږ څه كوي ؟

**موركۍ** : - زو يه دوی چي دي د پلار له غمه مړه نه شول ، ستا له غمه نه مري ، پلار دي ناروغه شو څوڅو واره يې حال ورتېركړی ، خو دوی يو هم نه راغلو، ده به پر حال د زكندن ناري كړې[1] ، كله به يې ووئيل دوست محمده كله به بل نوم واخيستو ، د ټولو خپلوانو نومونه به يادول خو په دې وخت يو هم نه ؤ ...... ستا پلار ډېر په عذاب ؤ ، درې مياشتي يې په سخت مرض كي تيري كړي ، بيا وفات شو ، خداي پاک دي ښه ورسره وكړي ، خو دغه ميراث خواره يې نه په رنځ حاضر شول نه يې په مرگ او نه په جنازه ، دوی اوس هم تا تر ما پوري خپلوي دوی وائي چي دا مور به يې يو په نكاح كړو.......

دغه رنگه مي دا ورځ ټوله له موركۍ سره د كور شيان سره په ټرلو تېره كړه ، جمال ، نور ملگري ، د كاكو د سرای لمر څرېكی ته بيتي ، بدۍ ټول پاته شول ، ماخوستن وختي و يده شوم ، د موركۍ هغه خبره مي په غوږونو كي وه ،چي سبا وختي باريږو.

---

[1] ځنكدن

# د کاکا کورته راورسېدو

زه هغسي د مورکۍ په غېږ کي و يده شوی وم ، بيا په ځان نه يم پوهېدلی ، خو د مورکۍ ږغ مي واورېدو ،

مورکۍ :- و ېښ شه ، ګرانه زويه هله پاسه ، نا وخته کېږي ،

ما ته را ياد شو ، چي هو هو نن خو د بارېدلو ورځ ده ، زه را پاسېدم ، شپه تېره شوې وه سهارګاه وه ،دچرګانو اذانونه ؤ، هوا ډېره يخه وه ، نيکه بابا او مدو مامک تيار ولاړ ؤ ، زموږ تولپه هستي د تول کور سامان په دوو خرونو ځای شوی ؤ ، يو زړوکی صندوخ ، درې بسترې او يو څه نور لوښي ؤ ، په يوه خره يې زه سپور کړم . انا په چېغو چيغو ژړل ،

انا :- وهی بانو لوري ته خو زموږ په ژوند يتيمه شوې ، موږ څه خبر ؤ ، چي به د بل وطن خاوري کېږي ته موږ وخورې ، مور دي و خوره وهی لوري ، زه به څه کوم ،

نيکه بابا ورته غصه شو،

نيکه بابا :- ښځي مه ژاړه ، تسلي ورکړه ، ته يې نوره ژړوې ، کليمه ووايه په ځان يې چوؤف کړه . د خدای پاک رضا ده ما او تا څه کولی شو. خدای پاک په خپلو کارونو ښه پوهېږي د دې به قسمت دغسي وي . هر څه په خدای و سپاره ، دعا پسي وکړه ، نفل پسي وکړه چي خدای د دې او د ماشومانو ژوند ښه کړي ،،

انا هم اوښکي پاکي کړې مورکۍ يې په غېږه کي ونيوه ،

انا :- لوري حوصله به کوې پښې به ټينګي لګوې ، د خپلو ماشومانو په خاطر به هر څومره سختي برداشته وې ........ بيا زما په خوا راغله زه يې په لاس مچ کړم . مورکۍ ور را ږغ کړو ،

مورکۍ :- آه ! موره ! دا زما د لاس بنګړي د ده په قبر کښېږده ، حق را وبخښه ........ خدای خبر چي بيا سره ووينو که نه ؟

نيکه بابا : - در ځئ مزل ډېر دی ، زه هم تر څه ځايه درسره ځم ......

مورکۍ ، نيکه بابا په خرو پسي را روان شول ، مدو ماما سيلوجانه په غېږکي را واخيسته . د هغې ورځي يخ چي اوس هم را په ياد شي ، زني مي وکړپيږي اوف د هغه ورځي يخ ، زه داسي يخ نيولی وم ، چي له برداشت څخه مي وتلی ؤ ، چيغي مي وهلې ، مدو مامک ، مورکۍ او نيکه بابا مي تول و ننګول ......د مورکۍ په سر دوه ټيکري ؤ ، يو ټکری يې په ما واچاؤ ، دغه رنګه زه

په درې ټکريو کې ونغښتل شوم ،اوس زه سوچ کوم ”چې د مورکۍ به څومره يخ کېدى . هغې غريبي خو په يوه پړوني ګزاره کوله “ بيا نيکه بابا يوه ګرنۍ ګوړه راکړه ، چې بادام هم په کې ؤ ،
نيکه بابا :- ګرانه زو يه دا ګوړه وخوره دا ګرمه ده لړ. به دي بدن په تود شي . مور. په توده چينه اودسونه کوؤ. هلته به اُور هم بل کړو، چاى به هم وکړو . ............
چينې له را ورسېدو ، نيکه بابا را کوز کړمه . مورکۍ اُور بل کړو ، يو تللک[٢] يې په ما او سيلو واچاؤ ، اُور ته يې کښېنولو او دوى اودسونه او لمونځونه کول ، مورکۍ چاى پخولې ، اور چې به کمزورى کېدو ما به زر زر په منډه منډه د لرګيو خاشې را ټولي کړې په اور به مي پسې کړې بيا به په خپل تلتک ننوتم،
نيکه بابا : مدو زويه نن ډېر يخ دى ، دا ماشومان مو په يخ ووهل ، کاش دوستو ته مي بله ورځ ور ښوولې واى . خير اوس خو هسي هم راغلي يو ....
بيا روان شو، اوس نو د لمر ژړي او زر يني وړانګې د ږوب تر څوکه [٣] ښه راپورته شوي وې ، هوا بده نه لګېده ، يخ هم څه کم شوى ؤ ، مورکۍ له موږه لري وه ، نيکه او مامک خبري سره کولې ، چې ماته اوس هم لفظ په لفظ او ټکي په ټکي يادي دي .
نيکه بابا :- مدو زويه د دنيا ژوند دى تېرېږي ، پر انسان هر رنګه وخت راځي کله څنګه کله څنګه ، بهادر چې کله راغلى په ښه مسته ځواني کي ؤ، بريټونه به يې تاؤ کړي ؤ ، له ما سره مزدور شو ، ډېر ايمانداره او راست ګويه سړى ؤ، ما به د بانو د پاره غوښتى هم دغسي مېړه ، د مرګي دي کور خراب شي زه به مړ کېدم خو د قسمت فېصلې دي ، نن به مو ولي دا ورځ ليدله ، بانو به زما په ژوند نه يتيمه کېده ، خو څه کړم ، چې د بهادر ميراث خورو ته يې نه ورکوم دنيا مي ملامته وي ، زموږ خو دغه بد بختي ده ، چې په ژوند د يو او بل په ښه نه ورځو ، بهادر څومره ډېر ووئيل چې زما ميراث خواره راوغواړئ خو هيڅ څوک نه راتلو اوس چې دى مړ شو نو دوى را روان دي ، خداى خبر بانو خوارکۍ د کومو بلاګانو خوراک شي ، بانو دي ما وخوري ...
بيا يو ځاى په يو کارېز ډيري ښځي ناستي وې ځينو کالي و ينځل او ځينو

---

[2] برېستن
[3] يوا ښرکې د يو غره د څوکي نوم دى ، يوا ښکي ته په لوي افغانستان کي د ږوب څوکه وائي

ګوډي ډکول . زه له خره را کوز شوم له مورکۍ سره روان شوم . مورکۍ د ښځو په خوا ورغله . ټولو ښځو له مورکۍ سره روغبړ وکړو، یوه ښځه چي ګډۍ یې په سر ؤ ، له مورکۍ څخه ئې تپوس وکړو،

ښځه :- خوري له کومي خوا یې ، دا وخت خو د کډو هم نه دی . بیا تاسو چیري ځئ ؟

مورکۍ :- خوره زما حال دي خدای پاک په چا نه ویني ، زه یو بد بخته یم ، مېړه مي مړ دی دا مي زوی ، هغه سپین ژیری مي پلار، هغه ځوان مي ورور هغه په غېږ کي چي یې ده هغه مي لور ده ، دوی مي اوس د میراث خورو کره بیا ي ، هلته نو بیا خدای خبر چي څه را سره کېږي ، دعا راته کوه چي خدای پاک زما او زما د یتیمانو ژوند ښه کړي ، بیا را رخصت شوه ........

په تلو تلو کي ماپښین شو ، یو ځای ودرېدو د غره په لمنه کي یوه چینه وه دوی اودسونه او لمنځونه وکړو، د غره لمني ته لمر ډېر ښه برابر ؤ، دلته مورکۍ یوه زړه کمبله خوره کړه ټولو ته یې یو یو ټکلی ورکړی ، موږ په خورک خپت ؤ ، یو شپانه چي لو یه رمه ورسره وه . راغلی سلام یې وکړو ، نیکه او مامک سلام ور بیا کړو او د ډوډۍ ست یې ورته وکړی .

شپون :- نه خدای پاک مو اباد لره ، ډوډۍ مي خوړلي ده ، یو خو مي رمه د دې چیني اوبو له راوسته ، چیني له خو بیا هم راتلی شوم خو مطلب مي دا ؤ ، چي له تاسو نه تپوس وکړم چي څنګه داسي بې وخته مو کډه را بار کړې ده . له کومه راغلاست او په کومه ځئ ، زه ستاسو څه مدد کولی شم ؟

نیکه بابا :- وروره خدای پاک دي تا ته خېر درکړي دا ماشومان خپلو میراث خورور ته په لاس ورکوم . په خدای یې سپارم ، پلار یې مړ دی زه یې نیکه د مور پلار یې یم ، دا مي لور او دا مي زوی دی ،د پولي په هغه بله خوا لنډي کلي ته ځو ،

شپون :- هغه کلی خو ډېر لري دي ، شپه په لاره کېږي ، زما کور هم په مخ کي دی ، شپه به ما سره وکړی ،..... ده خپله رمه و خپل ملګري ته ور پرېښوه .، شپانه مخ کي موږ ور پسي شو، ښه تیاره ماښام د شپانه کور ته را ورسېدو، زه چي کله فکر کوم وایم چي دا څنګه شپانه ؤ ، ښه ښائسته کور یې ؤ ، په بخارۍ کي یې اُور را بل کړو ، مرغومی یې را حلال کړی ، ښه مو ځان موړ کړی ، شپانه زما په خوا وکتل ،

شپون :- زه هم د دې ماشوم په عمر وم ، چي پلار مي مړ شو ، خدای پاک دي په جنت کي ځای ورکړي ، مور خو مي په خوا لا وفات شوې وه، زما هیڅ هم نه ؤ، دی خو بیا هم ښه دی تاسو ټول ورسره یاست ، زه یکي یوائې ؤم

، اوس ما ته وګوری تر چا کم یم ، د رمې د پاره مي شپانه نیولی دی ، خو زه په شوق کله کله په رمه پسي ځم ، ما ته که څوک شپانه ووائي زه یې بد نه ګڼم ما ته خوند راکوي چي څوک ما ته شپانه ووائي ، ما ته خداي پاک ټول جائیداد د دغې شپنې له سوبه راکړی دی ، هیڅ فکر یې مه کوی ، کاکو هیڅ فکر یې مه کوه. خدای پاک به یې خېر کړي .............

د ټولي ورځي د مزل له وجهي زه له ماخوستنه بیا تر سهار ه بې غمه و یده شوی وم ، سهار یې ښه د ټوکني مړئ او د پیو چای راکړې ، نیکه او مامک ډېر ځني خوشحاله ؤ ، بیا یې ښه په مینه رخصت کړؤ ....................

د دې ورځ موسم تر تیري ورځي ښه ؤ ، یخني ډېره نه وه ، خو بیا په سفر روان شوو، بیا ښه ما پښین قضا ؤ ، چي یو ځای نیکه ، مامک ته د درېدلو خبر ورکړ،

**نیکه بابا :-** دوستو خو دغه ځای راښولی ؤ، دلي به انتظار ور ته وکړو . زه بیا تا او دوی سره پرېږدم ، ته یو څو شېې ورسره وکره ،چي دوی سره شناخته شي ، بیا به راشي ، او زه به بیا در څخه رخصت شم ..........

لږ وخت پس یو سړی له لري ښکاره شو ، چي یو ځوان هلک هم ورسره ؤ ، درې خره یې را روان کړي ؤ ،

**مدو مامک :-** هغه دی دوستوکاکو را روان دی ،..... دا دی یو څه وخت پس هغه هم را ورسېدو .،نیکه ور ولاړ شو ،

**دوستو :** - اسلام علیکم زما خیال دی زه ډېر ناوخته راغلم تاسو به ډېر انتظار کړي وي ،

**نیکه بابا :-** و علیکم سلام ، نه نه یې نا وخته ، موږ هم لږ وخت مخ کي راغلو، ګوره دوست محمده وروره ، څوک په دې خبر دی چي سبا څنګه ورځ وي ، دا زما لور اوس حاضر ساعت ستا وریندار ، زما لمسیان ستا وراېرونه کېږي ، د دوی به ډېر خیال ساتې ، اوس یې تاسو ته در سپارم ، څومره خیال به یې ساتی ، او دا ځوان څوک در سره دی ،... په دې وخت کي یې سامانونه پر خرو سره بدلول او خبري یې هم کولې،

**دوست محمد :-** زما د قسم په خدای وي ، چي د خپلوانو رنګه به یې ساتم ، دا مي خپله و ینه ده ، که ستا لمسیان دي زما خو هم خپل دي ، دغه ځوان مي زوی دی ، بدرو خان نومېږي د ده ما سوا په کور کي بل انسان نه لرم ، ... بیا نیکه د مورکی په خوا ورغلی په سر یې لاس ور تېر کړی په مخ یې اوښکي را رواني وې .بیا به یې د لونګی په شمله پاکي کړې ... ..

**نیکه بابا :-** بانو لوري د خدای په امان ، دوست محمده وروره ، مدو زویه، بدرو زویه په مخه مو ښه ،.... روان شو د لږ تګه روسته بیرته راغبرګ شو

DARYAAB.NET

زه او سیلو جانه یې په غېږه کې و نیولو په تندي یې مچ کړلو
نیکه بابا :- دا سړی ستا کاکا دی .کاکا ورته وایه ...
بیا روان شو ، د کور په خوا یې مخه وکړه ، او خپل خره یې بېرته له ځانه سره بوتلو ، او موږ له خپل کاکا سره را روان شو ، کاکا په خره پښه واړوله ، ډېر خوشحاله ؤ ، له ډېري خوشحالی یې په خُوله ډول ډول لنډۍ ورتللې ، چې زما اوس هم یو څو لنډۍ (کاکړۍ غاړي ) په یاد دي ،

چي په تورو غرو فنا شوې
خدای خبر دی چي بیا راشې
تا وئیل نه به شې را
اوس نو در وڅکېږه ځای را

"زه حیران وم چي کاکا ولي دومره خوشحاله ؤ ، چي د لنډۍ وئیلو په وخت یې ساه هم لنډه لنډه کېده ،هغه په حقیقت کي هم دی خپل واده ته خوشحاله ؤ ، ....
"

مامک هم را سره ؤ. دغه رنګه مو دا ټوله ورځ په سفر تېره کړه تیاره ماخوستن د کاکا کور ته را ورسېدو .

3

# موركۍ بياكونډه شوه

د كاكا كره دوی له خرو څخه سامان كوز كړی ، د يخ له وجهي زما زني كړ پېډلې ، د كاكا په كور كي ښځې نه وې يوازې بدرو او كاكا ؤ زه موركۍ او سپلو جانه يې خوني له بوتلو ، موركۍ اُور بل كړو ، بدرو اُوړه او د پخلي نور شيان وروښول ، تور ماخوستن ؤ ، بل څه نه ؤ ، هګۍ وې موركۍ هګۍ پخې كړې ، دوی هم ډوډۍ له راغلو ، موږ ستړي هم ؤ او ناوخته هم ، د ډوډۍ خوړلو وروسته ، كاكا او بدرو بلي خوني له لاړو، زه موركۍ سپلو او مامک په دې خونه كي پاتي شو، مامک او موركۍ لمونځونه وكړو ، بيا موركۍ موږ ته بسترې را خورې كړې ، د ستړ يا له كبله داسي وېده شوی وم، چي په ځان پوهي شوی نه يم ، سهار چي له خوبه را بېدار شوم ، موركۍ بيا اُور بل كړی ؤ، كاكا،مامک او بدرو بيا دستوف شا وخوا ناست ؤ ، موركۍ چاي راوړې ، زه هم راغلم په چا يو مي شروع وكړه ، دوی هم په چايو خپت ؤ ، چي په دروازه كي ټوخی شو ، يو سپين ږ يری سړی خوني ته را ننوت ، دوی ور ولاړ شول، د سلام ور بيا كېډو پس ټولو روغبړ ورسره وكړو ، بيا كښېنستو ، له روغبړه دا معلومه شوه چي هغه سړی مرجان اكا نومېدو.د موركۍ مخ ځني پټ ؤ ، ا وله كاكا يې هم مخ پټ ؤ، موركۍ څه لري ناسته وه ،

مرجان اكا :- لوري ستړې مه شې ؟/

موركۍ :- خېر يوسې ، جنت دي ځای شه ،

مرجان اکا :- ګوره لوري انسان یو رنګ سوچ کوي او وشي بل رنګه ، مطلب دا چي په انسان هر رنګه حالات راځي ، خو انسان له په کار دی چي له صبره او برداشته کار واخلي ، چا دا وئیل چي ستا خاوند به له دې دنیا کوچ کوي او ته به له خپل کور کلي دومره لرې راځې ، خو څه ووائیم ، زړه به ډاډه ساتې ما به داسي ګڼي لکه پلار تر خپلي لور غوټۍ دي په خدای که کمه وګنم ، بیا یې کاکا ته مخ ورواړاؤ ، دوست محمده دا کونډه او دا یتیمان ستا په آسره دي ، ته یې مېراث خور یې ، ډېر خیال به یې ساتې ، دا ستا اسلامي او پښتني ذمه واري ده ، نور نو ته په خپل کار ښه پوهېږې

کاکا :- هو ولي نه ؟

مرجان اکا :- تاسو ټول نن   زما مېلمانه یاست ، ماښام ډوډۍ به له ما سره خورئ ...

دا ورځ مي ټوله له مورکۍ سره د کور په کار کولو تېره کړه ، دا کور چي کور نه ؤ ، کورکی ؤ ، مورکۍ کور کړو ، د ماښام د لمانځه پس د مرجان اکا کره ورغلو ، د مرجان اکا کور ډېر ښائسته ؤ ، وني په کي ولاړي وې ، په خونه کي تاؤ خانه وه ، سړي دا نه شوه محسوسولی چي سوړ منی دی ، په خونه کي داسي موسم ؤ لکه چي جوړ لمر څر یکي ته سړی ناست وي ،   مرجان اکاد مېلمنو د پاره ځان له ځای درلود، سړي یې د مېلمنو په ځای کي ، مورکۍ او سېلو یې له ښځو سره   کور کښېنولې ، زه نو تر دواړو خونو تلم راتلم د خوند خبره دا وه چي د مرجان اکا یو زوی  ؤ چي زما د عمر ؤ ، شهباز نومېدو ، موږ  په یوه  ګړۍ سره یاران شوؤ، دا سي یارانه چي تر اُوسه پوري لا دوام لري ، ما او شهباز به څه وخت د ښځو په خونه کي ؤ ، څه وخت به د سړ یو ، چي کله ډوډۍ خوړل شروع شوؤ، مرجان اکا زه له ځان سره کښېنولم ، زما مخ ته یې کاسه کښېښوله ، وړه مړۍ وه ، منځ یې له لاسي    غوړ یو ډک ؤ، ښوروا او ورسره غوښه هم وه چي په پاستو کي نغښتې وه ، د مرجان اکا ټول مېلمانه لکه چي هېر وي ، ما ته به یې په وار وار وئیل خوره یې ، زویه ځان موړ کړه ، کله چي له ډوډۍ فارغه

شوؤ، مولوي صاحب دعا وکړه ، ما او شهباز کاسې او دسترخوان کورته یوړو ، مورکۍ هم ډوډۍ خوړلې وه ،زه ډېر خوشحاله شوم چې د مورکۍ پام لږ بدل شوی ؤ ، په سپېرو شونډو به یې مسکا خوره شوه ، د شهباز مور نا روغه وه ، د شهباز واده خور په شپو راغلې وه ، دا ټول خذمت هغې کړی ؤ، ما فکر کاؤ چې دا خو دومره ښه خلک دي ، بیا بابک ولې له دې خلګو کډه کوله ، خو د ماشوموالي فکر ؤ، بیا به بدل شو ، خو چې څومره وخت تېرېدو ما ته ټولې تیرې کیسې را یادېدلې ، له دې شپې څخه زما او د شهبا ز ملګرتیا شروع شوه ، د شهباز خور چای پخې کړې ما او شهباز مېلمنو له یوړې ، هلته یو سړی چې مېربان نومېدو ،موږ ته یې سبا ماښام د ډوډۍ خوړلو ست وکړو ، را رخصت شو ، کله چې تر وره راوتو شهباز په وره کې ولاړ ؤ،
شهباز :- دا کالي ما د ځان د پاره جوړ کړي دي ،خو ما په غاړه کړي نه دي ، دا در واخله په غاړه یې کړه .
زه :- ورور جانه دا ستا دي زه یې نه غواړم ، ما درې څلور جوړې کالي راوړي دي ،
شهباز :- خامخابه یې در اخلې ، خورکۍ هم وائي وایخله ، اوس خو یې در واخله . . . . ما هم را واخیستو ، بیا چې خبر شوم دوی مورکۍ ته یې ټکری او سپلو ته یې کالی هم ورکړي ؤ، .........
شپه تېره شوه ، په سبا شهباز راغلی ، ټوله ورځ مو په لوبو تېره کړه ، زه خو په بېتو او بډیو ګټلو کې ماهره وم ، چې بډۍ به جګې شوې د موري زوي نه ؤ ، چې له ما سره به یې بډۍ کولې ، د کلي هلکانو له و یري له ما سره بډۍ نه کولې ، شهباز مي بیا داسي ملګری ؤ ، چي تر ورور کم نه ؤ ، په دا بل ماښام د مېربان اکا مېلمانه شوؤ ، مېربان اکا که د مرجان اکا غوندي نه ؤ ، خو بیا یې هم کور ودان دې خلکو له موږه سره ډېر ښه کول ، دغه رنګه مو څلور شپې په مېلمستیا تېري کړې ، دا څلور شپې مامک هم راسره ؤ ، په پنځمه ورځ مامک د ګوتو تنې ټینګې کړې ،
مامک :- دوست محمد کاکو زه نن ځم ، دا زما خور ، خورزه او

خور یی نور ستا حواله دي هیله لرم ، چي په ښه نظر به ورته ګورې ، او ما ته به رخصت راکوې ، تاسو دي خدای پاک خوشحاله سره لري ،
کاکا :- ځو شپې را سره وکړه لاړ به شي د دنیا کارونه نه ختمیږي نه ختمېده لري ،
مامک :- مننه ، ځم بابک هم یوازي دی ، اندېښمن به هم وي ،
مورکۍ ژړل هغه هم داسي ژړا ، چي مامک هم ورسره وژړل،
مامک د مورکۍ په غاړه کي لاس ورواچاؤ،
مامک :- خورکۍ پرخدای دي سپارم بل وس خومي نه درسي ،
لاس یې د مورکۍ له غاړي وکیښ خپل د اوږې د څادر څاک یې په ونیولی له خپلو سترګوسره یې مښلی ، په د غسي ژړا او سلګیو کي د خپل کور په لوري روان شو، ما او مورکۍ ترهغه وخته ورته کتل ترڅو چي ورک شو . هم په دغه ما پښین کاکا سره له ملا او دوؤ کسانو د کور په وره را دننه شو ، مورکۍ پوهېده چي څه کیږي بې اختیاره ځای په ځای کښېنسته ، او مخ یې له ډېره خفګانه شین شو ، په دې کسانو کي یو سړی د کلي مشر ؤ ،
مشر :- خورکۍ دغه ستا د زوی سکه میراث خور دی ، ته خو یې پیژني ، د دې سړي کور ودانه پخوا لا په حق رسېدلې ده ، او دی دا حق لري چي له تا سره نکاح وکړي ،
ملاصاحب :- خوره موږ دمرګ یو او مرګ زموږ دی ، ده به لا خبره سر ته رسوله مورکۍ یې خبره ور پرېکړه
مورکۍ :- زه پوهېدم چي دوی دا یتیمان د څه د پاره خپل کړو ، دوی خو زه راوستلې هم په دې یم ، چي نکاح راسره وکړي
مشر :- خوره ډېري خبري مه کوه ، موږ ته نور کارونه هم ګوري ، له ما سره د خبرو کولو وخت نشته ، له دې خبرې پس یې په ملا ږغ کړو ،
ملا منانه ! خطبه شروع کړه ، نکاح یې ور وتړه ، هسي یې له مخه باسه دا هم کار دی ، کار دښمن دی له مخه یې باسه ،...... مورکۍ

خو نور وس نه ؤ ، يو اوښکي ور پاته وې ، ژړل يې ، د مورکۍ
د دويم واده هغه سلګۍ اُوس هم زما په غوږونو کي ګرځي ......
مولوي صاحب خطبه ووئيله ، ادې د کاکا په نکاح شوه ، اُوس نو ما
د کاکا او پلندر په شکل کي پلار هم وموند، خو د بابک او کاکا
ډېر فرق ؤ ، خو بيا هم کاکا ډېر بد سړی نه ؤ ، بدرو له ادې سره
ډېر کين ساتلو ، کاکا به هر وخت ترټلی،
کاکا :- بدرو زويه موږ ډېر بې غېرته خلک يو ، موږ د ګران له
پلار سره ډېر بد کړي دي ، زموږ د بې غېرتۍ په وجه هغه د بل
وطن خاوري شو ، ما خپله ډېر بد ورسره کړي دي ، د هغه په
زکندن لا هم حاضر نه شوم ، سترګي مي پټې شوې اوس هم په
خپل ګرېوان کي لاړي توکم ، افسوس چي اوس د ګران پلار
ژوندی وی ، افسوس ، خو داسي چيري کېدی شي ، زه د دې ښځي
له آزار ه وېرېږم زه د بخښني وړ نه يم خو بيا هم هيله لرم چي ما
معاف کړي ، ...... بدرو به سر ورته وښوراؤ ، بيا به لاړی
........ دغه رنګه د مورکۍ او کاکا يوه مياشت سره وشوه ، ولي
چي کاکا په خوا لا د دق مر يض ؤ . ...يو ورځ ډېر بيماره شو ،
ټول ګاونډيان دغه ورځ او شپه ورته ناست ؤ ، په دغه شپه دی ډېر
په عذاب شو، ده وصيحت کاؤ، زه په وره کي ناست وم ، د ملا
صاحب قلم په لاس د کاکا ساه لنډه لنډه کېده ، زه يې په خبرو نه
پوهېدم چي څه وائي خو مولوي صاحب ليکل ، بيا يې زما په خوا
اشاره وکړه ، خلکو زه ور نزدې کړم ، د ده سترګي له اُوښکي ډکي
شوې ، په ډېر کوشش يې زما په سر لاس کښېښودی ،
کاکا :- مولوي .... چي ... لوي .... دا... و ...ص ...ت ... نامه
..ور .... ښکاره کړه .....کيسه ... وکه .. ما دا خبري هم په دې
ډول واورېدې .... .... په سينه يې لاس کښېښودی .
کاکا :- وی خدايا . اشهد ان لا اله الاالله ..........................
د وينو قی يې ووهلی ، وفات شو ، او مورکۍ بيا کونډه شوه ،

4

# د بدرو واده هم وشو

د کاکا د وفاته پس څه وخت لا ښه تېرېدی ، کله چي هغه د کاکا د وختو غنم او د خورک نور مواد ختم شول ، د بدرو د تندي ګونجي ورځ په ورځ ډېرېدلې ، کورته يې هيڅ هم نه راوړل ، نه يې دا وئيل چي دا زما کور دی ، بيا يې ورو رو د کور راتګ هم بند کړی ، يوه شپه به ؤ ، بيا به درې څلور ورځي پله پسې ورک ؤ، شهباز زمونږ په دې ټولو کيسو خبر ؤ ، کور يې ودان هغه به کله له کوره تيار خواړه کله وړه ، کله غوړي او کله نور د خوراک شيان راوړل ،دغه رنګه مرجان اکا هم د کاکا د زوی په کيسو خبر شوی ؤ ، يو سهار وختي يې ور وټکاؤ . چي ورغلم ،مرجان اکاؤ ، روغبړ مي ورسره وکړو ،

مرجان اکا:- ګرانه زويه له بدرو سره مي ليدل غوښتو هغه کور دی . ....؟

زه :- هو کور دی راځه ...... دی هم راغلی د نغري له غاړي سره مي بالښت ورته سم کړی .کښېنستی زه ورغلم بدرو مي وراوغوښتی ، مورکۍ هم راغله ، بدرو د نغري په بله غاړه کښېنستی ،

مرجان اکا:- ګوره بدرو چي دوست محمد سر لګولی دی ، ستا په کړه وړه کي فرق راغلی دی ، زه خبر شوی يم چي ته له دې کونډي او يتيمانو سره بد کوې کله کور ته راځي او کله نه راځې ، کور ته هيڅ هم نه راوړې ، داسي ولي کوې دا خو دي خپلوان دي اِوس خو دغه خواره مور او دغه دوه دي خور او ورور کيږي ، داسي هم سړی کوي دا خلک به څه وائي ............... ده سر کښنته

اچولی خاموشه ۆ ، بیا یې یو دم وئیل ،
بدرو :- زمادي له پلاره لاس پرمځکه شي ، لکه شول چي مي ، ورته ومي وئیل دابښځه مه کوه داځه کوې نن سباپرمرګ یې دا به سبا زما په غاړه کي لوېدلي وي ده نه منله ، چي مړشو، دا غمونه یې زما په غاړه کي راواچول .
مرجان اکا :- خو په هغه ورځ دي څُله ځله پورته کړې وی چي دا ښځه زما و پلارته مه ورکوی،
بدرو :- چي داسي مي کړې وی بیابه هم تاسو وئیل چي نافرمانه دی د پلار خبره نه مني.
مرجان اکا یو اوږده سا وویستله سر یې وښوراۆ ،
مرجان اکا :- په څه عذاب کي ګیر یوخدای مودي پرده کوي ،بدرو که یې د سا تني نه یې ، ته له دې کونډي اویتیمانوخلاص یې ، دوی زما ذمه دي که زما اولاد وړي پرېوتل دوی به هم پرېوزي که زما هغو څه خوړل دوئی به یې هم خوري، خالق خو مهربانه ذات دی ، ته آزاد یې چي چیري ځې هلته لاړ شه،
مورکۍ :- وړي دي یو ، تږي دي یو ،ګیله نه ځیني کوم ، هر څه زغملی شم ، خو دا زما بچیان دي نه راچیغوي ، دوی دي نه رژړوي دا هیڅ کله هم نه شم زغملی، ښه شو چي ته نن خپله راغلې د ده ټولي خبري دي واورېدلې په دې کي زما څه قصور دی ، زه ده دوی په لاس وم ، مجبوره وم ، کنې ما نو پردی وطن څه کاۆ .........
مرجان اکا :- نه لوري چا وئیل چي هغه پردی وطن وی ، هغه هم زموږ اوستاسو وطن دی ، موږ او هغه ټول یو نسل یو ملت او یو رنګه خلک یو .
بدرو په هغه سهار لاړی موږ یې د کلا په هغه خونه کي پرېښودلو کومه چي د مرجان اکا کور ته نزدې وه ، دی لاړی ورک شو، موږ مرجان اکا ته پاتي شو ، مرجان اکا ما او سیلو دومره ګرانه ولو او پاللو یې لکه خپل زامن بلکې ترهغه یې لاهم ز یات ګرانه

ولو د مرجان اکا ښځي بختوري  ترور هم زه  داسي  ګرانه ولم لکه خپل شهباز زوی  ، ما او شهباز یواو بل سهار په ملاصاحب سبق
وئیلی  د دنیا بل یوکار مو   هم  نه درلودی  ټوله  ورځ به پله پسې ؤ
په کلي کي به مو یو بل ځای بدی بښتي ، غیږي ایستلې یا به مو
هینده  کوله ، ماښام  چي به راغلو    دومره به ستړي ؤ ، لکه چي
موږ له روزانې راغلي یو ، چي ډوډی به مو لا نه وه خوړلې بیا به
ویده ؤ ، یو سهار چي   سبق له تلم ،
مورکۍ :-  زو یه ! نن سبق پرېږه ، له مرجان اکاسره به لاړشې
زه  :-  مورکۍ  چیري ور سره لاړ شم؟
مورکۍ  :-  چیري چي دی تلی ،.....
چي د مرجان اکا کره ورتلم  دی هم زما په انتظار دباندي  ولاړ ؤ،
مرجان اکا :- زویه راغلې ، درځه چي ځو ، دی مخ کي  ؤ ، زه
ور پسې وم ، په تلوتلوکي یو وخت هغوباغونو ته وروړسېدو کوم
چي به مي هر وخت له لري لیدلو، چي د باغونو څنګ ته ور غلو
.د ډېر  مزل او خاموشۍ وروسته زما له خولې بې اختیار ووتو ،
زه :- مرجان اکا !
مرجان اکا داسي راته وکتل لکه سړی چي له خوبه راپورته شي یا
وه  و یرېږي   دومره سفرموسره را وکړی تراخره یې وماته یوه
خبره هم نه وه کړې ، سر یې کښته ځړولی ؤ ، په سوچونوکي ډوب
ؤ،
زه :- یو ځای مو اوبه ښنلې وی
مرجان اکا :-  لږ صبر وکړه پرمخ یو ښاه دی ، هلته به اوبه هم
وچښو، ځانونه  به هم هوسا کړو ، ....... ښاه له چي وروړسېدو
هلته مو اوبه وښنلې ، دواړه خاموشه ناست ؤ ، نه ده څه راته وئیل
نه ما تپوس کاؤ . چي چیرته ځو ، زما خو د مورکۍ خبره په غوږ
کي وه چي دی چیرته تلو ته پسې ځه ، بیا ور روان شو لږ مخته
چي ورغلو یوه هسکه کلا وه ، د تختو ګېټ په کي ولاړ ؤ  ترمخ یې
پنځه شیږ د توتانو درختي  ولاړي وې ،د یو توت د وني تر سایه

لاندي يوڅپاى هواره وه ، پرهغه برسېره يو سره غالۍ چي سپين او تور ګلان پکي جوړ ؤ ، چار پېره بالښتونه پر پراته ؤ ، يو كمر ړ يرى سړى ناست ؤ ، موږ د ناستي ځاى ته ور ورسېدو
مرجان اكا:- اسلام عليكم بهرامه د دنيا خوندونه تا واخېستو ، ښه د توت تر سايه لاندي ورته ناست يې ........ هغه را ولاړ شو ، يو تاندځوان مخته راغلى له موږ سره يې روغبړ وكړى . مرجان اكا د بهرام په خوا ورتېر شو ،
بهرام :- و عليكم سلام په خېر په خېر له ډېره وخته مسافره ، خداى دي هر كله راوله ، مرجان اكا يې له څنګه سره كښېناؤ ، او زه د مرجان اكا كيڼ اړخ ته كښېنستم ..
بهرام :- خېر مرجانه څنګه دي مخه راكړې ده ،؟
مرجان اكا :- هوخير ؤ ، پرون د دې هلک مور د بدرو د اكا ښځه راغلې وه يو چا ورته وئيلي ؤ چي بهرام له بدرو سره دوستي كړې ده ، بدرو په ولور كي مځكه وركړې ده ، مرجان اكا لا خبره پاى ته نه وه رسولې ،
بهرام :- كوزده څه ور واده مي لا هم كړه ، ښځه خو تور لوښى دى چي هسي تر وخته رسېږي له كوره يې باسه ،
مرجان اكا :- لور دي وركړه كه لمسۍ ؟
بهرام :- زما لور يا لمسۍ دومره خواري دي چي يو معمولي سړي ته به يې وركوم ، هغه د كاغک يتيمچكه مي له غاړي وه ، هغه مي ور واده كړه ، ښه مي وكړو ، دوې ګټي مي وكړې يو مي هغه يتيمچكه له غاړي واوښته او بل مي دا دومره مځكه لاس ته كړه ،
مرجان اكا :- هو د بل لور او هغه پردۍ يتيمه دي ورته كښېنوله ، دا مه كوه ، بس كړه، ډېرخلګ دي زهيركړو ، بس كړه دا تر در خېژي ، دا سي مه كوه ،
بهرام :- ما ته داسي نصيحتونه مه كوه ، بهرام چي څه كوي په ډېر سوچ يې كوي ، د بهرام د جواب سړى په كوزه او بره پښتونخوا كي نه وينم ،

مرجان :- ته خو پوه ـــ او پوره سړی يې د دې هلک مور وئيل د بدرو مځکه دي ځيني واخلي او زما د يتيمانو مځکه نه ورکوم نه يې وربخښم ،
بهرام :- کټ کټ وخندل ګړی يې خندل بيا يې د سپينو جامو د ځنګ له جيبه شين دسمال راوکيښ د خپلو سترګو له غروره ډکي اوښکي يې په پاکي کړې "غويی مي د.......دپاره هلال کړی"
مرجان اکا ډېر په حېرت ورته کتل سر يې وښوراو را ولاړ شو د غالی سرله چي راغلی خپلي څپلی يې په پښو کولې
بهرام :- ساده مرجان نه دي دي اوربدلي ، چي بدي د دوه او يا کاله پس د دوکلی غاښ کاږي ،
مرجان :- ياره هغه ظلم او جبر دي پرې نه ښودی ، دا به يو وخت تر در وزي په نن پسي سبا شته ،
بهرام:- مرجانه زه سېلاب يم سېلاب ، سېلاب د شګو په بند نه راګرځي ،
مرجان اکا :- په دې هم ځان پوهـ کړه چي د هرڅومره لوي کښتی د غرکېدو د پاره په کت د ستني د سپم قدر سوری کافي دی ........... موږ څپلی په پښوکړې ، ده ډېري نارې را پسي وکړې چي ډوډی چای ، مرجان اکا را روان شو ، چي کلي ته را ورسېدو ، مرجان اکا تر کور تېر شو زموږ کره راغلو ، د مورکی و مخته زما و د سيلو زړې جامې پرتې وې ګنډلې يې هغه يې يوخواته پوري وهلې ولاړه شوه بالښت يې سم کړی ، موږ کښېنستو، دې اوبه راوړې ، بيا له موږه ښه لري کښېنسته
مورکی :- وروره ورغلې هغه ظالم څه وئيل ؟
مرجان اکا :- خورکی بس و خدای ته کښېنه خدای نه بهرام دی نه بدرو، هغه په خپلو کارونو ښه پوهېږي ، د دغو ظالمانو زور نه تاسو لری نه موږ ،
مورکی :- دا ښځه چي يې بدرو ته ورکړې ده ، څه يې ده ، د بهرام لور ده که لمسی ؟

مرجان اکا :- بدرو واده هم کړی دی ، هغه نجلۍ د بهرام نه لور
ده نه لمسۍ دا یوه یتیمه ده دوی خپله لور کله موږ ته راکوي په دې
خو یې په خپل کور کې مکتب جوړ کړی دی چې د دوی لور او
زوی هره ژبه زده کړي چې دی یې و هر زبانه ته ورکولی هم شي
ځیني غوښتنی یې هم شي ، د دوی هغه خپل دی چې په جائیداد تر
زیات وي یا ورسره سم وي، دوی نو موږ څه کوي ، ځکه خو چې
موږ څه نه شو ورسره کولی ،
مورکۍ :- دا یتیمه خواره د چاوه ، چې ده خرڅه کړه .؟
مرجان :- خورکۍ دا ده میرداد لور ده چې له رنګه تور ؤ ،په
کاغک مشهوره ؤ ، کاغک ډېرهوښیار او غیرتمند سړی ؤ زوی
یې نه درلودی هم دغه یوه لور او ښځه یې په کور کې درلودل د
بهرام او د زامنو له هیڅا څخه دومره بد نه کېدو لکه له کاغکه ،
کاش چې نن دی وی ، زموږ د پاره ډېرښه ؤ ، بهرام هغه له شپې
خپل ساتلي ور ولېږلي ؤ ، هغه یې په وژلی ؤ، ډېر خلک لا اُوس
هم په دې نه دي خبر چې کاغک چا مړ کړو ، که څوک خبر هم
دي ، له و یري ږ.غ نه شي کولی ، موږ جنازې له ورغلو دوی د
هغه ښځه او دغه خواره یتیمه کورته کشولې ، د دې او د مور د
هغې ورځې چیغې مې لا اوس هم په دماغ کې ګرځي
د مرجان اکا سترګې له اُوښکو ډکې شوې زر زر یې پاکې کړې ،
ولاړ شو ، زه تر وره ورسره لاړم رخصت مې کړی ، بیرته کورته
راغلم ، مورکۍ وئیل ژوند دی ګورو به چې په مخ لا څه کیږي ،د
بدرو واده هم وشو .

5

# دخپلي مزدورۍ په طلب پسې شوم

له وخت سره زه هم رو ،ورو لو یېدم ، داسي را یادېږي چي دشپاړس ، اولس کلنو په شا او خوا کي وم ، له ما سره دا احساس پیدا شو چي ځوان سړی یې ، اوس دي لا هم کور مرجان اکا در ساتي دا ښه کار نه دی ، تر څو به ژوند په داسي بې فکرۍ او د بل په محتاجۍ کي تېروې ، که څه هم مرجان اکا ډېر ښه راسره کوي خو تر کومه وخته پوري ، بیا تر یو څه وخته پوري دغه سوچونو او فکرونو داسي بې قراره کړی وم ، بیا مي له ځان سره پرېکړه وکړه چي مزدوري به کوم ، بیا به مي مورکۍ او سپلو جاني ته فکر شو چي دوی به څه کوي ، خو بیا مي یوه آخرنۍ فېصله له ځان سره وکړه چي په ښار کي به مزدوري کوم ، د ماخوستن له مسجد څخه کور ته راغلم مورکۍ ترخې چای را پخې کړې ، د چای څښلو په وخت ما ته هغه خپل د مزدورۍ کولو ترکیب را یاد شو.

زه :- مورکۍ زه له ډېره وخته دې سوچونو ډېر پرېشانه کړی یم چي موږ به آخر څه کوؤ، تر کومه وخته به مو مرجان اکا ساتي ، بدرو هم یواځي پرېښودو ، زه غواړم چي ښار ته لاړ شم ، مزدوري وکړم ، د خپل کور ساتلو ذمه واري په خپل سر واخلم ،

مورکۍ :- شکردی خدا ۍشکردی ، زه ستا شکر نه شم ادا کولی چي نن دي زما زوی دومره کړی چي د کور غم ورسره پیدا شو، زو یه مزدوري دلته هم شته په کلي کي له یو چا سره بزګر شه در یمه حصه به در کوي ، زموږ ښه ګزاره په کیږي ،

زه :- مورکۍ زه خو د بېلچې کارنه شم کولی ، بل زه نه غواړم
چي په کلي کي مزدوري وکړم ، خدای (ج) مهربانه دی ، کېدی شي
ژوند مي ښه شي ، بس ته اجازه راکړه ،
مورکۍ :- لږ وخت پاته دی چي باغونه شروع شو بیا به په باغونو
کي مزدور شې ، ما او سیلوجانه چاته پرېږدې ؟
زه :- مورکۍ تا اوسیلوجانه اوس څوک ګوري ، چي زه تمامه شپه
په کلي کي ورک یم باندارونه کوم ، یا چي چېري چغکه وي هلته
خامخا ځم ، کله راشم کله چي ډېر نا وخته شي ، دورې ویده شم
مورکۍ :- دلته خو دومره یې چي تر سترګو مي لاندي یې په
ښارکي ګوره څنګه خلک وي ، پرځنګه خلګو برابر شې، ښارله خو
دا یو د محمدنور زوی تللی دی چي په ښارکي یې دا زده کړو چي
کلي له راشي کله د چا وزه کله مېږ ه غلا کړي چي ډېره
ورسختره شي د شپې له کوډلو چرګان یوسي لکه چغال ، ته به د
ګوا د محمدنور تر زوی ښه یې ، زو یه ډېره وېرېږم زما ساه
ژوند هر څه ته یې ، چي ته نه یې دا ټوله دنیا که زما شي زه یې
څه کوم ،
زه :- مورکۍ ماته ډېره بده ښکاري چي مرجان اکا په سپینه ږیره
بزګري کوي او موږ ساتي .....
مورکۍ :- خو ته او شهباز دغه بزګري وکړي ،
زه :- مورکۍ زه خو ببخي د بېلچې کارنه شم کولی شهباز لا بیا هم
ښه دی ........ ما او مورکۍ په دې ډول درې څلور میاشتي سره
تېري کړې اخیر مي مورکۍ په دې راضي کړه چي ښارته لاړ شم
، د مورکۍ زما د ښار مزدوري نه وه خوښه ، خو ما دا غوښتو
چي مورکۍ مطمئینه کړم ، او دومره څه خوراکي مواد ورته برابر
کړم چي د دوی درې یا څلور میاشتي بس شي ،
ما دوې میاشتي په باغونو کي مزدوري وکړله ، د باغونو ماتي مي
کولې ، داسي بېلچې مي ووهلې چي د لاسونو تناکي مي تر ډېره
وخته پوري پر لاسونو ښکارېدې ، د جېب او کرایې خرڅ او دوو

میاشتو خوراکي مواد مي برابر کړو ، کور ته مي راوړل او ښار ته د تللو پوره او پخه اراده مي وکړه ، ...... څو ورځي پس بس راغلی ودرېدی ، ما د کور په خوا منډه کړه چي کورته ورغلم سامي لنډه لنډه کېده په دروازه کي ودرېدم
زه :- مورکۍ وه مورکۍ !
مورکۍ :- جار زو یه څه کوې چي سادي لنډه لنډه کېږي، خېر خو دی ؟
زه :- مورکۍ ته زما کالي په دسمال کي غوټه کوه ،زه زر راځم ، بس ولاړ دی ښار ته ځم ....... ..... لمر تر غره ښه را پورته شوی ؤ ، موسم ډېر ښائسته ؤ ، واښه شنه شوي ؤ ، هر خوا خوشبوداره هوا چلېده ، خو پوره غرمه لا نه وه ، ما منډه کړه چي شهباز پیدا کړم ، شهباز مي ومونډی ، شهبازچي زه ولیدم
شهباز :- خېر خېر له چا سره خو دي جنګ نه دی کړی څه بله پېښنه خوبه نه وي، ولي په داسي منډه یې ؟
زه :- نه نه داسي نه ده ، ومي خندل ، ته راشه کښېنه چي ساه مي سمه شوه ، کیسه مي ورته وکړله
شهباز :- نن پاته شه بل ورځ چي بس راشي دواړه به لاړ شوؤ،
زه :- نه نه یاره زه یوه لحظه هم نشم پاتي کېدی ،....... .... ما هم دا فکر له ځانه سره کاؤ . چي دا ناقراري ګوره تا عزت له بیاي او که ذلت له.
شهباز :- زه دي نورڅه کوم ، نن مي له یو چا سره ستا د ملاقات وخت ټاکلی ؤ ، مینه خو هم یو شی ده که څنګه ؟
زه :- شهبازه وروره که ر ښتیا را باندي وائې زما له دوو شیانو سره نه لګېږي ، یو له ښځي اوبل له ژړا سره
شهباز:-موړ یې پیداکولی نه شو، په تاپسي نارې وی ستا بدځیني کېږي . عجیبه انسان یې
زه :- شهبازه ماچي کله د مورکۍ ناوسي او ژړا ولیده له دې دواړو شیانو مي بد وشو لکه ښځه او ژړا اوس که ښځه ووینم زړه

مي ورخېژي اوس چي د ماشوم ژړا واورم هم وما ته زما او د
مورکۍ هغه ژړا او ناوسي راپه یاد کړي په کوم وخت چي ملا
صاحب و کاکا ته ورنکاح کړه ، .. شهبازه مورکی اوسېلوجانه
ماله خدایه راپه دې خوا بیا پر تا سپارلي دي ،
شهباز :- زه به مورکۍ وسیلوجانه زموږ په کور پوري خوني له
بوزم
زه :- شهبازه ته پوهه شوې اوستا کار ، د خدای په امان په ژړا ژړا
ځیني رخصت شوم په منډه منډ کورته راغلم ،...په دسمال کي مي
کالي او نور د کار شیان غوټه کړل ، .... زه پوهېدم چي د مورکۍ
ښه خوښه نه ده ، خو بیا یې هم رخصت راکړو په غېږه کي یې
لکه ماشوم ونیولم ، ما هم څه روپۍ ورکړې ، ډېر په مینه یې
رخصت کړم ، اوبه یې را پسې و پاشلې ، زه تر وره را ووتم او دا
په وره کي ودرېده ، بس هم د جمال اکا د کور په کونج را وګرزېده
، ماشومانو د بس په خوا منډي وهلې ، ما به په وار وار شا ته کتل
، مورکۍ لا په درګاه کي ولاړه وه ، زه هم بس ته ور ورسېدم ، بس
و درېدو او زه ور وختم ، په سیټ کي د کړکۍ خوا ته کښېنستم له
دې ځایه د دباندي ډېره ښه ننداره کېده ، خو خواره مورکۍ تر هغه
وخته پوري په وره کي ولاړه وه ، تر څو چي زما له سترګو وډرېده
، ... . د بس سفر ؤ در به درېبه ، و یې دروه استاذه تر ځای دي
تېر کړم داسي نور آوازونه او شور ؤ ، ما د خپل اړخ کړکۍ
خلاصه کړه چي تازه هوا وخورم ، یو ځای هغه ځای هم راغلو
چیري چي زه ډېر په خوا په خره راغلی وم ،دې ځای او هغه تېرو
وختونو په سوچونو کي یې داسي ورک کړم ، چي په دې نه وم
خبر چي په بس کي سپور یم ، ..یو دم یو چا په وږم وټکولم ، لکه
له خوبه چي وېښ شم ، ورته ومي کتل زما څنګ ته یو ځوان چي
له رنګ او جامو د لوي کورنۍ مالومېدو ، او څنګ ته یې منشي
ولاړ ؤ،
ځوان :- خبر دی څه در کېږي چي په سوچونو کي داسي ورک یې
منشي کرایه غواړي ، په ځوانه ځواني او داسي سوچونه ،؟

زه :- وبخښنه  پام مي نه ؤ ، منشي ته مي كرايه وركړه .، ښه وخت پس بس په تم ځاى كي ودرېدو ، زه ځيني را كوز شوم ، په تم ځاى كي په يو  هوټل كي ويده شوم ، په سبا ورځ د خپلي مزدورى په طلب پسې شوم ،

6

# رخصت شوو،

په دې ټولو شپاړس اووه لس کلونو کې دا زما دریم ځل ؤ ، چې ښار له راغلی وم ، یو شی نه ؤ را معلوم ، حیران او سرګردانه د ښار په سړکونو ګرزېدم ، دومره و ګرزېدم چې له ډېر ه تکه مې اندامونو کار پرېښود ، بیا هغه وخت را یاد شو ، کله چې له مرجان اکا سره راغلی وم ، هغه هوټل را یاد شو چې موږ چای په کې څښلي وې ، بیا د هغه هوټل په طلب پسې شوم ، هوټل خو څه کوې چې ما پیدا کړی وی ، قبلې درک نه را کاؤ ، چې قبله په کوم لوري ده ، دې ته مجبوره شوم ، ولي چې له پښو لوېدل وم ، د تګ نه وم ، په یوه ټړه کښېنستم ، د لږ وخت د آرام کولو پس د مرجان اکا هغه خبره رایاده شوه ، چې په ښارکي بې ځایه مه کښېنه ده ښار لوچګان دي شکوي ، زر ولاړ شوم خپله غوټه مي په شا کړه ، بیا روان شوم ، خو چیري تللی وی ، هیڅ ځوک مي نه پېژندل ، په ښار کي د خلګو ګڼه ګوڼه ډېره ز یاته وه ، یو خواته د هارنانو ږغونه ، بل خواته په یوه ، یوه هر شای په یوه یوه روپی ، بل خوا ګرم کباب ګرم کباب ،داسي نوري چیغي او ږغونه مي ترغوږ کېدو ، زه هم راغلم یوې ریړۍ له چي ورځي په کي خرڅېدې ، دلته مي ځان هوساه کړی ، او ناری مي هم وکړی ، د ورځو والا ته مي پیسې ورکړې ، په دغه سرګرداني مي په ښار کي ورځ په دغه رنګه سرګرداني او سوچونو کي تېره شوه ، لمر پرېواتو ، آذان وشو ، د ماښام لمونځ مي په هغه مسجد کي وکړی چي "زه اُوس هم کله کله د ماښام د لمونځ کولو د پاره وراځم او خپل پخواني یادونه تازه کوم " د لمانځه پس یو هوټل ته ورغلم مړی مي اُوخوړله د ماخوستن د لمانځه پس چي پرېوتم ، د سوچونو له لاسه تر ډېره

پوري خوب نه راتلو خو بیا ویده شوی وم ، سهار  چي می چای و ځښلې چي کله مي د خلي ته پېسې ورکولې ، پوښتنه مي ځیني وکړه ،
زه :- صاحبه بخښنه غواړم ، زه دې ښار ته پرون راغلی یم ، نه یو ځای را ته معلوم دی ، نه څوک پېژنم ، په مزدورۍ پسې راغلی یم ، که له تا سره ځای وي یا دي مزدور په کار وي زه حاضر یم ،
دخلي :- ځوانه  له ما سره خو ځای هم شته او مزدور مي هم په کار دی ، ستا پر ځواني مي د هوټل مزدوري نه ربلېږي ، ولي چي زه هم  دغسي په دغه عمر ښارله راغلی وم ، لکه ته چي راغلی یې ، د هوټل مزدوري ډېره ګرانه ده  د هر  سړي خبري به وړې ، که څوک له کوره له مابېنې مرور وو،  هم به خروښ تر تا باسي ، یو ډاکټر شته  زما ډېر ښه انډیوال دی، پرون روغتون ته ورغلی وم ،د هغه یو خذمت کاره په کار ؤ ، که چیري له ډاکټر سره ځای نه ؤ ، هوټل خو بیا هم شته ،بیا به له  ما سره  نوکر شې ،
زه :- د ډاکټر روغتون  چیري دی .؟  چي ورشم ، ته یې را وښیه ، چي غلط نه شم ،
دخلي ده  ډاکټر درک ښه په زور او زېر  راوښودو.  زه هم پر هغه درک ورغلم چي لوی بازار په ختیځ اولوېدځ پروت  ؤ نرۍ کوڅه د جنوب په لوري وتلې وه ،د ختیځ  لوري  ته یې یو  روغتون  ؤ ، هم هغه ځای  ته  ورغلم ، کښېنستم  ډاکټر د یو مریض تشخیص کاؤ  ، چي مریض یې فارغه کړو ، ما ته یې مخ را واړاؤ ،
ډاکټر :- بچیه څه بیماري دي ده ، ؟
زه :- صاحبه زه ناروغه نه یم
ډاکټر :-  بیا نو خېر دی  ، څنګه راغلی یې؟
زه :- هوصاحبه  چا راته وئیل  چي د ډاکټر صاحب یو   خدمتګار په  کار دی
ډاکټر  :-  هوبچیه خدمتګارخو مي پکاردی  ، ستا کورچېري دی ؟
زه خوداسي  خدمتګارکوم چي هغه دلې اوسي ،

زه :- صاحبه زه خو غواړم داسي مزدوري چي اوسم هم هلته ، زه دلې اوسم زماکورنشته،
ډاکټر :- دا دي ځنګه خبر وکړه ، کور دي له سره شته نه ، که دلته نشته؟
زه :- نه صاحبه کور خو شته ، خو خپل ټول داستان مي ورته بیان کړی ، ما چي کیسه ورته کوله د ده قلم په لاس کي خپل غاښونه یې سوکه سوکه په ټکول
ډاکټر :- ته له نن څخه زما خدمتګار نه بلکه زما بچی یې ،
زه :- ښه صاحبه څه کار به کوم ،
ډاکټر :-چي زه نه وم مر یض راتلی هغه کښېنوه دا روغتون صفاکوه اوبل په دې ځای کي اوسه پرروغتون پام کوه
زه :- ښه صاحبه دا خوآسانه کاردی . ما هم په ښه همت او ایمانداري د ډاکټر خدمت کاؤ ، په دې وجه ډاکټر له ما سره ډېر ښه کول ، ما ته یې سبق هم وئیلو ، له ډاکټر سره چي مي څومره وخت تېرېدو، هومره مي زده کړه کوله هم دومره مي د ډاکټر په زړه کي ځای جوړاؤ ، څلور پنځه میاشتي پس مي هم د وئیلو هم او هم د لیکلو ګزاره کولی شوه له دې پس به مي د روغتون مخامخ دکاندار مولوي عبدالسلام له دکان څخه یویوکتاب راوړی چي وبه مي لوستلی بېرته به مي وروړی ، هم په دې ډول ما ډېره مطالعه وکړه مولوي سلام ډېرخوشحاله او پوهـ سړی ؤ ، دغه رنګه د مولوي سلام صاحب او ډاکټر صاحب له برکته ښه نیک او باسواده شوم ، ټول ، پوهان ، علیمان او سیاسي خلګ به د مولوي سلام اخوند دوکان ته راتلو ، یو ورځ چي د رخصتۍ ورځ وه ، زه د مولوي سلام دکان ته و راغلم څوپوهانو چي د هغوي ترمیان بحث شروع ؤ ، " زه هم د خپلو ګرانو استادانو له برکته دې ځای ته رسېدلی وم ، چي د عالیمانو په مجلس کي مي ګډون کولی شو ،"
زه او مولوي سلام صاحب خاموشه ورته ناست ؤ، دوی چا د چا ، چا د چا فلسفه تکراره وله، یوه به بل ته وئیل چي ستالېدر

داسي وکړل، بل به وئيل ستالېډر داسي وکړو ، يو وخت مولوي سلام د دوی په خوا مخ ور واړا ؤ ،
مولوي صاحب :- تاسو ډېري خبري وکړې ، خو دې نتيجې ته ونه رسېداست چي څه کول په کار دي ، تاسي چي له کومو ګوندونوسره تعلق لري ، څوک د مذهب خبره کوي ، څوک د قام پرستی نارې وهي ، اوس خو ځيني لا د زئيو او خپليو نارې هم په کي وهي ، د ډوډۍ مکان ، کالي خبره هم کېږي ، څوک د آزاد خيالی او څوک د اسلامي انقلاب خبري کوي ، ياره زما په ياد دي ، زه لا ماشوم وم ، چي دغه خبري به مو آورېدلي ، خو تر اوسه نه اسلامي انقلاب راغلو نه قامي انقلاب ، نه چا ته چا ډوډۍ ، کالي او مکان ورکړو ، هغسي غربت او هغسي جهالت لا زموږ په ټولنه کي دوام لري ، زه خو وائيم چي هيچا هيڅ څه هم نه دي کړي نه اسلام پالو د اسلام د پاره نه ملت پالو د ملت د پاره نه آزاد خيالو د آزادی د پاره نه قام پرستو د قام د پاره ، ولي ؟ زه پوهيږم چي له تاسو سره زما د دې پوښتنو جواب نشته ، هغه ځکه چي تاسو ته ښه معلومه ده ، چي دغه خامياني او کوتاهياني په موږ او تاسو کي موجوده دي ، زه منم چي په دوی کي به مخلصه ډله هم وي خو هغوي هم د خپلو مجبور يو په وجهه خپل آواز نه شي اوچولی ، او بله دا چي تاسو د اسلامي ګوند خبره وکړه ، زه خو دوی تر دې ټولو ډېر ذمه واره ځکه ګڼم ، ولي چي دا نور ګوندونه که څه وائي هغوي دنياوي خبري کوي ، وائي موږ غواړو د دنيا له قامونو سره برابر شو ، ژبه مو د سيالو ژبو سياله شي ، دا رنګه نوري دنياوي ګټي غواړي ،خو زموږ دغه ګوند چي زه يې يو وخت نه ستړی کېدونکي غړی وم، تاسو ټولو ته معلومه ده ، چي څه و نه کړل ، د اسلام په مقدس نوم يې څه څه کارو نه وکړل، آيا دوی د اغيارو مرسته نه وکړله ، دوی د هغوي له دوستانو سره ګډ حکومتونه نه وکړو؟ ، دوی زموږ ډېر ماشومان د مرګ خولې ته نه کړو ور،؟ دوی ډول ډول فتواګاني نه ولګولې ؟ ، په دې خبرو کولو دوی زه د ګوند دفتر ته طلب کړم ، د ډېر بحث مباحثې پس يې زه له ګوند

څخه ويستم ، او زما خلاف يې ډول ډول پروپېګنډې وکړلې ، زه دا
نه وائيم چې ټول عليمان به داسي وي ، دوی دي په صيحح مانا د
اسلام خبره وکړي په دوی کي داسي عمل نه وي لکه اوس چې
دوی لګيا دي کوي يې ، زه يې ملګری يم ، لاکن چې زه يې په
سترګو وينم چې د دوی په قول او فعل کي تضاد دی ، زه يې څنګه
ملګری شم ، دا رنګه دا نور ګوندونه هم دي چې خپله لار يې
پرېيښې ده ، تش په خوله ده آزادۍ خپلواکۍ خبري کوي ، اصل
خبره دا ده چې ماته اوس هم لا خو مستقبل روښانه نه ښکاري ، تر
څو چې زموږ زړونه ذهنونه روښانه شوي نه وي ، او موږ د ذاتي
مفاداتو لمن پرېښې نه وي ،په کار دی چې زموږ دا باسواده ځوانان
د دغو مفاد پرستو ډلو ملګري نه شي ، ځان ته خپله بېله لاره وټاکي
ذاتي ګټي پرېږدي او د خپلو ملي ګټو د پاره کار وکړي
،..................
زه د مولوي صاحب له خبرو څخه ډېر متاثره شوم ، ولي چې
څومره کسان ناست ؤ ، په هغوي کي ډېر تعليم يافته خلک هم ؤ ،
خو هيچا د مولوي صاحب د خبرو جواب نه در لود ، د ماپښين
لمانځه د پاره مولوي صاحب دوکان بند کړو ، او موږ ټول سره
رخصت شوو،

7

# اخلاقي خلک،خلک جوړولی شي

زه چي به کله فارغه کېدم د مولوي صاحب دکان له به تلم ،له مولوي صاحب څخه به مي علمي پوښتني کولې ، مولوي صاحب زما ډېر لوي استاد ؤ ، ما له مولوي صاحب څخه ډېر څه زده کړي ؤ ، يو ماځيګر د مولوي صاحب دکان له ورغلم .....

مولوي صاحب :- نه دي ده خوښه ګرانه ، چي زه او ته تش په نامه نه ، بلکه حقيقي انډيوالان شو سره ، کتغ به سره پخوؤ، او په يو ځای به ډوډۍ خورو داکتر خو ماښام وخت هسي هم کور ته ځي ، ته ځان له جلا او زه ځان له جلا سالن تياره ؤ ، په يو ځا ی خوړلو کي يو خو برکت دی ، او بل به خپلي خبري اتري هم کوؤ ،او کتابونه به هم سره لولو،

زه :- صاحبه خود مي خوښه د ه ، ښه يو سره دوه به يو....... رنګه ما او مولوي صاحب خوراک څښک هم په يو ځای ، او کتابونه به هم سره وئيل ..............يو ماخوستن د ډوډۍ خوړلو پس مي له مولوي صاحب څخه مي تپوس وکړی چي دوی واده کړی نه دی که کونډ شوی دی .... مولوي يوڅه خاموشه ؤ ،څه وخت پس يې سر را پورته کړی ،

مولوي صاحب :- که رښتيارا باندي وائې زماپرښځينه ذات ډېر زړه خوړېږي زموږخلک خو درته معلوم دي چي پر ښځو څومره ظلم کوي ، ښځي په سيالي سره وهي يو وائي ته ده مائنې سپی يې هغه بل وائي ته ، يو و ائي ته زما له هغې پوښتنه وکړه چي ځوورځي يې ږغ نه ؤ، هغه بل وائي زماله هغې پوښتنه وکړه چي ځوشپې يي ږع نه ؤ،.... زه به دخپلي مورکيسه درته وکړم ، ګرانه زويه زه چي ماشوم وم له بابک سره به مي لؤ کاؤ ،غنم به مو

رېبل موركۍ به ترغرمې دکور کار کاؤ، غرمه به یې په ما او بابا پسي ډوډۍ راوړله ، ما ا و بابا به ډوډۍ واخیسته لاړو به د سپینانو ونې په سایه به مو ډوډۍ وخوړه ، دورې به ویده شو، دې خوارې به ښتې [4] ټولول ، ماپښین چې به موږ راغلو لؤ به مو شروع کړی، دې به ښتې ټولول ماځیګر به دا لاړه د کور کار به یې کاؤ ، موږ به ترماښامه لؤ کاؤ، ماښام چې به کورته راغلو ، د خوړلو شی به نه وؤ تیار ، بابک به موركۍ راونیوله ترهغه به یې وهله ترڅوچې به دکلي څوکسان د ګواښ د پاره نه ؤ راغلي ، خو زما بابا د مائنې په ټکولو کې له ټول کلي نوم وړی ؤ ، دغسې نور......... ، زما پلار دومره ظالم سړی ؤ ، د ډیرو وهلو په وجه زما مور له آولاده ووته ، یو ورځ ماله بابا سره پردې جنجال وکړی چې ته موركۍ ولې وهې ، پر دې خبره ده زه له کوره وشړلم ، ما چې هر څه وکړل د کلي مشرانو ، مولویانو ته مې ووئیل چې بابک دا سې ظلم کوې، هغوی به وئیل چې پلار دې دی ،په تا یې حق دی ، هغوې زما د کور په حال څه خبر ؤ ، ما به ورته وئیل چې ولې د مور هیڅ حق نشته ،که هر څنګه ؤ ، بیا به هم ملامت شوم ، ما هم له موركۍ رخصت را واخیستو ، له کوره را ووتم ښارته راغلم په یوه مدرسه کې مې سبق شروع کړی ، له دې سره سره مې له یو ټېکداره سره کار هم شروع کړی، د ټېکدارمنشي شوم یو څه وخت پس په دې ډول مې سبق هم وئیلی کار مې هم کولی ، په څو څو واره مې بابک ته د کلي د سپین ږیرو په ذریعه حال ورتېر کړو ، خو هغه داسې ټینګ سړی ؤ ، چې یوه خوا یې هم نه کوله ، موركۍ مې له زړه نه وته کله نا کله به د غله په شان خپل کورته تلم ، موركۍ سره به مې ولیدل یو وخت خبرشوم ، چې بابک په حق رسېدلی دی ، زه هم ورغلم موركۍ مې له ځان سره راوسته ، چې موركۍ د بابک له وهلو ټکولو وو تله ، او لږ څه یې ژوند ښه شو ، بیا ده خدای پاک کارونه دې وفات شوه ، او زه یوا ځې پاته شوم ،.... خدای شته یو څه وخت مې لا د واده

---

[44] رېبل شوې غنم

سوچ ؤ ، خو والله که خبر یم ، چي ولي مي د واده پخه اراده نه شوه کولی ، د بابک او د مورکۍ هغه تر یخ ژوند هم زما مخ ته خنډ جوړ کړی ؤ ، ګرانه زویه ډېر وېرېدم ، ما وئیل هسي نه وي بیا به دي ژوند تریخ وي د نن سبا زامن دي اولاد به دي صالح نه وي ، هر وخت به په دې سوچ کي وم ، چي واده وکړم ، که نه ، زه لا په دې سوچونو کي وم ، چي خدای پاک ته څه بل رنګه منظوره وه ، لا په تانده ځواني کي وم ، له ټیکدار سره مي کار کاؤ ، تر دېوال لاندي شوم ، دوې میاشتي په هسپتال کي داخل وم، د دې حادثې پس د واده قابل پاته نه شوم ،

ما د مولوي صاحب ټولي خبري په ډېر غور سره آورېدې . ما ته د مولوي په خبرو کي وزن ښکاره کېدو ، دا رنګه به ما او مولوي صاحب هر ماخوستن دیني او دنیاوي خبري کولې خو یو څو خبري مي ستاسو د پاره لیکل ضروري وګڼلي ، دارنګه مي له مولوي څخه یو بل تپوس وکړو

زه :- په دې اُوسني دور کي موږله څه کول پکاردي ؟

مولوي صاحب :- خلګ پیدا کول او جوړ ول،د رواج هغه کړی ما تول چي د تر قۍ په مخ کي خنډ وي

زه :- خلګ په څه ډول جوړېږي ؟

مولوي :- په دې ډول یووخت ماښام تیاره پر یو چوک راغلم یوځوان ولاړ ؤ، ماته ډېر پرېشانه ښکارېدو ، ماله هغه ځوان څخه پوښتنه وکړه چي خبردی ، ولي دومره پرېشانه ولاړیې ؟ ده وئیل نه روپۍ لرم نه د شپې د تېرېدلو ځای . ما ورته وئیل له کومي خوا راغلی یې ، او په څه پسي ځې ، د وئیل په یو محکمه کي مي د نوکرۍ د پاره کاغذونه جمع کړي دي ، کار مي نه کېږي ، دوې میاشتي شوي دي چي ځم او راځم ، اُوس روپۍ هم راخلاصي شوې ، د محکمې رئیسان کله وائي د پلاني صاحب سفارش راوړه ، کله وائي د پلاني ، اُوس حیران یم چي څه وکړم ، چا له لاړ شم په کومه لاړ شم، ما ورته وئیل ته چي سفارش په کوې پلانی او پلانی دي څوک ؟ د وئیل د علاقې او ګوند مشران ، ما وئیل ته راځه زه

يوسړی پېژنم چي له يو ګوندسره تعلق لري که چېري هغه ؤ ، هغه ته به دا کيسه وکړو زه روان شوم دی راپسې شو ، خو حسن صاحب مو په هغه تياره ماښام پيدا کړی چي له يو بل سړي سره ولاړ ؤ ، موږ چي ورته و درېدو حسن صاحب هغه وخت زموږ په خوامخ راواړاؤ، د روغبړ کولو پس مي ددې ځوان ټوله کيسه ورته وکړه، حسن صاحب هغه سړی پرېښوی و موږ ته يې وئيل په ماپسي راځی، دی له مخه شو موږ ورپسې شو ، د دغي کوڅې پای له چي ورغلو حسن صاحب په يو هوټل دننه شو، يو چا ته يې ور ږغ کړی سلطانه دلته راشه ، هغه هم پر مېز پرتې چای پرېښووې ، را ولاړ شو ، حسن صاحب نه يوه کړه او نه بله ، سلطان ته يې وئيل دا سړی کومه ژبه وائي؟ هغه ووئيل پښتو.......حسن صاحب وئيل بيا ته ځوک يې چي سند ځيني غواړې د پښتون سندپښتو ژبه وئيل دي ، ته څنګه پښتون يې ، چي پښتون او د هغه له لهجې د هغه سيمه نه شې معلومولی ......... سهارسهار د دې سړي کار وکړه ....سلطان وئيل چي صاحبه سبا زما کار دی، يو خوا ته ځم حسن صاحب وئيل د دې سړي دوې مياشتي درته شوي دي په نن او سبا کي ..... ولي دا سړی کار نه لري ؟ د دې سړي به مور او پلار نه وي منتظر ، د دې سړي بچيان به د ده لاس ته نه ګوري ؟ په نورو دي نه پوهېږم ، سبا سبا د دې سړي کار وکړه ته خپل کار يوه ورځ نه پرېږدې بل که دوې مياشتي انتظار کاؤ هم يوه خبره نه ده، هغه ځوان ته يې مخ وروا ړو ته سبا دفتر ته ورشه که يې کار نه در وکړی سبا دا وخت دلته راشه له دې سره سره حسن صاحب دچای او ډوډۍ هم ډېر ست وکړی ، خوموږ رخصت ځيني واخېستو ، ما و هغه ځوان دلته راغلو شپه مو تېره کړه په سهار مي و هغه ځوان ته يو څو روپۍ ورکړې ، دی چي دفتر ته ورغلی ؤ، کار يې شوی ؤ، بېرته راغلی، دومره خوشحاله ؤ، دومره خوشحاله ؤ له ډېري خوشحالۍ په جاموکي نه ځائيدو، له هغې ورځي زه پوه شوم ، چي سړي څنګه جوړېږي ، حسن صاحب غوندي اخلاقي خلک ، خلک جوړولی شي ،

8

# لویه لار ده څوک به راشي

د کوچني اختر ما ځیګر ؤ، د مولوي صاحب سره په دکان کي ناست وم ، په سړک د ماشومانو شر او شور ؤ ، د دوکان تر مخ ماشومانو هګۍ جنګولې ، د سړک پر هغه بله غاړه چي زموږ روغتون ته ور څرمه وه ، ډول وهل کېدو، زه په فکرونو کي ورک وم ، هغه د کلي اخترونه رایاد شول ، چي هګۍ به مو جنګولې ، اتڼونه به ؤ ، بیا سیلو ، مورکۍ او شهباز رایاد شول ، زما په خیال د مولوي صاحب ما ته خیال ؤ ځکه یې ږغ راباندي وکړو ،

مولوي صاحب : زو یه په سوچونو کي ورک یې ، لکه چي دي کور ، کلی او همزولي یادېږي ، ګرانه زویه ډېر سوچونه د صحت د پاره ښه نه دي ، انسان کمزورۍ کوي ، په کار دی چي له همت او محنت څخه کار واخلې ، حوصله ، همت او محنت داسي څېزونه دي چي انسان ته ډاډ ورکوي او انسان مخ په وړاندي بیاي ، خوشحال بابا وائي

که آسمان دي د زمري په خوله کي ورکړي
د زمري په خوله کي مه پرېږده همت

همت خو په تا کي شته ، زه باور لرم چي ته هر څه کولی شې ، زه ستا راتلونکی روښانه و ینم ، زه به یو څه روپۍ درکړم په ښارکي دکانونه اوسرایونه په اخله اوخرڅوه یې په دې کي یو خو ښه مزدوري کېږي او بل ښه تعلقات هم په کي جوړېږي ، خدای ﷻ مهربانه دي ، ستا آرمانونه به پوره شي ، ...........................

دغه رنګه مولوي صاحب پیسې راکړې ، او ما خپل کار وبار شروع کړی ، خو د ډاکټر مزدوري مي پرې نه ښوده ، هغه ځکه چي ډاکټر په ډېر سخت ساعت کي له ما سره مرسته کړې وه ،او ما له ډاکټر

څخه ډېري زدکړي لاس ته کړی وي ، څه وخت پس د ډاکټر او مولوي صاحب په خوښه ما ځان له ځای جوړ کړو، خو بیا هم زما او د مولوي صاحب خوراک څښاک په یوه ځای ؤ، د خدای ﷻپه فضل سره مي کاروبار ورځ په ورځ مخ په وړاندي تلو ، یو ورځ مي له ځان سره اراده وکړه چي کور ته لاړ شم .

زه :- مولوي صاحب سبا که خېر ؤ ، کور ته ځم ، ګوره چي مورکۍ اوسیلوجانه به څنګه وي ، زه چي کومي پېسې ورلېږم په هغه د دوی ګزاره کېږي که نه ؟، شهباز هم دوې میاشتي نه دی راغلی ، له کلي بل څوک هم نه دي راغلي ، نه د دوی په ما حال شته نه زما په دوی ، که خدای کول سبا روانېږم ، په دې سهار مي غوټه هم تیاره کړله

مولوي صاحب :- ګرانه په غوټه کي څه دي ؟،

زه :- دامي د مورکۍ ، سیلوجاني اوبل زما د ډېرګران ملګري د ټول کور تحفې او جامې دي ،

مولوي صاحب :-تر هغه مه ځه زه چي بیرته نه وم راغلی،.............

ما لا ځان نه ؤ تیار کړی چي مولوي صاحب راغلی یوه غوټه یې په شا وه

زه :مولوي صاحب دا څه دي ؟

مولوي صاحب :- دا ستا د مورکۍ جامې او څه نور شیان دي

زه : مولوي صاحب زه خو په دې خپله غوټه حیران وم چي څنګه به یې ترکوره رسوم تا نوره لا هم را درنه کړه،

مولوي صاحب :- خېر دا وار څه زحمت یوسه بل وار که کلي ته تلې که خدای ﷻ کول په خپل موټر کي به ځې مولوي صاحب غوټه راسره راوخیسته بازار ته را ووتو دلته یې زه د آس په ټانګه کي سپورکړم ، دی رخصت شو ، ټانګه روانه شوه یوخو زه اول د کور په تللو دومره خوشحاله وم چي انتها یې نه وه ، هغه د آس د

قدمونو د ټک ټک آواز بل د سهار وختي نري شمال زما په خوشحالي کي نوره اضافه هم وکړه ، ما ته يو ځل هغه خبره را ياده شوه ، چي له ډېري خوشحالۍ سړی کله کله مړهم شي بيا به هغه خبره را په زړه شوه ، چي په ډېري خوشحالۍ پسي هم سړي له غم راځي ، بيا به مي سوچ کاؤ ، چي نه دا هسي ستا په ژوند کي اول وار دی ، چي خوشحالي دي په برخه شوه ، کور ته د تللو خو دومره خوشحالي هم نه ده ، هو خوشحاله ځکه وم چي يو خوا مي کاروبار په مخ روان ؤ ، بل مي جېب له روپيو او غوټه له کاليو ډکه وه ، زه لا په دې کشمکش کي وم ، چي اډې ته را ورسېدم ، په بس کي کښېنستم دا ورځ مي سفر هم په دې خوشحالۍ کي را وکړی چي خپلي اډې ته راغلم پر سړک کښته شوم ، خپله غوټه مي په شاکړه چي ډېره درنه وه يوار به کښېنستم د لږ څه دمې روسته به مي بيا په شا کړه ، په دې ډول مي خپل تګ کاؤ ، ماځيګر د بهرام کلي ته را ورسېدم ، يو وار مي لاپه خيال کي راغلو، چي د يو کور ور وټکوه ، چي يو څوک اوبه راوړي ، بيا مي وئيل چي اوس خو هغه څاه هم نزدې دی پرکوم چي ما ا و مرجان اکا اوبه څښلي وې ، بې اندازې تږی وم ، څاه ته چي ورنزدې شوم پرڅاه يو څه ښځي او نجونه ناستي وې ،چي ګډې او منګي يې ډکول ، زه بېرته راغبرګ شوم ماوئيل چي دوی لاړي شي ، بيا به ورشم اوبه به وڅښم ، راغلم د خپلي غوټي و څنګ ته کښېنستم ، دوی ته مي شا ورته کړه ، لږ وخت پس مي تر شا د شرنګ ړ.غ تر غوږ. شو، ما وئيل ښه شو چي اوبه ورګي[5] رواني شوې خپلو کورونو له ځي ، ښه په قراره به ځان اِوبه کړم ، خو د شرنګي آواز وار په وار رانزدې کېدؤ ، چي مي څنګه مخ ور اړاؤ تر هغه له مخه يو چا زما پر يوه اُوږه لاس راکښېښودو ، او بل لاس يې مخته راواړاؤ چي د اُوبو ډک کټوری يې په کي نيولی ؤ ، ما چي دا ګوتي وليدې چي کټوری يې په نيولی ؤ ، ماته هغه وخت دغه کاکړۍ غاړه رايادە شوه،

[5] هغه ښځي چي اوبه وړي

او به را که تر ټيکري
ګوتي ده خورم پرکټوري

زه په سوچونو کي شوم ، ما وئيل چي کوم چا دا لنډۍ د کوم چا د پاره وئيلې وي د هغې به هم دا رنګه سپيني نرۍ اوږدې ګوتي وې ، سپين مړوندونه ، له سرو او شنوبنګړو به ډک ؤ ، زه په دغه سوچ کي وم ،

**پيغله** :- دا اُوبه وخيښه بلا وهلې ، لويه لار ده څوک به راشي زما ترخوله ږغ نه خاتو ، لکه چي ژبه مي ګونګه شي ، دا تر مخ را تېره شوه ،

**پيغله** :- ته اُوس ګونګ يې که څه ؟ باد يې پلو له مخ لري کړو ، ما چي يې مخ وليدو هغه حال هم پرا ودرېدو ، زه د دې نجلۍ ښائست ته ګوته په غاښ شوم ، دې حسن ته فکر يووړم ، ما وئيل ياخدايه داسي حسن هم شته ، تک سپين مخ سرې نرۍ شونډي لکه د ګلاب ګل ،نرۍ جګه پوزه پرشونډو پاس داسي ښکارېده لکه پر يوګل چي کمبلۍ ريږږي ، ورځي او سترګي يې له تورو زلفو داسي رابېلي شوي وې لکه د ګلاب له بوټې چي دوې پاڼي رابېلي شوي وي ، زما کيفيت بلکل داسي شو ، لکه زه چي په يو ګلزار کي ناست يم يو د ګلاب ګل چي وينم ، پر هغه کمبلۍ ريږږۍ خو دې د اوبو کټورۍ خولې ته راپورته کړی ، ما هغه اُوبه وڅښلې ، دې خپل کټورۍ او منګی وا خېستو ،روانه شوه ، زه په ځان نه پو هېدم ، دا آول وار ؤ ، چي يو چا زما په زړه داسي اثر وکړو ، زه يې ټول خوله خوله کړم ، زه هم په دې ځای ناست وم ، دې به هم په وار وار تر شا کتل ، چي دا مي له سترګو ورکه شوه ، بيا را روان شوم ، خپله درنه غوټه مي په شا کړه د کور په لوري روان شوم ، هغه ښائست مي تر مخ دوري دلي کېدو ، خدای خبر دې نجلۍ څه جادو را باندي وکړو ، او هغه خبره لويه"لار ده څوک به راشي " مي په غوږونو کي آذانګې کولې ، په لاره نه يم پو هيدلی ...... کور ته

چي ځنګه ور ورسېدم ، سيلوجانه د باندي ولاړه وه منډه يې کړه ، پر موركۍ يې زېرى وكړى چي لالا راغلى ، زه لا په وره كي وم ، موركۍ له خوني راووته مخ له راغله ماخپله غوټه كښېښوه ، دا راورسېده په غاړه كي يې غبرګ لاسونه راواچول سر يې زما پراوږه تم كړى ، په زوره زوره يې ژړل ، يو ګړى يې ژړل بيا يې يو لاس له غاړي وكښئ دا بل يې لا زما په غاړه كي ؤ ، د خوني په خوا يې روان كړم
موركۍ :- څه شوې زويه خو ستړګي مي ستا د راتلو په لوركړېږ شوې ........چي كښېنتم سيلوجانه مي له څنګه كښېنسته ،
سيلوجانه :- لالا ما به هره ورځ ستا د راتلو لاره څارله موركۍ به هره ورځ وئيل نن راځي ، ته به نه راغلې ، ، مابه تر ماښامه ستا لاره څارله دا دى چي نن راغلې ، شكر دى ....
موركۍ :- ډېر سفر به دي كړى وي ، توري چاى در پخې كړم كه شنې ،؟
زه :- موركۍ توري چاى را پخې كړه ، ډېر وخت كيږي ستا د لاس چاى مي نه دي څښلي ، ..... موركۍ لاړه چاى يې پخولې ، سيلو جاني بيا د مرجان اكا تر كوره ځان رسولى ؤ ، زما د راتګ زېرى يې پرې كړى ؤ ، شهباز هم راغلى ،
شهباز :- مسافره آشنا ښه شو چي راغلې ، موږ دي ډېر انتظار كاؤ ، شكر دى چي روغ مټ راورسېدې ،
زه :- هو شهبازه وروره ښه په خېر را ورسېدم ، دا غوټه وينې ، دې غوټي ډېر ستړى كړم ، نن زما له قسمته بس كلي له نه راتلو ، له نيمي لاري بيرته ښار ته لاړو ، دا غوټه مي له پوري كلي څخه په شا راوړه ، په لاره ډېر تږى شوم ،................ زما قرار نه كېدو ما وئيل چي كله به د هغې نجلۍ داستان شهباز ته بيانوم ، چا چي زما په زړه كي د ميني اُور بل كړو ، او زما په زړه كي ځان ځاى كړو ،
..... موركۍ چاى راوړې ، شهباز موركۍ ته زما د راتګ مباركي وركړه ،

مورکۍ :- ګرانه زویه چي ته تللی یې شهباز زموږ ډېر خدمت کړی دی . خدای پاک دي جنتونه ورکړي ، تا چي کومي پېسې را لېږلي ، یا به دي ده ته ورکړي وې ، زموږ د کور ټوله ذمه واري ده په سر اخیستي وه ، ......

زه : - موره دا غوټه ، چي درې غوټي نوري پکښې دي یوه لویه غوټه د مرجان اکا د کور ده ، شهباز چي کور ته تلی ور یې کړه چي یو یې سي ، په نورو غوټو کي ستا او د سیلو جاني کالي او نور شیان دي ........

مورکۍ دومره خوشحاله وه ، چي ما کله هم داسي نه وه لیدلې ، زما که څه هم زړه هغې پیغلي را څخه وړی ؤ ، خو د مورکۍ د زړه پاره به مي په زوره وخندل ، د ډوډۍ د خوړلو پس مرجان اکا او د شهباز مور هم راغلو ، مورکۍ ته یې زما د راتلو مبارکي ورکړله ، مورکۍ زما تحفې هم ورکړلې ، بیا رخصت شول، زه او شهباز بلي خوني ته لاړو ، زما صبر نه کېدو ، ما وئیل کله به شهباز ته د زړه حال وایم ، په خبرو خبرو کي مي ځان هم دغې خبري ته ورساؤ، کومي چي زه بې قراره کړی وم ،

زه : شهبازه زه یوې خبري داسي بې قراره کړی یم ، چي له مایې عقل او فکر دواړه تښتولي دي، تاسو به وئیل چي مینه هم یو شی ده ما به نه منل ، یاره نن چي کورته راتلم ، ډېر تږی وم ، هغه کیسه مي ټوله ورته وکړله ،

شهباز :- اول خودي له ښځو دومره بد راتلو چي دوی به ناري درپسې وهلې تابه وئیل چي زما بدځیني کیږي ، داڅنګه پېغله وه چي ستا زړه یې په یوه نظر یوړی، خېر دی ورور خو دي نه دی خوړلی ، دا خو آسانه خبره ده ، خو دا معلومول په کار دي ،چي دا پیغله ده څوکه ، که د بهرام له کورنۍ وه ، بیا خو سوچ هم مه وهه ، که ده بلي کورنۍ وه بیا یې نو له پلار او خپلوانو سره خبره کولی شو، اُوس خو شکر دی دومره لرې چي ولور په ادا کړې ، اُوس ورشه آرام وکړه ، ستړی هم یې ، د دې معاملې حل به سبا لټوؤ ،

شهباز رخصت شو ، زه هم راغلم پرېوتم په سوچونو کي وم ، خو په

سوچونو سوچونو کي خوب راغلی ؤ، سهار مورکۍ لمانځه ته پاسولم، چي ځنګه مي چای و ښنلې ، شهباز مي له ځان سره کړی او د نجلۍ لټون مي شروع کړی ، د یو ترکیب نه پس زه شهباز سره روان شوؤ ، د بهرام کلي ته لاړو ، یو کور ته ننوتو ، زه یې د مېلمنو په خونه کي کښېنولم او دی کور ته ورغلو ، پوره یو ساعت پس یو ماشوم چای راوړې ،

زه :- جانانه نوم دی څه دی ، د چا زوي یې او شهباز دي څه کېږي ؟،..........

ماشوم :- زما نوم ګل خان د وز یر زوی ، شهباز مي ماما کېږي ....... زه لا په دې معلوماتو اخته وم ، شهباز راغلی ،

شهباز :- ګرانه معلومات خو مي څه نا څه تر لاسه کړو ، ما له خپلي خور ښځه حال وکړی ، دا زما د خور کور دی ، زما خور هره ورځ هم له هغه ځاه ښځه د ښنلو اُوبه راوړي ،کوم له چي ته پرون ورغلی وې ، ولي چي د کلي اُوبه تروې دي ، د ښنلو نه دي ، له خورکۍ ښځه مي تپوس وکړو چي پرون کومي پیغلي یو سړي ته په کټوري کي اُوبه ورکړې ، دې وئیل د بهرام لمسۍ ګلپاڼي ، ..... ما ورته وئیل چي هغه ځوان ګران ؤ ، هغه زما ملګری ګران ، دې وئیل چي د دې پلار او نیکه په دې نجلۍ سبق هم په کور کي وئیلی دی ، دوی یې د کور د باندي نه پرېږدي ، کله کله له نجونو سره له کوره پټه د سیل د پاره اوبو له ځي ، دا ځوان پرون له موږه ښه لري ناست ؤ ، موږ دا محسوسه کړه چي دا مسافر ډېر تږی دی ، زموږ له وجي دومره لري کښېنستی ، ګلپاڼي وئیل چي دا وګوره ځومره ښه انسان دی موږ ته یې شا کړه ، او په دې خوا ګوري هم نه ، زه اوبه وروړم ، موږ ورته وئیل چي ګڼلي پرې پرې یږده چي موږ لاړي شو ، دی به خپله راشي ، ځان به اوبه کړي ، دې وئیل نه، زه خا مخا ورځم ، کټورى یې واخیستو ورغله ، نوري نجونه رواني شوې ، زه دې ته تم شوم ، چي راغله ګونه [6] یې بدله وه ، تولہ لار

---

[6] شکل

يې د هغه ځوان له خوا خبرې کولې يو وار به يې وئيل ښه شو چې اوبه مې کړو، بيا به يې وئيل ، ښه ښائسته ځواني يې وه ، خدای ﷻ دې ځواني نه خزانوي ، بيا يې وئيل خدای پاک به يې بيا کله ديد را سره وکړي ،

زه :- شهبازه دا خو دي دومره معلومات را له راکړو چې ما سوچ هم نه شو کولی ، دا خبره خو لا ډېره ښه شوه ، چې د دې حال هم زما په شان دی ، بهرام څه کوې اُوس که د اورنګزېب عالمګېر لمسیٔ هم شي ، زه به واده ورسره کوم ، په دې کي زه لويه کاميابي و ينم ، ښه شو چې د بهرام لمسیٔ ده ، له بهرام سره زما زوړ حساب هم پاته دی ، ډېره مننه چې له ما سره دي په وار وار او په هر ځای مرسته کړې ده ، تا له ما سره دومره نېکۍ کړي دي ، چې سکنی ورور يې له ورور سره نه شي کولی ، زه ستا احسان هيڅ کله نه شم هيرولی ، راځه ورووره چې کور ته ځو ، سبا نه بل سبا تا ته يو ځل بيا د دې کلي په لور راتلل ګوري ، زه اوشهباز راروان شو ، ژړی ماځيګر ؤ ، د غره سايه ښه اوږده شوې وه ، غنم چا رېبلي ؤ ، چا اُوس لا رېبل په لؤ خپت ؤ، داسي ښکارېدو چې د للمي غنم ؤ ، زه د خپلي ګلپاڼي په سوچ کي وم ، شهباز په اوږه وټکولم ، يو سړی چې غنم يې ريبل ده هغه په خوا يې وکتل ،

شهباز:- دا سړی وينې دا غنم چې رېبي ، دا ستا د کاکا زوی بدرو دی ، ټول جائيداد بهرام ځيني لاندي کړی ، ..... ما هم له ډېره وخته بدرو نه ؤ ليدلی ، لږ ورته ودريدم ، والله چې ډېر مي تر زړه پرېوتی ، خو بيا يې هغه خبري رايادي شوې ، چې مورکۍ يې زهيروله او له موږه سره يې بد کړي ؤ ، زموږ ټوله مځکه يې بهرام ته ورکړې وه ، ځکه بې روغبړه تر تېر شوم ،.. په تلوتلو کي کلی ته راغلو ښه ډير نا وخته ؤ ، ټول خلک ويده ؤ ، شا و خوا داسي خاموشي وه ، لکه سړی چې په هديره کي ولاړ وي ، شهباز مي رخصت کړی ، زه کور ته راغلم ، دا شپه مي بيا د پرونۍ شپې په شان تېره کړه ، هغې خبرې مي په غوږونو کي آذانګې کولې ،بلا

9

# ستا مئين ستا خپل ، ګران

سهار چي له خوبه ويښ شوم اودس مي وکړی ، مسجد ته روان وم ،شاوخوا ، د مرغيو چونهار ؤ ، هوا تر او تازه وه ، د لؤنو موسم ؤ، غرمه به ډېره زياته ګرمي وه ،ځکه ده سهار باد ډېر ښه لګېدو، د سهار له لمانځه او قرآن شريف د ترجمعې روسته مي له مولوي صاحب او نورو کليوالو سره روغبړ وکړی ، کومو کليوالو چي نه پېژندم ، مرجان اکا له هغو ټولو سره زما پېژنګلوي وکړله ، د سهار چای مي د مرجان اکا په کور کي وڅښلې ، بيا له هغه ځايه ما او شهباز راووتو ، په دې ورځ ما غوښتو چي د کلي سېل وکړم ، په کلي کي کوم کوم بدلون راغلی دی ، د شهباز دوی د کور په کونج چي راوګرزېدم ، هغه پخوانی ډګر او هغه د توتانو وني نه وې ، په هغه ځای سرای جوړ شوی ؤ ، زه چي مخ په وړاندي تلم ،د کلي نقشه هغسي نه وه کوم چي ما ليدلې وه ، يو خوا د ماشومتوب هغه واړه واړه ، يادونه هغه بيتي ، بدۍ ، ....او بل خوا مي د ګلپاڼې څهره نرۍ توري ورځې ، جګه پوزه ، په کتوري تاؤ شوې سپيني ښائستې ګوتې ، مرمرين مړوندونه چي ما د برېښنا د څرک په رفتار کي لېدلي ؤ ، هغه مي تر مخ دلي دوري کېدو ،

شهباز :- ياره چي له کوره راوتلي يو ، هيڅ بڼ غ او بڼ وغ دي نشته ، زه وايم مه يې کوه اوس به بڼ غ وکړې ، اُوس به بڼ غ وکړې ، خو ته په داسي سوچونو کي ورک يې چي زه دي هم هير شوم ، څنګه د هغې ګلپاڼې په هقله دي څه سوچ وکړو ؟

زه :- شهبازه زه تا څنګه هېرولی شم ، زه داسي سوچ هم نه شم کولی ، يو خوا هغه د ماشومتوب سوچونه دي ،هغه لوبې ، ببر

سرونه ، شلېدلي جامې به په خاورو کې غورزېدلي ۇ ، هيڅ غم ډم به نه ۇ ، او بل خوا مې د هغې ليونۍ سوچونه زوروي ، له کومه راغله ښه ساده سړی وم ، خدای خبر چې څه جادو یې راوکړی ، چې یو ساعت مې له خياله نه وځي ، ...... ......هغه خو په ليک پوهيږي ما له ځان سره يو فيصله وکړه چې د قلم په ژبه خبري ورسره وکړم ، او دا ليک رسول هم ستا کار دی ، خو په ډېره هوشياري ، ولي ته پوهيږي چې هغه څنګه خلګ دي..؟

دشهباز يې کور ودان و دې فرمان ته يې هم غاړه کېښوده ، دا ورځ مې ټوله په کلي کې تېره کړه ، په کلي کې لکه چې په کورونو ،عمارتونو کې بدلون راغلی ۇ ، هم دغه رنګه مې په خلګو کې هم بدلون محسوسه کړو ، په دې ورځ مې له ډېرو سپين ږيرو، مشرانو او ځوانانو سره لېدل ،کتل وشو، د مولوی صاحب او ډاکټر صاحب د روزني په وجه ما اُميد کولی شو ، چې په ځوانانو کې د مينې ، وروری،خلوص ،انسانيت او يوالي جذبه شته خو لږ څه مرستي ته بيا هم ضرورت لري ، ماخوستن کور ته راغلم ، شهباز هم راسره ۇ ، ډوډۍ مې و خوړله ، شهباز ته مې رخصت ورکړو،د لمانځه پس مې دغه نازولی قلم راواخيستو " کوم چې اُوس هم زما په لاس کې دی" څراغ مې رانزدې کړو، او خپلې ګلپاڼي ته مې خط ليکل شروع کړو ، دا ليک مې داسي ليکلی دی چې څه مې په زړه راغلي هغه مې په کې ليکلي دي ،



د يو داسي عاشق له پلوه ، چې ستا يو ديدن يې زړه او عقل دواړه يوړل.

زړه ته نزدې او له سترګو لرې ،زما ګراني ......................

سلامونه

پس له سلامونو ته به فکر کوې ، چې زما نوم يې ولي نه دی ليکلی ، ته به وائې چې دا څوک دی ، چې دومره ژر په يوه ديدن يې زړه وبائللو ، ته به دا سوچ هم کوې چې زما درک چا ورکړو ، ته به دا سوچ ضرور کوې چې زه هم له ده سره مينه کوم دا ورته وئيلي چا

دي ، ګراني دا يو حقيقت دی ، چي زما او ستا مينه له يو بل سره د
زړه او حقيقي مينه ده ، هغه ځکه وګوره چي دا څنګه وشو ، زه
چيرته وم ، ته چېرته وې ، بيا دومره ژر ما درک څنګه پيدا کړو ، دا
واقعي يو کرشمه ده ، ګراني له کومي ورځي چي مي ته ليدلې يې ،
او ستا د لاس اُوبه مي څښلي دي ، له ځانه ورک شوی يم ،هر وخت
مي ستا روښانه ګلور ينه څهره ، سرې شونډي ، مرمر يني ليچي تر
سترګو دلي دوري کېږي، سپيني ګوتي دي په کټوري را تاؤ شوي
وې ، هغه وخت ما ته دغه کاکړي لنډۍ را ياده شوه ..

اُوبه راکه تر ټکري
ګوتي دي خورم پر کټوري

دا مي تش په زړه ؤ، زما ژبه بنده وه ، له ځانه ورک وم، يو خوا
ستا ښائست او بل خوا ستا اخلاق او زړه سوي زه ډېر متاثره کړم ،
ګراني يقين وکړه چي ما تر ننه له يوې نجلۍ سره نه خبري کړي ،
نه مي له ملګرو سره په دې هقله ملګرتيا کړې ده ، خو نه پوهېږي
چي تا څه جادو را باندي وکړو ،
د ليک په سر کي مي ستا نوم ځکه نه وليکو ما ستا نوم ګلپاڼه
آورېدلی ؤ ، ما وئيل دا به يې کورنی يا د ناز نوم وي ، اصلي نوم به
يې بل څه وي ، کېدی شي ښه يې ونه ګڼي
ګراني ستاسو له کورنۍ سره زما ډېره زړه رشته ده ،خو زما او د
دې ليک په هقله د کورنۍ وګړو ته هيڅ ډول ذ کر مه کوه ، زه خبر
يم چي ته هم له ما سره هومره مينه کوې کوم چي يې زه کوم ، ګراني
کوم چا چي دا ليک در کړی دی ، هم وهغه چا ته د دې ليک جواب
په لاس ورکړه ، خو دا هر څه به ډېر په احتياط سره کوې ، ولي چي
تا ته خو د پلار او نيکه طبيعيت ښه معلوم دی، هسي نه وي کور
دي داسي بنديوانه کړي چي د خلاصون لاره دي نه وي ، يا دي زما
له ضده په يوه داسي بلا واړوي ، چي زما او ستا هيلي او آرامانونه
د تور ښامار غوندي ونه خوري ،
ستا دليک په انتظار
ستا مئين ستا خپل ، ګران

10

# نوي کور ته راورسېدو ،

لیک مي لکه د مولایانو تعویز په درې سپینو جامو کي ونغښتو تر بالښت مي لاندي کړو ، ویده شوم ، او په دې سهار مي دا لیک د شهباز په لاس ورکړو ، ما دوې شپې په کلي کي تیري کړې ،شهباز په هغه ماخوستن بیرته راغلی ، د ګلپاڼي د پاره یې خط د خپلي خورکۍ په لاس ورکړی ؤ، کور ته خو زه راغلی هم په دې نیت وم ، چي مورکۍ او سپلو جانه له ځان سره ښار ته بوزم هم د دې مقصد د پاره مي په ښار کي ځای اخیستی ؤ، په دې مرجان اکا او شهباز خبر ؤ ، په دې دویم ماخوستن زموږ د ټول کور ډوډۍ د مرجان اکا کره وه ، په مرجان اکا دي آفرین شي ، د دې سړي ښه او احسان زه هیڅ کله نه شم هیر ولی ، که دا سړی نه وی خدای خبر موږ به په کلي کي څنګه وخت تېر کړی وی ، په وار وار دې سړي له ما سره ډېر ښه کړي دي ، په دې ماخوستن د ډوډۍ خوړلو په وخت ،

مرجان اکا: ګرانه دا نمک مي تر مخ پروت دی ، ما تر ننه په تا او په شهباز کي فرق نه دی کړی ، ته چي بارېږې هم داسي راته ښکاري لکه شهباز چي بارېږي ،ګوره بچیه چي هیر مي نه کړې ، د ښار ژوند ډېر ګران دی ، ډېر په خیال او په پام به قدم اخلې ،..... د مرجان اکا سترګي له اُوښکو ډکي شوې ، خداي پاک مو دي د دې خلګو په حق نه نیسي واقعي هم چي بابک خو لا پخوا وفات شوی ؤ

، دې سرې ما ته بې انتها مينه راکړې وه، ما خپل دسمال را واخيستو
د مرجان اکا اوښکي مي ور پاکي کړې ،
زه :- کاکا خداي پاک خو شته ، ما کله هم دا نه ده محسوسه کړې
چي ته زما او د شهباز تر منځ فرق کړی دی ، زه د خدای پاک ډېر
شکرګزاره يم ،چي ستا غوندي دنيک ايماندار سړي همسايه ئې کړم
، زه ستاسو نيکۍ هيڅ کله نه شم هيرولی ، دا خو زما کور دی او
کلی ، دې ته خو زما ضرورت دی ، زه به تل ځم او راځم تاسو به
راځی ، دا تګ به تل تر تله ، قائم او دايمه وي ، ........
ښه نا وخته کور ته راغلو ، د کډې تياري مو له ورځي لا کړې وه ،
د کور شيان ټول شوي تيار پراته ؤ ، مورکۍ او سيلو جانه ويدې
شوې ، زه دې شيانو ته تر ډېره ناست وم ،يو هغه کډه چي زه په
خره سپور وم، مامک ، نيکه بابا ،کلی د هغې شپې يخ ، هغه د
مورکۍ ټرمي ټرمي اوښکي ، او اوس دغه کډه ښه په خوشحالي په
خپله خوښه د مورکۍ په صلا ح ، هر څه په خپل ځای صحيح دي ،
خو يو د هغي ليونۍ ملګرتيا لا نيمګړې ده ، چي زه يې له خوب او
قراره ايستلی يم، په سهار چي لا ملا عبدالخالق آذان نه ؤ کړی د
مورکۍ بيا ړ غ ؤ ،
مورکۍ :- ګرانه زويه پاسه نا وخته کيږي ، بس را نه شي ،
بستري مو ټړلي دي ،د لمر ختلو په وخت شهباز د شهباز مورکۍ او
مرجان اکارخصت له راغلو، په پوري کلي کي د بس هارنونه ؤ ،
موږ هم د کور ټول سامانونه رايستلي ؤ ، بس راغلی ، ودرېدی ،
مرجان اکا او شهباز يو څو نور کلي وال هم راغلي ؤ، له هغو څخه
مو رخصت واخيستو، او بس ته وختو ، په سفر مو شروع وکړه ، زه
خاص د بس و کړکۍ ته کښينستم ما و ئيل چي دوی به وينم ، دوی تر
هغه وخته ښکاره کېدو ، چي بس پاخه سړک ته وخوت ، بس ډک ؤ
، شر او شور هم په کي ډېر ؤ ، زما تر څنګ يو سپين ږ يری سړی
ناست ؤ ،لږ څه لا سره وږغېدو ، خو چي کله بس پاخه سړک ته
وختو ده و مخامخ سيټ ته سر وواهو او ويده شو ،کور يې ودان زه
يې د خپلي ګلپاڼي سوچونو ته يواځي پرېښودم ، ما خپل خواږه خواږه

سوچونه وهل ، کله به مي د ګلپاڼي په غيږ کي سر ايښي ؤ ، کله به مي د ګلپاڼي په اروبل لاس تېراؤ ، زه به هغې غوټي ته ناست وم ، ګلپاڼي به په کټوري کي اُوبه راکړې ، زه په سوچونو کي ډوب وم ، چي بس درېدلی ؤ، د منشي ناري مي تر غوږ شوې چي هلئ هلئ را کښته شئ، د ډوډئ او لمونځونو وخت دی ، زه يې د ګلپاڼي له سوچونو وايستم ،را کښته شوم ،لمونځ مي وکړی ، مورکئ او سيلو له مي هم ډوډئ ور وړله ، بيا را وختو په سفر مو شروع وکړله ، زه بيا په سوچونو کي تللی وم ، هغه زما د سيټ همسفر سپين ږيري وښورولم،

سپين ږيری :- ځوانه څه در کېږي ، يوار مخ کي زما سترګي سره ورغلي وې ستا په خندا را ويښ شوم ، له ځانه سره دي خندل ، اوس بيا له ځان سره ږغېږې خبر دی څه درکېږي ، ناروغه يې ، نه ناروغه خو هم نه راته ښکارې ، زما په خيال زړه دي بائيللی دی ، ............ دا حقيقت ؤ ، چي زه په سوچونو کي داسي ورک شوی وم ،چي له ځانه نه وم خبر ، خدای خبر ما څه ګڼلان پاشلي وي ، څنګه څنګه خبري مي تر خولې وتلي وي ،ځکه مي د دې کاکا د خبري جواب ور نه کړو ، څه وخت پس ده بيا تپوس وکړو ،

سپين ږ يری :- ځوانه زما د خبري جواب دي را نه کړو، پروا نه لري ، که دي زړه بائيللی وي هم څه خبره نه ده ، مينه څه بد کار نه دی ، ما صرف دا وئيل چي داسي کيفيت يوازي د ميني په حالت کي وي ، زما ږ يره هسي نه ده سپينه شوې ، په ما هم ډېري خوارئ راغلي دي ، له دې خوار يو سره سره مي د ميني خوند هم کتلی دی ، که مئين يې خدای دي آرمان پوره کړه ، خو دا راته ووائيه چي ما ته خو د دې ځای نه ښکارې له کومه راغلی يې په کومه ځې،

زه :- کاکا زه د لنډي کلي يم ، اوس ښار ته بارېږم ،ز يات وخت مي په ښار کي تېر کړی دی ،

سپين ږيری : - په لنډي کلي کي خو ما هم ډېر وخت تېر کړی دی ، هغه وخت په دې خلکو کي اتفاق نه ؤ ، د دوی د بې اتفاقئ په وجه خلکو د دوی مځکي په خپله ولقه کي راوستلي وې ، په دې کلي کي

ما داسي سړی نه کړو پیدا چي یا دا نفاق له منځه یوسي او یا له دې خلکو خپل حق واخلي ، یو وخت کي یو سړی ؤ ، چي له دې خلکو سره یې تر خپله وسه مقابله وکړه ، خو یواځي ؤ ، څه یې کولی شو ، بیا دوی داسي چل ورسره وکړو چي غر یب یې د بل وطن خاوري کړو ، په کومه ورځ چي هغه سړی تللی دی ما هم کلی پرې ښی دی ،اوس په ښار کي اُوسم ، د هلکانو د مکتب تر مخ مي په رېړۍ کي ورځي خرڅولې ، او په ماشومانو مي سبق وایو اُوس مي یو زوی په حکومت کي په ښه چوکۍ دی ، او نور مکتب وائي ، په ښار کي ښه د راحت ژوند تېروم ، ښار که هر رنګه وي دا رنګه مخامخ زور څوک نه شي په کي کولی ، لکه په کلي کي ،

زه :- هغه سړی څوک ؤ ، او دغه خلک څوک دي ، څه یې ورسره کړی ؤ، دې خلکو ؟،

سپین ږیری :- دا ځوان بهادر نومېدو ، په ښه مسته ځواني کي د دې خلکو له لاسه پوري هیواد له لاړی ، د ده یوه خور وه ، بهرام خو پېژنې ، ؟ هغه ورته وئیل چي دا خور دي زما د زوي د پاره غواړم ، هر څومره ولور چي غواړې درکوم یې ، بهادر پوهېدو چي له دې خلکو سره زما نه کېږي دا هسي یو بهانه درته جوړوي ، ځکه یې خپله خور نه ورکوله ، هغو ظالیمانو له شپې په زوره ځیني یوړه، آفسوس چي کلیوالو هیڅ و نه کړل ، بهادر ټولو ته وئیل چي راسئ زما په غم راسره شریک شئ دوی یې ملګرتیا نه کوله ، زه په اصل کي د دې کلي نه یم ، موږ شیخان یو ، زما ور نیکه هیندو ؤ ، ډېر پخوا کلي ته راغلی ؤ ، بیا یې دلته اسلام قبول کړی ؤ ، بهادر زما ډېر په زړه پوري یار ، بلکه ورور مي ؤ ، چي کله بهادر له دې کلي تللی دی ، زه هم تللی یم ، پرون په یو ډېرضروري کار پسي راغلی وم ،دا دی نن بېرته روان یم ، ............ دا رنګه دې کاکا تر ښار راتلوپوري د کلي په باره کي ډېر معلومات راکړو ، د دې سړي خبرو زما په معلوماتو کي ډېره اضافه وکړله ، زه په هغه پټ رازونو هم خبر شوم ،چي تر دې له مخه ما ته چا نه ؤ بیان کړي ، اوس نو ګلپاڼه لاس ته کول زماکه مخ کي مینه وه ، اُوس مي د

بابک خورځه ، او د انتقام ذریعه هم شوه ، خو بیا مي هم سپین ږیري ته ځان نه ور وپېژندلی ، خو د ده د ناستي او اوسېدلو ځای په هقله مي پورا پورا معلومات لاس ته کړل ، بس په تم ځای کي ودرېدو ، هغه د بابک ریښتونی ملګری مي رخصت کړو ، او موږ په ټانګه کي را سپاره شوؤ، د ښار نوي کور ته راورسېدو ،

11

# شکر دی ښه ګزاره مي کېږي

دا کور نو د کلي تر کور په لسګونه ښائسته        ؤ  ، مورکۍ ډېره
خوشحاله وه . د مورکۍ په خوشحالۍ کي زما د زړه قرار موجود ؤ،
د ښار  ژوند په حقیقت کي  د کلي تر ژوند ډېر راحت مند ؤ، او ماته
هم خواړه  تیار رسېدل ،نور نو هیڅ قسم غم او تکلیف نه ؤ ، بې له
ګلپاڼي ، د ګلپاڼي یادونو  به مي شپه او ورځ په زړه منګولي ښخولې،
خوب ته به یې نه پرېښوولم ،هغه څهرې  مي په زړه کي عکس جوړ
کړی ؤ، دوې درې ورځې زه له کور ه نه ووتم ، له مورکۍ او سیلو
سره مي د کور لوښي موښي سمول، او په کور کي مي ټک ټُک کار
کاؤ، د وسي موسم شروع شوې ؤ، دا کال وسه تر نورو کلونو ښه  په
زور کي وه ،په څلورمه ورځ  ښار ته ووتم ، د مولوي صاحب
دوکان له ورغلم ، له مولوي صاحب سره مي لیدل کتل وشول ،
مولوي زموږ په کډه ډېر خوشحاله شو ، بیا ډاکټر صاحب له ورغلم ،
ولي دا زما هغه استادان ؤ ، د چا له لاسه چي ما دا دومره شهرت،
دولت  او عزت وموندو، چي د ډاکټر له دکان څخه را وتم ، غیبانه
اکا له ورغلم،  غیبانه اکا سپین ږیری  ، پرملاکږوپ نرۍ وړانګۍ
ږیره یې وه ، شنه  زړکۍ لونګۍ به یې پرسرتړلې او نه پېچلې وه ،
مانا دا چي د کلکي  وېشتان به ترې وتلي ؤ ،ده به د روغتون  تر مخ
پر تړه پټاټې ،او  پیاز خرڅول ،دی  ډېر خوش اخلاقه او ګپاؤ سړی
ؤ، له دې سړي سره زما ګپه آزاده وه ، دا مي هم ډېر ښه ملګری ؤ ،
ډاکټر بیا داسي نیک انسان ؤ ، چي بې  کوره او در په دره خلکو
سره یې ډېر ښه کول ،غیبانه اکا بې له څه کرایې د روغتون  په تړه
خپله مزدوري هم کوله او پټاټې او پیاز یې د دوائي د ګودام تر څنګ
بله خونه کي چي ډاکټر ده ته ورکړې وه په هغه کي ږدل ، له  غیبانه
اکا سره په ګونۍ  کښېنستم ، له غیبانه اکا سره په ګپه اخته وم ،  ګپي

موکولي هم په دي ډول وخت تېرېدی یو دم  پرآسمان غټ توراوسپین اووره  راپورته شول ، ور  یځ جوړه شوه ، یوګړی پس اسمان خړا وتور پرله  واوښتی  د تنا درزا  ؤ ، برېښنا کرږه ورږه پکښي کېده باران دومره رانزدي شو ،چي د له هوا سره به د باران واړه واړه څاڅکي ترموږه رارسېدو
غیبانه اکا:- دا ګونی ونیسه ...... د پیازو ګونی مي تردوو کونجانو ما او تر دوو  ده ونیوه  ،  د روغتون   هغه خوني له  مو یوړه  کومه چي ډاکټرده ته ورکړې وه د پیازو ګونی مو په دي ډول یوړه  د پټاټو ګونی لا پاته وه  ، چي باران هم په شړپ راورسېدی  ، ده  پر پټاټو خالي ګونی هواره کړه  په  منډه منډه روغتون  ته دننه راغلو،
زه : غیبانه کاکو پټاټې خو دي باران ته پاته شوې ،
غیبانه  :- پرېږده  پټاټې هم ترما اؤ ګل بي بي نه دي افضله  ما اوګل بي بي  یوه شپه و باران ته تېره کړه  پردوی خوبیاهم ماپښین دی
زه  :-   غیبانه کاکو هغه ځنګه ؟  ستا په خبرو زه ځنکه  باور وکړم ؟ ......
غیبانه  : - که یې نه منې راځه ګل بي بي د دنیا سیاله ده  ویې پوښته ،
زه : نه نه غیبانه اکا زه ګپه درسره کوم ، ولي به ستا په خبرو باور نه کوم ، ته کیسه راته وکړه ،
غیبانه اکا :-   نو راته غوږ شه ، په کوم کلي کي چي زماکور ؤ ، هغه کي ټولي غټي غټي کلا ګاني وې ، ترمیان یې کوڅې وتلي وې ، په دې  کي د یوې کلا ځای خالي پاته ؤ ،چي کلا نه وه پرې  جوړه شوې،  زه ورغلم  دا ځای مي د  هغه  ځای له خاوند څخه په خواست وغوښتی ، چي  زه د سرای د باړې وس نه لرم ته که مهرباني وکړې داځای راکړې ، زه به تر هغه یوجوګی پرجوړه کړم ترڅو چي یې ته جوړوې ، د هغه یې کورودان  رایې کړی  ماجوګی پرې جوړه کړه،  چارپیره مي کېږې پر   وګرز ولې ورکډه شوم  ،د دې مخامخ  کلا والا  زما جوګی  دلته  نه خو ښېده  ، هغه ډېر بد سړی ؤ

، خلک ډېر ځيني ويريدو ، د به هميشه وئيل چي ته زما دا ښائسته کلا ، دا ښائسته ګېټ ، ته راغلې د دې ومخ ته دي جوګۍ جوړه کړه ، خو ده که به هرڅه وئيل ماسرنه خلاصاؤ، ما وئيل که يې کوم ورځ په زور ايستم بيا به ورته ګورم ، زما نو څه کډه وه ، د لږم کډه مي وه ، خپله لکۍ به مي په شا اړولې وه، بس ، يوه شپه داسي د سهارګاه خوا ته د تنا درزا وه ، چي راووتم توره تياره وه ، يو يو يوار به بريښنا پراسمان کړه وړه شوه رڼا به يې وکړه ، ما ګل بي بي وړ غوله ، ښځۍ که يوشی د باندي شته ، دننه يې راوړه ښکاري ډېر زوَرور باران را روان دی ، چي ګل بي بي راو ييښېده هوا را ورسېده له هوا سره سم د باران غټ غټ څاڅکي هم را ورسېدو هوا او باران به څه ؤ ، يو طوفان ؤ ، چي جوګۍ يې پورته پورته کوله ما او ګل بي بي لا ډېرکوشش وکړی چي د جوګۍ اوچې ټينګي ونيسو ، د ګل بي بي کلمې وئيلې ، يووخت د ګل بي بي چيغه شوه چي ونړېده ، ماهم خپله نيولې اوچه پريښوه پردې مي ړ غ کړی چي جانو راواخله بس پرېړده يې جوګۍ و نړېده دې جانو په غېږ کي واخيست مخامخ ګېټ ته ورغلو ور مو ټکولی ،ټکولی ، دوی راخلاص نه کړی ، موږ تر هغه ور ورډباؤ ، چي باران درېدو څه مو کړي وی ، مجبوري وه ، جانو ژړل مور يې د دې کلا خاوندان ته ښېراوي کولې ، چي باران و درې دی ، د سهار اذانونه هم شروع شو ، ما او ګل بي بي بېرته خپلي جوګۍ ته راغلو هغو بسترو کي مو يو وچ تلتک پيداکړی کو مي چي مو پرله وډلي وې جانوموپکي و يده کړی ما اوګل بي بي د جوګۍ په دريدو پيل وکړی چي لمر راخوت موږ هم جوګۍ بېرته ودانه کړه چار پېره نړېدلي کېږې مو ودرولې چي د مخامخ کلا خاوند راووت و ما ته يې راناري او لاس راووهلو ، زما داخيال شو چي خود دا پوښتنه کوي چي باران خو بيګاه شپه ډېر نه کړې په عذاب ، زه چي ورنزدې شوم د وخپل ګېټ ته لاس ونيولی وئيل يې راشه دا د مورڅه اوڅه دي ټول کړه ،او نور پوچ او رد يې ، هم ووئيل ، ما د ده له ګېټ څخه هغه باد وړي خاشې اوګډړان راټولول ده خپل

پوچ او رد وئیل څو واره مي درته ووئیل چي بارشه ، غائب شه ،
ژړ سترګې ، نه ته بارېږې نه دی د خره زوی کلا جوړه وي ، نه
دا مځکه پراخرڅوي، خا مخا مي زور ته مجبوره کوي ، دی خو
مي له زوره خبر دی چي بهرام څومره زور لري ، سپین سترګې او
بې شرمه سړ یه لس ورځو کي دننه دننه کده شه ، ما خپلي خاشې
راټولي کړې ، د خپلي جوګۍ په خواروان شوم د ټولي شپې باران
او یخ دومره زور نه راکاؤ ، لکه د بهرام ظالم دې خبرو، چي
راکاؤ ، نا وسه وم له دې زورور سره ما غریب څه کولی شوو ، را
روان شوم ، د ده خبري مي زړه لکه اغزي جګېدلې،............. د
قدرت کارونه دي ، په هغولنډوشپوکي زما د زړه زخم بېرته خدای
جوړکړی ، څو شپې لا نه وې تېري شوي ،زما جونګړه لا په هغه
ځای ولاړه وه ، چي له شپې مي په کوڅوکي دکوچنیانو ژړا وي
دخلګوهېځ هوئ آوازونه تر غوږ شو، را ووتم ما وئیل چي تپوس
یې وکړم ،چي دا اوس وجه څه ده ، هغه بهرام چي دباران په شپه
یې وماته ځای را نه کړو بلکې په هغه سهار یې پوچ رد هم راته
ووئیل ، زماده جوګۍ وڅنګ ته له خپلي ښځې اوماشومانوسره ولاړ
ؤ، وئیل یې زلزله ده ،زما ماشومانو ته ستا په جوګۍ کي ځای
ورکړه ، توره شپه ده پر کومه لاړ شم ، یو ځل مي لا جواب ورکاؤ ،
چي ستا په یاد دي د باران په شپه دي ور نه را خلاصاؤ ، بیا مي
وئیل نه بیا نو زما او د ده فرق څه شو ، او دا ماشومان خواران به
چیري ځي ، په خپله کېږدۍ کي مي ځای ورکړی ، د هغه شپې پس
یې یوه میاشت پله پسې د کلاګانو په منځ کي کېږدیاني درولي وې ،
له هغه پس یې بیا نه روغبړ راسره کړی دی ، نه یې د بارېدلو راته
وئیل ، خو له هغه وخته زما له دا رنګه خلکو نفرت وشو ، هسي ښار
ته را بار شوم ، شکر دی ښه را رسېږي ، خدای پاک ډېر ښه راسره
وکړو ، چي ستا او د ډاکټر غوندي ښه خلک یې را په برخه کړو ،
شکر دی ښه ګزاره مي کېږي ،

12

## ښه  په خوشحالۍ سره مي رخصت کړو.

چې باران تم شو ، په دې وخت کي د ماښام آذان هم  کېدو ، له غيبانه اکا مي رخصت را واخيستو ، د ماښام لمونځ مي په هغه جومات کي وکړو ،کوم وخت چي زه ښار ته په مزدورۍ پسي راغلی وم ، د ماښام لمونځ مي هم په دې مسجد کي کړی ؤ ، د لمونځ کولو پس کور ته راغلم ، د مورکۍ زړه دی،په ما پسي  ډېره خفه شوې وه، چي زه يې وليدم ، بيا يې تسلي وشوه ،دا شپه مي بيا د هغې ګل بدني په سوچونو تېره کړه ، سهار وختي راووتم، د مولوي صاحب په پېسو مي کار و بار شروع کړی ؤ ، کار وبار مي  ښه په مخ روان ؤ ، د هيڅ څه کمي نه ؤ ، نه د پيسو ، نه ده عزت ، که کمي وه خو يوائې د هغې مغزي ماتي کمي وه  ، چا چي زما په وجود کي د ميني او محبت اُور لګولی ؤ ، ښه د زړکي په تګ روان وم ، سهار ؤ، په سړک هم د خلګو او ګاډيانو شمېر کم ؤ ، د آس ټانګي له سوارليو ډکي وې ، څوک به له ښار ه تلو ، څوک به راتلو، د دنيا ژوند دی ، هر چا خپله ذمه واري تر سره کوله ، د آسانو د پښو د ترکي  لی داسي لګېدو ، خاص لکه يو  هنرمند چي په خپلو  هنرمندو ګوتو تبله ږ غوي ، د سهار شمال  او ګلپاڼي خوږو يادونو ، لا په دې  ماحول کي اضافه کړې وه  ، زما  د سهار وخت ډېر خوښ ؤ، ما وئيل کاش لمر تر قيامته ددې غرونو په سر ولاړ وی ، تل ترتل سهار وی ، دغسي تازه شمال وی ، خو داسي چيري کيدی شي ، په دې سوچونو سوچونو کي روغتون  ته راورسېدم ، ډاکټر لا نه ؤ راغلی ، غيبانه

اکا سره مي خبري اتري کولې ، یو ساعت پس ډاکټر هم راغلی ، زه هم ورغلم روغبړ مي ورسره وکړی ،
ډاکټر :- ګرانه اوس به دي وخت تېر وي ، اوس به چای او ډوډۍ تیار درسېږی ، شکر خپل کور لرې، مورکۍ به دي په ښار کي خوشحاله وي ،
زه :- ډاکټر صاحب خدای پاک دي تا او مولوي صاحب ته جنتونه درکړي ، کور مو ودان زه که نن هر څه یم ، ستاسو له برکته یم مورکۍ هر وخت تاسو ته دعاګاني کوي ،
ډاکټر :- نه ګرانه دا خو زموږ فرض ؤ، ما یوائې خپل فرض پوره کړي دی ، نور نو ما څه کړي دي ، نن ماځیګر زه هم درځم ، او بي بي هم درولم ، .... زه او ډاکټر په ګپه ؤ ، یو سړی خیرني جامې یې اغوستي وې ، یو ښځه هم ورسره وه ، د ښځي په غېږ کي یو ماشوم ؤ، چي د مرګ او ژوند په کشمکش کي ؤ، سا یې لنډه لنډه کېدله ، ږغ یې کښېنستلی ؤ، سترګي یې نه رپېدلې ، وچ کلک ؤ لکه لرګی ، ..... په دې ماشوم مي ډېر زړه وسو ، ډېر په خفه شوم ، د ډېر خفګان له وجي مي د سړي په خوا کتلي هم نه دي ، ټوله توجه مي د ماشوم په لوري وه ،
سړی : - اسلام وعلیکم ! دا ماشوم ، دا ماشوم ،
ډاکټر :- دا ماشوم خو زه وینم چي ناروغه دی ، دا را ته ووائیه چي څومره وخت یې کېږي ،چي ناروغه شوی دی ، ؟
سړی : - پنځه ، شپږ ورځي به یې کېږي ،
ډاکټر :- بیا تاسو تر اُوسه څه کول ، خو پر وخت به مو علاج ور کاؤ ، دا خو ډېر ناروغه دی ،څه رنګه خلک یاست نه د ځان خیال ساتی نه د اولاد،
سړی :- وس نه لرم ، په کلي کي مي ډاکټر ته ورښکاره کړو ، دښار وس مي نه در لود ... ....... داکټر ماشوم ښه په تسلي وکوت ، بیا یې د ماشوم وینه د معائینې د پاره ولېږله ، دلته مي د ماشوم پلار ته سترګي ور واوښتلې ، ومي پېژندی ، ولي چي څو ورځي مخکي

ما ته شهباز راپېژندلی ؤ، بدرو لالا ؤ ، خو ما ځان نه ور وپېژندی ، چي د ويني نتيجه راغله ،

**ډاکټر :-** وروه دا ستا بچی خو ډېر کمزوری دی ، د دې ماشوم يو داسي ناروغي ده چي د هغې ناروغۍ له وجي يې وينه کمه شوې ده ، زر تر زره د ويني بندوبست وکړه، ورشه يو څوک پيدا کړه ، چي دې ماشوم ته وينه ورکړي ، چي وينه ور ولګوم ، نور علاج به بيا ور کوم، ته زر تر زره د ويني بندوبست وکړه ،

**بدرو :** - ډاکټر صاحب زه په ښار کي هيڅ څوک نه پېژنم ، وينه له کومه کړم ، زما وينه ورولګوه ،

**ډاکټر :-** ورشه د تازه ويني بندوبست ورله وکړه ، ته خپله دومره کمزوری يې ده ته به ستا وينه هيڅ فائده ور نکړي ، ځه ځه وخت مه ضائع کوه ، د ماشوم حالت خرابېږي ....... د بدرو سترګي له اُوښکو ډکي شوې ، د ماشوم نا روغۍ او د بدرو اوښکو له ما هر څه هېر کړو ، د بدرو ټول بد مي هېر کړل ، ما وئيل چي دا ګلا لی بچ شي ،

**زه :-** چيري هم مه ځه ، ډاکټر صاحب زما وينه ورسره وګوره ، که ور سره برابره نه شوه ، که مي له هره ځايه پيدا کوله زه به وينه ورله پيدا کوم ........ د بدرو په مخ رڼا وغوړېدله ،ساه يې سمه شوه ، وريندارې دعاګاني شروع کړې ، چي وينه مي معائنه کړه زما وينه ورسره سمه شوه، ماشوم ته چي زما وينه ولګيدله ، په ماشوم کي ژوند پيدا شو ، سترګي يې ور پېدلې دلي دوري يې وکتل ، ګونه يې برابره شوه ،..... بدرو چي زوی په دې حال وليدی ، دعاګاني يې شروع کړې،

**ډاکټر :-** وروه ته به څلور ورځي دلې په ښار کي کوې ، سبا به يې يو وار بيا را ښکاره کوې ، که يې وينه پوره نه وه ،بيا به يو ګډی وينه نوره ور لګوؤ ،بل دا نسخه در واخله په دې کي ما دوائي در ليکلي دي ، دا ډير ه ګرانه ده ، خو د دغه دوائي بغېر يې علاج نشته،

بدرو :- صاحبه بس دومره روپۍ راسره وې ،چي پرون شپه مي په تېره کړه ، اوس يواځي ستا د مريض کتني پېسې راسره دي ، او د شپې تېر ځای هم نه لرم،
ډاکټر :- زه دمريض کتني پېسې نه درڅخه غواړم ، خو څو شپې به دلته په ښار کي خا مخا کوئ ، چي د ماشوم درک معلوم شي
....... بدرو ډېر پرېشانه ؤ ، ما يې نسخه له لاس څخه وکښه ، هغه د ډاکټر ليکلي شوي ټولي دوائياني مي وراوړلې ،
زه :- ډاکټر صاحب زه دوی له ځان سره کور ته بيا يم ، که يې مياشت کيږي هم ، ځای ورکولی شم ، کنې ځلور ورځي خو آسانه دي ، ...... دوائياني مي را واخيستې ، له ډاکټر څخه رخصت شوم ، بدرو او ور يندارہ مي په ټانګه کي کښېنول او زه هم ور سره کښېنستم ، .......... په لاري مي په خبرو خبرو کي له بدرو څخه د کور کلي او علاقې پوښتني هم وکړلې، په تلو تلو کي کور ته ورسېدو زه کور ته دننه شوم دوی را پسې ؤ ، د بدرو چي په مورکۍ سترګي ولګېدې ، په زوره زوره يې لکه ناوې وژړل ، د مورکۍ په پښو کي پرېوتی
بدرو :- ما معاف کړه ما له تاسو سره ډېر بد وکړل ، خو نن زما بچی د دې خپل ګران په وجه له مرګه بچاؤ شو ، ګرانه زما دي سترګي ووزي چي ته مي نه وپېژندلې ........ بدرو بالکل داسي ؤ لکه ماشوم يوار به يې زما په غاړه لاس واچاؤ بيا به يې د مورکۍ ،
.......
مورکۍ :- زموږ له حقه خلاص يې ، چي اُوس دي سوچ وکړو ،هم ښه خبره ده ، څومره بدل شوی يې ، ؟
بدرو :- صحيح يې وئيلي دي چي خپل خپل وي ، ما خو مخکي لا سوچ کړی ؤ ، خو د شرم له کبله نه شوم درتلی ، ما وئيل چي په کومو سترګو به ورځې ، دې به هر وخت وئيل چي دا پښه او کپۍ چي دي نه سره برابرېږي ، دا د هغو يتيمانو هزار دی ، زه په کومو سترګو راغلی وی ،له شرمه ستاسو کلي ته لا نه شوم درتلی ، په دې

خبر وم چي ګران ښار له تللی دی ، په دې نه وم خبر چي تاسو ټول راکډه شوي یاست ، ........بدرو او ور ینداره مورکۍ د آرام د پاره خوني له بوتلو ، د وینې لګیدلو او دوائیانو خوړلو پس ماشوم پوره جوړ شو ، بازۍ یې شروع کړې خندا یې شروع کړه د ماشوم طبیعیت هم ښه شو ، ماخوستن د ډوډۍ خوړلو پس مو خپلي کیسې سره کولې چي په ده څه تېر شوي ؤ ، او په موږ څه تېر شوي ؤ ،

بدرو :- زه چي کله له تاسو څخه تللی یم ښادي مي نه ده کړې ، ډېري خواری پر اتېري شوې ، بهرام په چل چل کي زموږ او ستاسو مځکه ټوله په ولقه کي راوسته ، ما په خپل واده غوښتلو کي ستاسو مځکه نه وه ورکړې ، خو ده ټوله په خپل نامه کړې ده ،

زه :- بدرو لالا هیڅ غم یې مه کوه ، ته صرف هغه د مځکي کاغذونه زما تر لاسه را ورسوه ، بیا یې ګوره چي زه څه ورسره کوم ....... دا هغه کاغذونه ؤ کوم چي دوست محمد کاکا د کلي ملا صاحب ته د وصیت په وخت ورکړي ؤ ،

بدرو :- ګرانه پر یږده له دې لیوانو سره موږ او تاسو مقابله نه شو کولی ، خېر به یې غواړو ، په ښار کي دي ښه ژوند برابر دی ، کلي له راځه لا هم مه ، چي دا دومره خلک یې جواب نه لري ته یې هم پرېږده،

زه :- بدرو لا لا زه به له کلي لاړ شم ، بل به لاړ شي ټول کلی خو نه شي بارېدلی ، ته صرف کاغذونه راوړه ، زه خو داسي جنګ نه ورسره کوم ، چي توره او توپک به کي وي ، دا هر څه به دی په خوشحالي مني ، ته صرف کاغذونه او نور ثبوتونه راوړه .... ... بدرو څو شپې راسره تېري کړلې ، زوی یې جوړ شو ، ښه په خوشحالۍ سره مي رخصت کړو .،

13

# نورخپلوان هم پیداکړو

څو ورځي پس شهباز او بدرو لالا هم ماخوستن نا وخته راغلو ، د
ستړیا له وجي مو خاص ګپه ونه کړه ، سهار چي  مي چاى وڅښلې
بدرولالا موکور پرېښودى ما او شهباز راووتو د باغونو خواته ،
پخواني یادونه  مو سره تازه کول  ، هغه دکلي لوبي د کلي ژوند
هغه ماشوم توب اوهغه خوندونه بیامي د خپلي ګلپاڼي پوښتنه ځیني
وکړه،  د ه د ګلپاڼي لیک راکړى له لیک څخه  د ګلاب د عطرو
خوشبو ئي راتله ، زه  له شهباز څخه  ولاړشوم ، لږڅه لري لاړم
تر یودرخته  لا ندي کښېنستم ، زړه مي له خوشحالۍ ټوپونه وهل،
د لیک په لوستولو مي شروع وکړه

زماګرانه
سلامونه ----
ستا څهره مي ترسترګو دلي دوري کیږي ستا یادونه مي هروخت په
زړه منګولي لګوي ، ستا یادونه مي خوب ته نه پرېږدي ، هروخت
راته یادیږې ، ته خو ورک شوې ، داسي ورک شوې،  لکه
دانځرګل ، څه وکړم یوه بې وسه مجبوره نجلۍ یم ، زما نا قرارۍ
په کور کي شک پیدا کړى دى ، دکور  هر سړى شکي دى دا وائي
چي څه په کیږي  ، کله  کله  په غلا له  نجونو سره اوبو ته  لاړه
شم،  هغه هم ستا بې دیدنه بېرته راشم چي نه راځې بیا دي زه ولي
میئنه ولم ، تل دا سوچ کوم چي بیا به مو دید سره وشي که نه ؟
خوکله کله مي سوچ هغې لاري له بوزي ، ته په لاره کي ناست یې
تږى یې ، زه اوبه درکړم ، اوته په سوچونوکي ورک شې او  زه

درته ولاړه یم ګرانه ستا د دید محتاجه یم ، یوه د دید پېرزوینه را
باندي وکړه یوڅولنډۍ درته لیکم ،
اندېښنوکړم تکه توره اوس مي دود پراسمان ګوره
اندېښنو ده لیونۍ کړم وابه وري ځان به پانسۍ کړم
دلیک جواب به ضرور رالیږې ، زه به ستا د لیک په انتظاریم،
خدای پاک دي خوشحاله اوکامیابه لره

مننه
ستادراتلوپه انتظارستا
ګلپاڼه
د ګلپاڼي لیک مي په زړه کي د میني جذبه څو چنده نوره زیاته کړه،
او زه يې له ځانه ورک کړم، د دې را لیږلی لیک مي څو ځله
ښکل کړو، اوبیا مي په جېب کي خوندي کښېښووی ، ماښام تیاره
کور ته راغلو ، د ډوډۍ خوړلو وروسته بدرو لالا هغه د مځکي
کاغذونه راکړل ، بیا مي له بدرو لالا او شهباز سره د کلي په هقله
خبري اتري هم کولې کاغذونه مي هم کتل او و دوی ته مي دماخو
ستن د لمونځ کولو پس بسترې ورخورې کړې دوی ویده شول ، او
زه ؟ په ما نو یوخدای خبرؤ ، چي څه راباندي تېرېدل ترسهاره مي
سترګي نه سره ورغلې ، زه وم اوګلپاڼه، دې سوچونوخوب راباندي
حرام کړی ؤ ، په دې سهارمي هغه د مځکي کاغذونه راوخیستل،
په دې غرض چي زما یو ملګري ته يې ورښکاره کړم هغه دقانون
په محکمه کي پر ښه چوکۍ ؤ، د دې ملګري کورته دا اول ځل ؤ
چي زه ورغلم ، د کور ور مي ور وټکاؤ ، له کوره هغه سپین ږ
یری کاکا را ووت له کو م سره چي یووخت په بس کي زما دیدشوی
ؤ، سپین ږ یري چي زه ولیدم ډېرخوشحاله شوډېرپه مینه يې
روغبړراسره وکړو
سپین ږیری :- زویه خدای دي راوله ته او زما کورته راتله ، ښه
شو چي راغلې زماله هغه ورځي ستا د لیدلو سودا وه ،په کمه ورځ
چي زما او ستا په بس کي دیدسره شوی ؤ ، په هغه ورځ نه تا ځان

راوپېژندی اونه دي استوګن ځای ، خیر دا خبري به بیاکوؤ ته دا حال راکړه په څه پسي راغلې يې ؟

زه :- هوکاکاخېر دی زلمی مي پکار دی .

کاکا:- زویه هغه دفترته د تللو تیاري کوي ته راځه کښېنه زه هغه راغواړم ، زه د مېلمنو په خونه کي کښېنستم کاکا هم لږ وخت پس بېرته راغلی

کاکا:- زویه خېر ؤ ، له زلمي سره دي څه کار ؤ ؟

زه :- کاکا یو قانوني مشوره مي ورسره کوله ، دا زلمی ستاڅه دی ؟

کاکا :- بچیه زلمی مي زوی دی ، خوته ځان راوپېژنه .

زه :- کاکا زه ګران نومېږم د هغه بهادر زوی یم ،چي لوی افغانستان ته کډه شوی ؤ، د کاکا په سترګو کي اوښکي راغلې ، په ژړاند اواز یې ووئیل ښه زو یه ډېرخوشحاله شوم چي دخپل ګران ملګري زوی مي په ډېرښه حال کي ولیدی ....... کاکا ته مي ټوله کیسه وکړه په دې وخت کي زلمی هم راغلی کاکا ټوله کیسه ورته وکړه ، ورته وئیل یې زویه تاخویوه ورځ هم د دې ځوان ذکرنه دی کړی ، چي ته یې پېژنې ،

زلمی :- بابا زه څه خبروم چي ګران ستاد ملګري زوی دی ښه شو چي غبرګه شوه پلاریې ستا ملګری ؤ او زوی یې زماملګری دی،

زه :ـ زلمیه دا کاغذونه درواخله ښه په غور یې وګوره بهرام له مقدمې سره مخ کړه ، هم په دغه ماښام د زلمي پلار زموږ د ټولي کورنۍ ډوډۍ وکړه ، زه ، بدرو لالا، شهباز ، مورکۍ سیلو ، د کاکا مېلمانه شوؤ ، په دې شپه کاکا نوري ډېري پخوانۍ کیسې هم راته وکړې ، دا رنګه موږ په ښارکي نورخپلوان هم پیداکړو ..

# زما په نامه کړی ؤ .

ماخپل یومکان خرڅ کړی ،په دې روپیو مي موټر
واخیستی موټرمي د یو ډرائیور په مرسته ورو
ورو زده کړی ، څو ورځې پس ، یو ما پښنین په
موټر کي زه ، بدرو لالا ، مورکۍ او سیلوجانه ټول
دزلمي کورته ورغلو ، ما وئیل د مورکۍ پام به بدل
شي ، او خوشحاله به شي ، د موټر په هارن زلمی له
خپله کوره را ووتو .
زلمی :- ګرانه مبارک مبارک ښه شو، چي راغلې دا
اوس اوس مي په کورکي ستاپه هقله خبري کولې والله
چي عمردي ډېرېږي .
زه :- زلمیه خدای دي د ایمان مبارکي درکړي ......
مورکۍ اوسیلو د زلمي کور ته لاړې موږ او زلمی د
مېلمنو په خونه کي کښېنستو
زه :- زلمیه خیر ؤ زما په هقله مو څه خبري کولې
؟
زلمی :- بابک وئیل هغه د ګران او بهرام کېس
دي څنګه کړی ، او چي هر څومره سختي پر در
راځي له ګران سره به یې وړې ، او د ګران به
پوره پوره مرسته کوې ولي چي هغه زما د ګران
ملګري زوی دی ، پرما ستا او د ګران هیڅ فرق نشته
،
زه :- زلمیه ګوره د پخوانو خلګو مینه او خلوص ته
، اُوس یې هم هغه خلوص په زړه کي دی

زلمی :- ګرانه په ما دي څه خیال دی ، زه به هم
د خپل بابا غوندي ملګرتیا او مینه درسره پالم ، له ننه
پس که تاته چاپه کېږوسترګو وکتل سترګي به یې وباسم
، زه په دي سوچونوکي ورک وم ، ما وئیل «بنده
حیران خدای مهربان »، مرجان څوک ؤ ، مولوي
صاحب او ډاکټر، اوس زلمی اود زلمي بابک څوک
دي ؟
زلمی :- ګرانه په څه سوچونو کي ورک شوې ؟
زه :- هیڅ نه ،
زلمی :- ګرانه دومره خبر یم چي بهرام وکیل نیولی
دی ، را رواني پېښی ته به راځي ......... د زلمي
دوی کره مو ډوډی و خوړه ، ماخوستن یې ښه په
عزت را رخصت کړلو، کور ته راغلو د لمونځ کولو
پس ویده شوؤ ، په سهار ورځ د هغي وعدې
موده هم پوره وه ، کومه چي ما له ګلپاڼي سره په
لیک کي کړې وه ، بدرو لالا مي خبر کړو ، چي زه
ماښام نه راځم ، په مولوي صاحب به پام کوې
............د بس تم ځای ته راغلم په بس کي کښېنستم
هم له دغه ځایه په دې سوچونو کي ورک شوی وم ،
چي شهباز به لیک رسولی وي که به یې نه وي ؟
ګلپاڼه به د راتلو موقع پیداکړي که به یې نه کړي ،
کله به مي سر راپورته کړی ، بس به بېخي ډېره
مځکه سکښتې وه ، په دې ډول مي دا مزل وکړی ،
یو وخت مي پام شو، بس زما د کوزېدلو ترځای
تېرشوی ؤ ، زما په آواز بس تم شو ، او کوز شوم ،
ژړی ماځیګر ؤ په چټکي سره مي هغه څاه ته ځان
را ور ساؤ ، دلته تر یوې وني لاندي کښېنستم ، خو د
انتظارلحظې نه تېرېدلې یو ځل به ولاړ شوم ، بیا به
کښېنستم ، خو یو وخت له لري څخه دوې ښځې

ښکارېدي ، راروانې وې ، چې رانزدې شوې ، يوه د اُوبو په خوا روانه شوه ، او هغه بله زما په خوا ، زما يقين شو ، چې دا به ګلپاڼه وي ، زما زړه په درزا شو ، اندامونه مې رېږدېدل ، دا چې راغله لاس يې له څُولې واخيستو ګيلې يې شروع کړې ، چې څه په خوله ور تلو وئيل يې ، خو ما ته يې دغو ګيلو هم خوند راکاؤ ، ما ښه په سړه سينه د دې ټولې خبرې زغملې ، ډېر کوشش مې وکړو ،چې مطمئينه يې کړم ، خو دې لکه چې غوړونه يې کور پرېښې وې تش څُوله يې را اخستې وې ، خو بيا مې په څه خواستيو دې ته چمتو کړه چې زما خبره واورې ،

زه :- ګراني دا د ګيلوځای نه دی ، ګلپاڼې ما دا فېصله کړې ده ، بله لاره مو نشته، سره تښتو به ، ته څه په کې وائې ؟

ګلپاڼه :- ګرانه زه له تاسره په اُور ګډېدلو ته هم تياره يم ، دا تېښته خو آسانه کار دی ، ګرانه اول خو ښه ؤ ، يواځې زه وم ، چې ستا په عشق کې به داسې ګرځېدم لکه ترتلو چې مې اور لاندې وي ، اوس نو مورکۍ هم ستاپه غم اخته ده ،

زه :- ګلپاڼې تا مورکۍ خبره کړې ده ، چې موږ سره پېژنو ؟

ګلپاڼه :- نه ګرانه هغه په دې خبره شوې ده ، چې وراره يې په ښار کې دی او د دې په خُسر يې کېس کړی دی ، داسې نه وي چې مړ يې نه کړي ، او يايې په بله بلا نه واړوي ، لکه پلار چې يې د بل وطن شو ، راغلی وی خو په دغو يې ځان نه وی پېژندلی ، ټوله ورځ په دې سوچونو کې ورکه وي ،

زه :- ګلپاڼي اوس رخصت درکوم ډېره مي وځنډولې
، داسي نه وي څوک در پسي رانه شي انشاءالله تا او
ستا مور به زه دواړه زر تر زره په قراره کړمه ،
رښتيا دا يوه خبره ياده لره کېس که دي نيکه و
ګټلی يا ما ، زه به تاته حال درکوم ته به تياره
اوسې ، زه به راځم اوس دي خدای مل شه ، ........
ګلپاڼه د کور په لوري روانه شوه ، او زه لاړم د
شهباز دوی کره مي شپه وکړه ،.......... سهار را
ووتم د کلي ټولوخلګو ماته ډېر په حيرت کتل ، زه
په دې فکرونو کي وم چي داخلګ ولي داسي درته
ګوري ،لاپه دې فکرونو کي وم چي يو سپين ږيري
سړي ترلاس ونيولم ، په ډېر ږ غ يې آفرين آفرين
څوانه آفرين ووئيل ،
زه :- بابکه د څه آفرين ؟ ما داسي څه کړي دي ؟
ته يې څوک ؟
سپين ږيری :- زويه ته مانه پيژنې خو زه تاپيژنم
هغه په دې چي د مار غاري ته دي لاس اچولی دی
، زويه اول خو به دي لاس نه وراچاوه ، چي وروا
دي چاؤ ، اوس نو همت په کاردی او انشاءالله اوس
به بری هم ستا وي زما دعاګاني درسره دي که خدای
کول مځکي ته به دی ملا نه ځي ، ما هم د
باباصاحب ملنګ بولي ، دعا مي بې ځايه نه وي
.... له ملنګ څخه رارخصت شوم ، ما اوشهباز تر
پاخه سړکه سره راغلو ،بس راغلی شهباز مي
رخصت کړی زه بس ته وختم ، د خدای پاک قدرت
دی ، په بس کي هم هغه ځوان ناست ؤ ، چي يوبل
وخت يې هم له ماسره په بس کي سفرکړی ؤ ، او دا
ځوان له رنګه داسي ښکارېدو لکه د ګلپاڼي ورور
چي وي ، ما چي کله ګلپاڼه وليده ، هغه وخت هم زما

مخ ته د دې ځوان څهره ودرېده ، ده زه نه پېژندلم
، ولې چې زماڅهره ډېره بدله شوې وه، خودی
هغه رنګه ؤ ، زه د ده څنګ ته پر سیټ
کښېنستم ، ده حال احوال شروع کړی ،
ځوان :- نوم دې څه دی د کوم ځای یې او دلته
په څه پسې راغلی وې ، ما ته خو د دې ځای نه
ښکارې
زه :- نوم مې ګران دی ، کور مې په ښارکې دی ،
دلته مې پر یو چا یو څه روپۍ باندې وې په
هغه پسې راغلی وم
ځوان :- په ښار کې څه کاروبار کوې ؟،
زه :- مځکې ، دُ کانونه ، سرایونه پېرم او پلورم
یې او انصاف کتاب کور افغان سړک مې د ناستې
ځای دی ، ملګرې مې راځې کتابونه وائې ،
ګپې ټوکې ټکالې سره کؤ ،
زه :- ستا نوم څه دی، څوک یې او چېرې ځې ؟
ځوان :- زما نوم هیوادخان دی د بهرام له نامه
که دې اورېدلې وي ، د هغه نمسی یم ښارته ځم
زه :- په ښارکې څه کوې ؟
هیوادخان :- یوکارنه کوم ، په ښار کې خپل
سرای لرم ، په ښارکې مې تعلیم کولی چې له هغه
څخه وزګار شوم ، اوس هسې په ښارکې اوسم ،
زه :- یو کار ولې نه کوې ؟
هیوادخان :- ګران ملګرې که رښتیا را باندې وائې
زه له یوداسې کورنۍ څخه یم پلار، اکا خو پرېږده ،
چې د نیکه مې هم د غریبانو په حق خوړلو زړه نه
دی موړ شوی ، ملګرې ! که مې مور او خور نه
وی ، مابه خپل کور ته په ژوند مخ نه ؤ ور

اړولی ، د مور، او خور د پاره په میاشت دوې کي
یوه شپه یا دوې د دوی د پاره لاړ شم ،ښه شو
چي د ناستي ځای دی رامعلوم شو، زه به هم کله کله
د وخت تېري د پاره درځم ، زه له کتابونو سره ډېره
مینه لرم ، کتابونه به هم لولم ، او وخت تېری به هم
کوم ..
ماخوستن ښه ناوخته چي بس ، د ښار په تم ځای
کي ودرېدی ، مور راکوزشوؤ ، مور دواړو یو او بل
ته د ډوډۍ خوړلو ډېر ست وکړو ، ده ډېر ټینګار
وکړو ، آخیر مي د مورکۍ او کور په بهانه چي کور
مي یواځي دی ، ځیني رخصت و غوښتو ، او سبا
ته یې دکان ته د راتللو وعده وکړله ،
هیوادخان :- ته خو به ورشې له مور سره به
کښېني ، ته به هم مطمئین شې او دا به هم مطمئینه
شي ، بد بخته خوزه یم چي دلته راشم دا مي له زړه
نه وزي چي کورته ورشم کور خوند نه راکوي ،
دوی ما ته هر څه راکوي خو ما ته خاص خوندنه را
کوي ، ..
بیا ځیني رخصت شوم ، ډېر خوشحاله وم ماوئیل
یوخودې د تروري زوی پیدا کړی ، بل به د ګلپاڼي
باړ [7] په ماتوې ، او در یم دا چي ماخوله خدایه
غوښتو داسي ځوانان چي سوچ او فکر یې زما له
سوچه سره سم وي ، په دې سوچونو کي کورته
ورسېدم ،ور مي وټکاؤ بدرو لالا ور را خلاص
کړو ،
بدرو:- ګرانه دا اوس وخت دی چي راځې ؟
زه :- خیر به یې غواړو لالا کله کله داسي کېږي

[7] تنده

مورکۍ هم یو څو خبري راته وکړې ، څه وخت پس یې غصه ختمه شوه ،

زه :- بدرو لالا ته ولي دلته یې ، مولوي صاحب به دې یواځي نه پرېښود ، هغه غریب ناروغه سړی دی ،

بدرو لالا :- مولوی صاحب چي سهار وتلی دی ، بیا کورته نه دی راغلی ، څو واره سرای له ورغلم ، کېدی شي ، د ډاکټر مېلمه وي ، نن د ډاکټر نور مېلمانه هم ۀ ، ستا پوښتنه یې هم کوله ، ما ورته وئیل چي هغه کلي له تللی دی ، ډاکټر لا یو ټوکه هم وکړله ،چي ګران ته وایه د کلي چکرونه دي ډېر کړي دي ، زما په خیال یو ځای دي تلکه ملکه درولې ده ،..............." مولوی صاحب زموږ په سرای پوري وړکي سرای کي وسېدو ، په دې شپو کي به زه له مولوي صاحب سره وم ".... زر زر په هغه دروازه ورغلم کومه چي زموږ او مولوي صاحب د سرای په منځ کي وه ، د مولوي صاحب بستره خوره وه ، خو مولوي صاحب نه ۀ ، په سوچونو کي ډوب وم ، چي مولوي صاحب که د ډاکټر مېلمه وی بیا به یې زموږ کور ته خامخا خبرتیا ورکوله ، د مولوي صاحب په طلب پسي له کوره په راوتلو وم ،چي ور ټکېدو . زه هم وره ته ډېر نزدې وم ، ور چي مي خلاص کړو غېبانه اکا ولاړ ۀ ، زه پوهـ شوم ، چي مولوي صاحب -------- له غېبانه اکا څخه هره هغه بهانه ورکه وه ،چي ما په داسي چل کي پوهي کړي ، ښه په خوشحالي مي بوزي ، ږ غ یې ژړغونی ۀ ، زه پوهېدم چي غیبانه او دا توره شپه ، سر مي خلاص شو ، زما په زړه نو یو خدای خبر ۀ ، چي څه تېرېدل ، له غیبانه اکا سره روغتون ته راغلم ، مولوي

صاحب له دې فاني دنیاګۍ څخه رخصت شوې ؤ ،
ډاکټر ئې سر ته ولاړ ؤ ، په مخ یې اُوښکو لاري
جوړي کړي وې ، ټولو وئیل ګران ته یې ور ښکاره
کړی ، ما هم په رږدېدلي لاس د مولوي صاحب له مخ
څادر لري کړؤ ، سپین نوراني مخ داسي پروت ؤ ،
لکه وېده چي وي ،ډېر ګران وي د داسي مشرانو
مرګ ، بیا په ځان نه یم پوهېدلي چي د ډاکټر تر میلمه
خوني یې څنګه رسولی وم ،په سبا ورځ مي استاد د
ښار په لویه هدیره کي خاورو ته وسپارو ، د فاتحه
خوانۍ د پاره مو زموږ په سرای کي کمبلي هواري
کړې ، د مولوي صاحب د مرګه لس ورځي پس ډاکټر
زه ، بدرو لالا ، کاکا او غیبانه اکا او زموږ د مسجد
امام له ډوډۍ وکړله ، د ډوډۍ پس یې د مولوي
صاحب هغه وصحت نامه راکړله ، په کومه کي چي
استاد خپل ټول جائیداد زما په نامه کړی ؤ ،

## د شهباز دوی کور ته ورسېدم ،

دمولوي صاحب مرګ په ماډېراثر وکړی ولي چي دمولوي صاحب
دروزني په وجهه ماډېرڅه لاس ته راوړي او زده کړي ؤ، په
ښارکي مي مولوي صاحب هم خپل ؤ او هم استاذ ، دا خو پرېږه
ماته ترسکه پلار کم نه ؤ ، د خپل استاد غم زه ډېر زهيرکړم،
خوبيامي بېرته دمولوي صاحب هغه خبره رایاده شوه ، چي
بايدانسان په هرحال کي صبر وکړي ، اود هر رنګه حالاتو مقابله
وکړي، انسان بايد هيڅکله مايوسه نه شي ،انسان بايدچي هروخت
ثابت قدمه وي ، بېرته به هغو خبرو په ماکي همت پيداکړی ،اوس
مي نو د خدمت په هغه لاره سفرشروع کړی، کومه چي خپل استاد
راښودلې وه ، هم د دې همت او خدمت په رڼا کي له کوره راووتم
، د لمرختو په لوري روان وم ، د مولوي صاحب خبري مي وار په
وار ذهن ته راتلې ، ښه ورو ورو روان وم ، ماداسي محسوسه وله
لکه مولوي صاحب چي په لار راسره روان وي ، اوماته مشورې
راکوي، په دې سوچونوکي مي دومره تګ کړی ؤ، چي راپام مي
کړو ، دومره تللی وم چي تر باغونو وتلی وم ، د ښا ر لور راڅخه
پاته شوی ؤ ، د هديرې شناختي مي ليدلې ، په بانسونو تړل شوې
دسمالونه مېده مېده شمال ر پول ، په تلو تلو کي په هديره ګډشوم
له ځان سره مي اسلام عليکم ياأهل القبور ووئيل بيا مي بېرته
ځان ته سلام وربياکړی ، په هديره کي د شمال لورته شپږم قبرزما
د ګران استاد مولوي صاحب ؤ زه هم ورغلم يوڅه مي وژل بيا
مي دعا ورته وکړه ، دمولوي صاحب قبر ته ناست، فکر مي کاؤ
، چي ګوره څومره خاموشي ده نه جنګ نه جدل نه خندا نه ژړا
څومره زور ورڅومره مغروره اوڅومره کمزوري خلک دلته سره
يوځای دي دلته نه زور ور پرکمزوري تېری کولی شي نه کمزوری

له زور وره ځان ګوري ، دا ټول په یوه ځپېږه وهل شوي دي ، اوف ژوندونه اخیر پای دي دا دی ، له داسي کیفیت سره مخامخ وم ماداسي محسوسوله لکه زه چي مړ یم زما شا و خوا مړي او کفنونه خاموشه پراته وي ، په دې سوچونو کي ګوره ما څومره وخت په دې خاموشه خلګوکي تېرکړی وي ، یو وخت مي د ګلپاڼي مغزي ماتې هغه خبره ذهن له راغله " لویه لارده څوک به راشي" دې خبري زه بېرته ژوندون ته راستون کړم ، سوچ مي بدل شو ، مننه د ګلپاڼي د سوچ چي زه یې بېرته د ژوندون و خواته وهڅولم ، د خاموشه خلګو څخه یې راویستم ، بېرته یې بوتلم هغه خپلي غوټي ته یې کښېنولم ، ګلپاڼي په کتوري کي اوبه راوړې ، دې خوړو خوړو سوچونو بېرته ترښاره راورسولم ، ښار ته چي راغلم د مولوي صاحب دکان مي خلاص کړی ، کتابونه تر ګرځ اوخوپ لاندي شوي ؤ، دکان مي صفا کړی هسي خو زما د دکان کولو یوه اراده نه وه ولي چي ما د مځکواو مکانو نو کاروبار کاؤ، خو د وخت تېري او د مولوي صاحب د یاد د پاره مي دا اراده وکړه چي په ورځ کي به دوه درې ساعته پکي کښېنې ، چي مي دکان صفاکړی ، غیبانه اکا هم راغلی ده مولوي صاحب کمي مو ډېره محسوسه وله ، بیا سره رخصت شؤ ، دکان مي پوري کړی ، کورته راغلم ،..... پنځلسمه نېټه د پېښی د پاره ټاکلې شوې وه
.......زلمي چي به څه رنګه مشوره راکوله موږ به عمل پرې کاؤ ، .... بهرام د کېس ګټلو خپل وس کاؤ او موږ خپل .... دا رنګه دا کېس روان ؤ ، ...... بهرام د ډېرو کوششونو بر سېره هم شاهدان نه شو حاضرولی ، کله به یې یو او کله به یې بل شاهد راوستو ، د بهرام وکیل ډېر چاپلوسه او تېز سړی ؤ، په چل چل کي به یې له عدالت څخه وخت اخېستو ، خو د زلمي په مرسته او د کلېوالو په همت موږ د مځکي کېس وګټو ، دغه رنګه مي له بهرام څخه خپله مځکه تر لاسه کړه ، .. د عدالت بهر ، کاکا، غېبانه اکا، ډاکټر مرجان آکا او نور خلګ هم ولاړ ؤ، ټولو مبارکي راکړه ، بهرام خان له عدالت څخه را ووتو ښه په مخ لاړو ، بیا یې تر شا وکتل

بېرته را غبرګ شو، په کاکا د زلمي په پلار یې غېږه وګرزوله ، بیا یې له ټولو سره روغبړ وکړی ، ماته یې د کېس ګټلو مبارکي راکړه ، بیا رخصت شو، ټول د بهرام دغه انداز ته ډېر حیران ؤ ، ولي چي بهرام هیڅ کله هم داسي نه کول ،خدای خبر څنګه یې زړه نرم شوی ؤ ، .............

ز ه د عدالت له چارو سره بلد نه وم ، ما وئیل چي په دوؤ یا درو پېشیو کي به د محکي ټوله ماملة پای ته ورسېږي ، خو دې ماملې پوره شپږ میاشتي واخیستې ، ما غوښتو چي له ګلپاڼې سره د واده کولو کیسه به زر تر زره پای ته ورسېږي ، شپږ میاشتي د شپږو کلونو په شان تېري شوې ، هر وخت به په سوچونو کي وم چي ګلپاڼه به څه وخت او په څه طرېقه کور ته راولم ، ما د تېښتولو لاره ځکه غوره ګڼله ، چي ز ما د دوي هغه خبري په ذهن کي وې چي د دوی خوندي او لوڼې نه څوک تښتولی شي او نه واده ورسره کولی شي ، زه په هر ډګر کي په بهرام غښتلی وم ، هغه په دې چي د کلي ټول خلک زما طرفداره ؤ ، په ښار کي مي په هر دفتر کي شناخت درلود د پیسو له لاري هم ښه وم ، په ښار کي د ډېرو مکانونو او دکانونو مالک وم، په ښار کي مي ډېر کلبوال په روزکار لګولي ؤ ، په کلي کي مي د نجونو او هلکانو د پاره سکولونه پرانستي ول ،لنډه دا چي د ژوند په چارو کي تر دوی وړاندي وم ، .... .. کله چي مي پېښي وګټله ،تر ټولو ډېر پرې هېواد خان خوشحاله ؤ ، هغه به ټوله ورځ له ما سره تېره کړه ، هغه ما ته ځان دومره را نزدې کړی ؤ ،لکه چي زما نه بغېر څوک نه لري ، د سهار چای به یې هر کله له ما سره څښلې ، خدای شته ما به هم د ګلپاڼې تنده پرې ماتوله، د ده غریب په سوچ کي لا هم نه ؤ چي ګران او ګلپاڼه سره پېژني یا دا چي د دوی ملاقات سره شوی دی ، زه دې خبري ډېر زهیرولم ، ما وئیل که هیواد خبر شي په نه شاباش به درته ووایي او ډېر به خفه شي ، کله به مي سوچ کاؤ چي راشه ټول حال صفاصفا ورته ووایه ، بیا به مي وئیل چي هسي نه وي ټول پلان دي ګډ وډ شي ، دې خبري په حقیقت کي ډېر

زوروولم، كه هيواد درته ووئيل چي تا ولي ما ته نه وئيل ، يا د كلي نورو مشرانو درته ووئيل چي داسي دي ولي وكړل ، خو بيا به مي بېرته ټينګه اراده په دې نيت وكړه ، چي له بهرام سره د دښمنۍ په وجه نه بلكه د عبرت په وجه داسي كوم، بيا به ورو ورو ټول ملګري او مشران مطمئن كړم ، .......

. اوس مي نو د ګلپاڼي د تېښتي قوي اراده وكړه ........ ماخوستن مي له سپلو جاني د كاليو د سمولو غوښتنه وكړه ,........

موركۍ :- زويه اوس په دې توره شپه كالي څه كوې خو سهار وختي به يې درسم كړي ،

زه -: موركۍ زه سهار وختي كلي ته ځم ، كلي ته مي زړه كېږي ، شهباز او نور ملګري مي ډېر يادېږي ، يو څو شپې ور سره كوم ،

موركۍ :- زړګيه ډېري شپې مه كوه تر دۀ ، درۀ شپو زياتي مه كوه ،

زه :- موركۍ سبا وختي روانېږم ، دعاګاني كوه چي خداى مي سفر بې خطره كړي ، ....

سهار وختي موركۍ را ويښ كړم ، د اودس او لمونځ پس مي موټر سټارټ كړو ،د كلي په لور روان شوم ، د سهار يخ شمال ډېر ښه لګېدو ، د موټر ښېښي مي خلاصي كړي وې ، او د يخ شمال خوندونه مي اخيستل ، چي له ښار څخه ښه را لري شوم ، له باغ سره مي موټر ودراو ، را كوز شوم ، موسم ډېر په زړه پوري ۇ ، د مرغيو چڼكۍ ۇ ، د ويالې په غاړه كښېنستم ، په يخو اوبو كي مي لاسونه وهل ، خپل سوچ مي يو ځل بيا تكرار كړو ، دلته ما ته خپل دنني ګران ووئيل چي همت كوه ، زه داسي مطمئن شوم چي بس هيڅ هم نه شته ، خپل سفر كوه ، .......... بيا مي موټر سټارټ كړو د خپل منزل په لور مي يون شروع كړی ،......... په تګ تګ كي مي ذهن ته ډول ډول سوچونه راتلو ، خو په سوچونو څوک پابندي لګولی شي ، يو ځل يې هغه وخت ته بوتلم چي د كاكو د خونو تر شا به مو بډۍ كولې ، هغه جمال يې راته ياد كړو كوم چي زما ډېر ښه اشناى ۇ ، هغه به اوس په څه حال كي وي ،بيا به يې د نيكه

بابا اوښکي يادي کړي کله چي زموږ کډه را بارېدله ، خو د هر سوچ په منځ کي به ګلپاڼي خپل وار تېراؤ ،موټر تر بس تېز ؤ، په هغه لاره تېر شوم ، په کومه  چي چا را ته ووئيل لويه لار ده ځوک به راشي ، ماپښين له د شهباز دوي کور ته ورسېدم ،

# ستاخپله ګلپانه

د موټر په ږغ شهباز هم له کور څخه راووتو، شهباز ډېر خوشحاله شو ، ولي چي ما او شهباز ډېر وخت پس سره ولیدو. داسي پرې را وغوړېدو لکه د سړي چي ورک  ورور پیدا شي . د روغبړ کولو پس موږ کور ته دننه شو مرجان اکا هم د کور له خوني راووتو.
روغبړ ِيې را سره وکړی . بیا سره کښېنستلو د کلي  حال و احوال مو سره وکړو . ماځیګر کلي ته راووتو. د کلي لويان او ماشومان ټول داسي خوشحاله ؤ لکه چي د دوی ډېر نزدې څوک عز یز راغلی وي .ما هم  د کلي له ټولو مشرانو سره  روغبړ کاؤ . هر سړي د ډوډۍ ست راته کاؤ . په کلي کي مي دومره عزت پیدا کړی ؤ . چي ما سوچ هم نه شو کولی.
دا ماځیګر مي ټول داسي په روغبړونو تېر کړو ، ماخوستن بېرته د شهباز دوی کره راغلم په ماخوستن مي و شهباز ته خپله منصوبه بیان کړه هغه راسره خوښه کړه.
شهباز :- منصوبه خو دي ښه ده خو راته ووایه چي عمل به پرې څنګه کيږي او دا خو ډېر سوچ غواړي .
زه :- شهباز ه وروره ځکه خو مي موټر راوستلی دی . ته راته ووایه چي اوس څه کول په کار دي ؟
شهباز ښه تر ډېر ه خاموشه ؤ .
شهباز:- یاره ما یو سوچ وکړو ، یو ځل خو له ګلپاڼي سره ستا ملاقات ډېر ضروري دی . هغه به هم په داسي انداز کي چي څوک درخبر نه شي ، ولي چي دومره عزت دي پیدا کړی دی،  که ته په داسي موقع چا ولیدې نو ټول عزت به دي له خاورو سره خاوري

شي . تر ټولو مخکي به لیک ولیکي چي ګلپاڼه له تا سره ملاقات وکړي . د ښځو نه وي معلومه ، اراده یې نه وي بدله شوې.
زه :- ګلپاڼه داسي انجلۍ نه ده ،چي اراده یې دومره زر بدلیږي .
هغې له ما سره اقرار کړی دی ، چي دابه له ما سره تېښتي .
شهباز :- بیا نو بسم الله که ، لیک ورته ولیکه ، ما هم خپل نازولی قلم راواخست او په لیکلو مي شروع وکړه .

زما ډېري ګراني ګلپاڼي
د میني او خلوص نه ډک سلامونه قبول کړه
ګلپاڼي تل لکه د ګل پاڼي تر او تازه اوسې ، تل دي خوشحاله غواړم.
ګلپاڼي په دې به ډېره خوشحاله شې ، چي ستا ګران کلي ته راغلی دی .زه ډېر نزدې یم . هغه وعده که دي یاده وي ، یوه ټپه درته لیکم نور نو ته ښه په پوهېږې چي زه څه وایم .
راځه چي دواړه سره تېښتو
شاته خبري به سپین ږ یري خلاصو ینه .
اوس نوتا ته دا کول پکاردي چي له خوړکۍ سره په بدل لباس کي راشې چي څوک دي ونه پېژني ، زه به هم په هغه ځای ستا انتظارکوم چېري چي تاوئیل لویه لار ده څوک به راشي ......
سبا که خېر ؤ، له هغه ځایه به د نوي ژوندون پیل کوؤ
کله چي خوړکۍ روانه شي ته به هلته ایشاره شې زما ده شپېلکي په ږغ پسي به راشې زه به دهغې لاري څخه ګوښه پټ په مانده کي ستا انتظارکوم
(ستاخپل ګران )..................................
سباسهار زه او شهباز روان شو زه د بدرولالا کره لاړم اوشهباز ده خپلي خوړکۍ کره لاړ، په دې چي ما د ګلپاڼي د پاره لیک ورکړی ؤ ، شپه مي د بدرولالا کره تېره کړه د بدرولالا ژوند ډېربښه شوی ؤ، وربنداره ډېره خوشحاله وه بدرولالامي په دې خپله کیسه نه دی خبرکړی ، ما خوستن دوی ټول ویده شول زه ټوله شپه ناست وم

داسوچونه مي کول چي ګلپاڼه به ښنګه راځي اوښنګه به سره ځو، چي رسوا نه شو ګلپاڼه به د ليک جواب درکړي که نه ؟ ګلپاڼه به په خپله راشي که نه ؟ دا شپه مي ټوله په دې سوچونوکي تېره کړه چي سهار مي سترګي سرې وې......
دا ؤ چي د غرمې خوا ته شهباز ليک راوړی زه هم خوني ته لاړم ليک مي خلاص کړو

زماګرانه تل خوشحاله او آباد اوسې
ګرانه ستاليک په داسي وخت کي راغلی چي زه له يوداسي مجبوری سره مخ يم چي د نيم ساعت دپاره هم له کوره نشم وتلی هغه زما ورور  هيواد راغلی دی چي ۲۴ څلورويشت ساعته له ماسره ناست وي که  ووزي هم دستي بېرته راشي  د ده له وجهي  په يوه  خوا نه شم تللی او په کورکي يو له ماسره خبري کوي ياره واقعي چي ډېرلوی سرې جوړشوی يې چي زماورور دي دومره صفتونه کوي کله وائي داسي ځوان دی چي په ټول وطن کي يې ثاني نشته داصفتونه دي مانوره هم تاته ډېره درنزدې کړي خو يوه وېره راسره ده چي دښار نجونه دي رانه خپله نه کړي هغه څه خبري دي چي ما او تا..   سبا هيواد ځي بله  ورځ به که خدای کول هم هغسي کيږي چي ته غواړې
ستاخپله ګلپاڼه

17

## لېڅي يې له شنو او سرو بنګړيو ور ډکي کړې

د ليک دلوستلوپس مي ليک په جېب کي واچاؤ ـ اويو سوړ اسوېلى مي ترخلې وختو شهباز په تعجب سره راته وکتل

شهباز:- څه يې ليکلي دي چي داسي ساړه اسوېلي دي له خلې خېژي؟

زه :- هيواد کور ته راغلى دى ، ګلپاڼي ليکلي دي چي هيواد لاړشي بله ورځ به در سره ځم

شهباز:- ګرانه ته هسي دومره بې صبره يې ، خبردى يو ورځ ده دومره وختونه دي صبرکولى شو اوس هم خبردى ماهم د شهباز د خبري تائيد وکړو د بدرولالا له کوره څخه راووتوو د شهباز دوى د کلي په خوا مو سفرشروع کړى ، په لاره ترډېره پوري خاموشي وه هغه ځکه چي شهباز زما په حال خبرؤ ځکه يې له خپل سوچ څخه نه ايستم ما نو بس د ګلپاڼي سوچونه وهل چي څنګه به سره تېښتو رسوا نه شو ډول ډول سوچونو مي په زړه کي تندکونه خوړل خو بيا يو ځاى شهباز په ډېره ښائسته اوخوږه لهجه تپوس وکړو

شهباز:- ګرانه ډېرمي يواځي پرېښودې ماوئيل ښه دي چي د زړه له کومي سوچونه ووهي زه پوهېدم چي ته به هم دګلپاڼي سوچونه وهې خو داراته ووايه چي څنګه سوچ دي وکړو

زه :- شهبازه داخوته بلکل صحيح وائې چي ما د ګلپاڼي سوچ واؤ زه هم ودې خبري ته په سوچ کي وم چي څه چل وکړم ګلپاڼه په عزت ترخپله کوره پوري ورسوم ماچي په کومه طريقه ګلپاڼي ته ښودلې وه هغه مي شهبازته بيان کړه د شهبازکور ته را ورسېدو د آرام کولو پس ماځيګر بيا کلي ته راووتؤ ، د کلي جانداري موټرسره کړله که څوک ناروغ ؤ د هغو پښتني ته ورغلم اوله چاسره مي مالي مرسته وکړه خوداماځيګرهم تېرشو، لمر دغرونوشاته

پرېوتوو، ماته ډېروخلګودمېلمستيا ووئيل خومابه يو څه وزر ورته
وکړو ، د شهباز دوی کورته راغلم مرجان اکا سره مي ډوډۍ
وخوړه د ډوډۍ پس د ماخوستن لمانځه ته جماعت ته لاړم مولوي
صاحب اونوروسپين ږيرومشرانوسره مي هم ليدل کتل وشو،
بياراغلم کورته شهبازته مي هم رخصت ورکړو زه په خونه کي
يوائحي پاته شوم دلته نو زه يواځي او سوچونه ډېر ؤ، له هري خوا
په ما خپلو سوچونو سوالونه کول بيا يې دخوب کور ودان چي ويده
شوې وم سهار وختي دشهباز مورکۍ ويښ کړم د اودس اوبه يې
راکړې ماهم اودس وکړو جماعت ته لاړم دلمانځه پس مي دزړه له
تله دعا وکړه چي خدای پاکه ته مي هر قدم د خېر په لاره برابر
کړې ، چي په کي خېر وي هغه کار را برابر کړې . درې واره مي
آيـة الکرسي په ځان چووف کړه ، بيا له مسجد څخه را اُوتو ، له
شهباز سره کور ته راغلم چای چي مي وڅښلې ، بيا مي له مرجان
اکا او مورکۍ څخه رخصت را واخيستو. او شهباز مي هم رخصت
کړو . زه د هغې لاري او هغه ځای په خوا روان شوم چېرته چي
مي زړګی بائيللی ؤ ..............
د هغې لاري څخه مي لري په مانده [8]کي موټر و دراؤ . موټر له
لري څخه نه ښکارېدو . ماله لري نه د ځاه ننداره کوله . ښه ډېر
وخت پس دوې ښځي ښکاره شوې ، يوې خپل ګوډی ډک کړی
روانه شوله ، او دا بله پر هغه ځای کښېنستله ، زه پوه شوم که
وه دا به ګلپاڼه وي . کوچيانۍ جامې يې اغوستي وې ، ما شپېلکی
کړو دا هم زما پر خوا را روانه شوه ، چي را نزدې شوه د کوچيانو
په جامه کي لا نوره ښه ښکارېده زما زړه په ټوپونو شو ، ټول بدن
مي رېږدېدو ، زما يقين شو چي د ګلپاڼې به هم دا حال وي ، د
ګلپاڼې دهغي ورځي ښائست مي اوس لا هم هېر نه دی . زه وايم
چي کاش اوس هم ګلپاڼه هغه رنګه را روانه وی او ما ورته کتلی ،،

---

8 خوږ،کاږ

ګلپاڼه راورسېده په غېږ کي مي ټينګه کړه  زړه مي نه ودرېدو . نه وه پوهېدم چي پر زنه مي څنګه ښکل کړه ....................

ګلپاڼه :- ګرانه څه در  وشول پر ې مي ږده چي ساه سمه کړم، ما د موټر دروازه ور خلاصه کړه له دې سره يوه غوټه هم وه . هغه مي په موټر کي کښېښوولـه ، او دا مي  دننه په سيټ کي کښېنوله او روان شو.........

زه :- ګلپاڼي اوس خو به دي ساه سمه شوې وي ؟

ګلپاڼه  :- ګرانه څنګه مي غواړې اوس خو نو د تل دپاره ستا شوم خو بيا هم کله کله سوچ وهم چي تا د تېښتي لاره ولي خپله کړله،که دي مرکه را ليږلې وی ؟

زه :- نه ګلپاڼي ته نه پوهېږې.ما نه غوښتلو چي ته دي د بل چا شې. ځکه داسي قدم اخيستلو ته مجبوره شوم .

ګلپاڼه :- نه ګرانه تا چي کوم سوچ کړی دی بالکل دي سم کړی دی ، ما هسي تپوس درنه اوکړو . زما ستا په هره خبره پوره پوره باور دی ، که مي نه وی بيا به ولي درسره راتلمه. ګرانه زه بې له تا هيڅ نه يم . د دنيا هر پيغور قبلومه خو تا د لاسه نه باسم ......

له ما سره دا خيال هم ؤ چي داسي نه وي څوک د شاله خوا راپسي راشي ، موټر مي ښه په تېز رفتارئ روان کړی ؤ  . د ګلپاڼې سره مي ښه خوږه خوږه ګپه کوله او ښار ته را ورسېدو، کور ته راغلو. مورکۍ او سپلو جاني چي له ما سره ګلپاڼه وليده نو ډېري حېراني شولې . ځکه چي ما هيڅکله ښځې ځان ته نزدې نه پرېښودې او نه مي خبري ورسره کولې .

سپلوجانه :- لالا دا انجلۍ څوکه ده ؟

زه :- داستا ورېنداره ده.

مورکۍ :- وی ته په دې پسي تللی وې څوکه ده او د چا لور ده؟

زه :-مورکۍ دا مي دخپلي تروري لور ګلپاڼه  ده . او زه ورسره واده کوم . ما په دې مرکه نه ورليږله چي دوی خو  هم زما تروري

په زور وړي وه او ما خو بیا هم ښه وکړو چي په رضا مي راوسته موركۍ یو وار ښه راته واورولې .........................

خو بیا یې ګلپاڼه په غېږ کي ټینګه کړله او سېلوجاني خپلي جامې ورله راوړې او لاسونه یې ښه په نکریزو ور سره کړه او لیښي یې له شنواو سرو بنګړیو ور ډکي کړې .

# د کور پر خوا را روان شوم

ماخوستن د ډوډۍ خوړلو، لمونځ کولوپس ګلپانه مي د مورکۍ په خونه کي پرې ښودله زه بلي خوني ته ولاړم ، په سهار وختي ور وټکېدو چي ورغلم هيواد ولاړ ؤ زمادزړه درب شو، چي خبرشوی نه وي هغه د ده په تندي نه ښکارېدو ، ښه په مينه يې روغبړ راسره وکړی ماهم دمېلمنوپه خونه کي کښېناؤ

هيواد:- ګرانه ته خو دا تپوس نه کوې چي ته دا څو ورځوچېري وې

زه :- هيواده زه هم داڅوورځې نه وم کلي ته تللی وم، ستاسو کلي مي هم يوه شپه وکړه،

هيواد:- نوزه خوهم هلته وم بيامو هلته ولي نه سره وليدل؟

زه :- داخوبه دي اورېدلي وي چي
چي د ديدن نصيب يې نه وي
يوه کوڅه کي سره وړاندي وروسته شينه
مايوه شپه ستاسوپه کلي کي د بدرولالاکره تېره کړه

هيواد :- هو.... بدرولالاخوماهم وليدی خوهغه ستا ذکر نه دی کړی ، خېر دا راته ووايه چي څنګه تللی وې ؟

زه :- ياره هغه د ماشوم والي يادونو زوررولم، شهباز، د شهبازمورکۍ ، مرجان اکا.اونورملګري مي يادېدل ماوئيل څه به پام غلط کړم ....زه او هيواد له کوره راووتلو بازار ته لاړو بيا مي دی د هغې ادارې وا کمن جوړکړی کومه چي ما د غريبانو،او يتيمانو ماشومانو د ژدکړي دپاره خلاصه کړې وه ،

هيواد :- ګرانه وروره دا خودي پرما دومره احسان وکړوچي زه يې هيڅ کله نه شم هېرولی ، ګرانه ته ښه خبرېږې چي زما پلار ډېره سرمايه لري خوزماله داسي سرماې نفرت دی ځکه خوله کوره

ورک او په مزدوري خوشحال یم ګرانه په هغه کورکي زمایوه
موراو یوه ډېره نازولې خورده چي ډېره په ما ګرانه ده ، د دوی د
پاره کورته کله ناکله لاړشم .... زه پوهېدم چي هیوادڅه وئیل
غواړي خودی څه خبرۀ چي د ده خورجانه اوس زما سره ده ، زه
په خپل ځان کي ډېرخالي وم ، ما وئیل که نن نه ۀ سبا خبرېږي ،
ماخبري نه شوې ورسره کولی اوبیا مي د زړه په زور مخ
ورواړولو
زه :- ماله تاڅخه یو ډېرلوي راز پټ ساتلی دی زه یقین لرم چي ته
به مامعاف کړې اوله تاهیله کوم چي ته به ماپه دي نه مجبوره کوې
چي دا راز څه دی په دوۀ درۀ ورځو کي به ته په خپله خبرشې
بیا مي له ده څخه رخصت راوخیست کورته راغلم او قلم مي
راواخیست او په لیکلومي پېل وکړو.

قدرمن او ګران بهرام کاکا
سلامونه
له سلامه وروسته ، چي په ورکه پسي مه ګرزه . ورکه دي له ما
سره ده. په ښه عزت او حفاظت کي ده . که دي په یاد وي ، د کېس
ګټلو په ورځ ما تا ته وئیلي ۀ چي یو کېس مي بل هم پاته دی . هغه
کېس دغه کېس دی . اوس دغه کېس څنګه حل کوې . په کوم عدالت
کي یې حل کوې .
والسلام
ستا خپل د بهادر زوی د ګلاب خان لمسی (ګران)
د بسونو تم ځای ته لاړم چي ښه باوري سړی پیدا کړم او لیک
بهرام کاکا ته ورسوي . په دې سوچ کي وم چي یو چا را ږغ کړو .
ګرانه او ګرانه !
ماچي مخ ورواړۀ هغه بختیار لالا ۀ . زه هم ور روان شوم
روغبړ ورسره وکړی ، د کور کلي حال احوال مي ورسره وکړی .
او بیا مي دا لیک امانتاَ ورکړو. دی په بس کي سپور شو او زه
بېرته د کور پر خوا را روان شوم .

19

# د دوی ارمانونه پوره کړي.

زه هم هغسي په کارونوبوخت وم ، دوي درې ورځي پس ژړ ماځیګرؤ، زه په یوکار پسي کورته راغلی وم ، ور وتېکېدوچي وراووتم زلمی اود زلمي پلار ولاړ ؤ، زمایقین شو چي دوی د ګلپاڼي په هقله څه وئیلوته راغلي دي ، زه کاکاخیر ؤڅنګه راغلاست ؟

کاکا:- ګرانه لتاسره مي ډېرضروري کاردی .........ماهم دمېلمنود خوني ور ورخلاص کړی په خونه کي کښېنستلو

کاکا:- ګرانه زویه دومره لوی قدم دي زما اوزلمي بې مشورې واخیستو له موږه سره خوبه دي حال کاؤ چي څه وکړم زویه زما دګران یار بهادر زوی یې زمایه تا دا حق دی چي له ماسره خامخامشوره وکړې اوس چي څه شوي دي ښه شوي دي ، ډېرښه دي کړي دي ، نن بهرام اومرزاخان زموږ کره راغلو وئیل یې چي ستا ګران خوداسي راسره وکړل که یې مرکه راوستې وی موږ به په ښه خوشحالي دګلپاڼي لاس په لاس کي ورکړی ؤ، اوس به هم ته ورځې و ګران ته به سوال کوې چي موږ دي په کلي کي نه رسواکوي ګلپاڼه دي زموږپه لاس راکړي اوموږ داواعده کوؤ چي ګلپاڼه به په ښه عزت ورا وده ؤ،

زه :- کاکا ته څه وائي؟

کاکا:- زویه زه خووایم چي دابه ډېره ښه خبره وي چي دی په ښه خلاص نیت د ګلپاڼي کوزده له تاسره وکړي دا به زموږ دپاره هم ښه وي د دوی ده پاره هم ښه وي، زویه زه پوهېږم چي تا په دې

وجه له دوی سره داسي وکړل، چي تا د خپلي ترورې ټک اخيستو ښه شو چي د دوی غرور دي هم مات کړو،
زه :- کاکا ته ښه وائې اوس نو څه کول په کار دي ؟
کاکا :- سبا ماښام به موږ دوی را وغواړو غيبانه او ډاکټر به هم راوغواړو دا کيسه به ښه په عزت سره خلاصه کړو او بيا به ته په ښه شور اوشرنګ په ډول او په درزا ګلپاڼه را واده کړې او موږ به دي ورابانې يو ما وسره ومنله دوی لاړو او دا شپه بيا په سوچونواو فکرونو راباندي تېره شوه، بهرام کاکا او د ګلپاڼې پلار داشپه د زلمي دوی کره تېره کړې وه هم په دې سهار چي هيواد خان راغلی په تندي يې له ورايه ګڼجي ښکارېدې ، زه پوهـ شوم چي هيواد خان خفه دی خوبيا هم افرين په داسي ځوانانو چي په ملګرتيا ، يارئ او دوستئ ټينګ ولاړ وي بيا هم راغلی ، زما دروازه يې وټکوله ما سره يې روغبړ وکړو ، په ډېر معصوم انداز يې راته وکتل او وئېل يې
هيواد:- ګرانه زه په ټوله کيسه خبر شوی يم ،که دي ماته وئيلي وی ډېره به ښه وه او اوس چي دي داسي کارکړی دی نو زه ستا په کار کي څه نه شم وئيلی ، ماښام د زلمي په کور کي مرکه ده ته مه راځه د زلمي پلار ته ټول واک ورکړه ،
زه :- هيوادخانه زه ډېره بخښنه غواړم څه وکړم مخکي مي هم درته وئيلي ؤ چي ماله تا نه يو راز پټ ساتلی دي مابه معافه وې هغه راز دغه راز دی ، بله خبر دا ده چي ما خپل ټول واک کاکا ته ورکړی دی ،
هيواد :- د ظالم زويه زموږ تر کوره دي ځان څنګه ورسا ؤ، زما خو روح لا هم نه ؤ په شک چي ته او ګلپاڼه به سره پېژنی هغې هم هيڅ کله داسي ذ کر نه دی کړی کله چي به ما د واده ورته ووئيل دا به ډېره خفه شوه، ياره زه تاته ډېر په فکر کي يم، چي تا داسي وکړل څنګه ؟ که حقيقت درته ووايم زما خپله ذاتي خوښه هم دغه وه ، چي ستا او د ګلپاڼې واده سره وشي هم د دې دپاره مي په

مسجد  کي  دعاګاني هم غوښتي وې، ښه شو چي ته مي نورهم خپل شوې ،
زه :- شيطانه تا خو وما ته هيڅ دا نه کړه ظاهره ، بيا نو ما دومره خوارئ ولي کولې  ............. د وخندل لږ وخت پس دی رخصت شو ، ماخوستن دوی دافيصله سره کړې وه چي هيڅ نه دي شوي نه غل راغلی  دی نه غلا شوې ده ، په را روانه جمعه به د ګلپاڼې او ګران کوزده وي  مور. د کوزدې په تياريو شروع وکړه د جمعې مبارکي ورځي ته پنځه ورځي پاته وې مورکی ډېر ښائسته دسمال تيارکړی ؤ زه کلي ته لاړم ، په کلي کي مي چي څوک ډېر نزدې ؤ ، هغو ته مي ست وکړو، خلګ ډېر حيران ؤ چي داڅنګه  کېدی شي ، چي بهرام خپله لمسی څنګه و ګران ته ورکوي ،له ځان سره مي شهباز ، د شهباز مورکی او مرجان اکا کورته راوستو، وخت دی تېرېږي د جمعې مبارکي ورځ هم راغله سهار وختي څو کسان کوزدې له ولاړو ماښام له يې زما د کوزدې دسمال راوړی ، کور له ښځو ډک ؤ ،د دريا ږغ ؤ پيغلو اتڼ کولو په بله کلا کي سړي ناست ؤ ، د سړ يو د پاره د ډوډئ بندوبست شوې ؤ ،   هيوادخان او شهباز   دا غوښتو چي د ټنګ ټکور او ډول مېله جوړه شي ،  خو ما منع کړو،  چي بيا به په واده کي لو يه مېله جوړه کړو، دغه رنګه دا شپه د مېلمنو په خدمت کي تيره شوه، شهباز  هيواد او زلمی اوږه په اوږه څنګ په څنګ  زما سره د کوزدې په خدمت کي ولاړ ؤ، خدای پاک دي د دوی ارمانونه پوره کړي.

# ما چيري ماته ورکولی شوه

زموږ په خواچي کله واده يا کوزده وي ، نو دجمعې مبارکي ورځ ټاکي ، زما ده واده ورځ يې هم څلورمه جمعه ټاکلې وه ، زما په کوزده مورکۍ اوسېلوجانه ډېري خوشحاله وې ، دوی به هروخت ګلپاڼه يادوله د ګلپاڼې صفتونه به يې کول ، مورکۍ به هر وخت وئيل دا دي څومره ښه وکړل زه به هر وخت په سوچونو کي وم چي د ګران کوزده به دچا سره کوم څوکه به ورغواړم ګرانه زويه ښه شو چي زه دي له دې سرګردانی خلاصه کړم اوس مي ګلپاڼه دومره يادېږي چي دا مياشت به کله پوره شي ،چي خپله نږور دخپل کورکړم

له کورڅخه راووتم هيواد مي د ځان سره روان کړو د مولوي صاحب دُکان ته ورغلو دُکان موخلاص کړی ځکه چي له ډېره وخته مي دکان نه ؤ خلاص کړی زه او هيواد په لګيا شوؤ کتابونه مو له دوړو وڅنډل هيواد مي په دکان کي پرېښودی زه د مولوي صاحب په يوه شاګرد مولوي اسدالله صاحب پسي لاړم هغه مي راوستو اسدالله د مولوي صاحب ډېر تابعدارشاګرد ؤ د ده مولوي ډېرخدمت کړی ؤ ، ده له مولوي صاحب څخه ډېره زده کړه کړې وه ، خو بل وطن ته په ديني زده کړه پسي تللی ؤ ، کله چي راغلی مولوي صاحب په حق رسېدلی ؤ ، ما ته راغلی او د مولوي صاحب فاتحه يې راکه ...... د مولوي په خدمت يې ما ډېره ستائينه وکړه چي د مولوي صاحب دي ډېرخدمت کړی ؤ ، چي دومره خدمت يو زوی د خپل پلار هم نه شي کولی ځکه خو ماپېژندلی چي مولوي صاحب ډېرځيني خوشحاله ؤ ، اوس يې مرسته ځکه کوم

مولوي اسدالله صاحب مي  راوستو دکان مي ورحواله کړو ما وئيل
چي تر بند دکان خودا ښه ده چي د يو نېک انسان دپاره دا دکان د
روزۍ سبب وګرزي، مولوي اسدصاحب هم زما پېرزوئينه قبوله
کړه د دکان کيلۍ مي ورکړې ، خو زه به هم کله ناکله دکان ته
ورتلم يوساعت دوه به مي نوي راغلي کتابونه لوستل ، واده ته څو
ورځي پاته وې چي ما او هيواد د هغو مېلمنو نومونه ليکل کوم چي
مو  واده ته راغوښتل غوښت ،
زه :- هيوادخانه د مامک دوی د کلي لاري خو ډېري خرابي شوي
دي بدامني هم ډېره شوې ده ، کله چي راغلی يم بياپه هغه لاره تللی
هم نه يم ، وائی چي هلته جنګونه هم شروع شوي دي ، ډېر وخت
کيږي چي د دوی يوحال احوال هم نه دی راغلی ، که زما واده ته
دوی رانه شي نو د مورکۍ خوشحالي خوبه نيمګړې شي هيواده ته
به خبر يې چي مورکۍ ډېرغمونه ليدلي او تېرکړي دي اوس چي پر
دې د خوشحالۍ ورځ راځي ، په هغه کي د دې مور ، پلار.او
ورور حاضرنه وي ؟  څنګه وکړم .....
هيواد:- ګرانه دا خو دي ډېر ښه ووئيل چي د مورکۍ خپلوان په کي
حاضر وي نوبه ډېرښه وي ، دا  خو  د دومره  سوچ کولو خبره هم
نه ده ، درځه چي سباسبا روان شو ، چي دا دومره خلګ ځي او
راځي څوک يې نه وژني ، موږ هم نه وژني ، درځه چي توکل
کړو.
زه :- نه هيوادخانه زه يوازي ځم ته ولي زماپه هرتکليف ځان
شريکه وې
هيواد :- ګوره ګرانه بل ځل چي داسي ونه وائې بس سبا به که
خدای کول روانيږو........
ماخوستن مي په څه خوار يو په مورکۍ دا ومنله چي زه دمامک
دوی کره لاړشم سهار وختي مي دسفرتياري شروع کړه ، لږ وخت
پس هيوادخان هم راغلی موږ دواړو له مورکۍ څخه رخصت
واخيستو ، د درو ورځو د سفرکولو پس د مامک دوی کره ورسېدو
لاره ډېره خرابه وه ، ځای په ځای به عسکر ولاړ ؤ ، ټول سپاره

به يې کوزکړو جېبونه به يې وپلټل بيابه يې رخصت کړو ، د جنګونو له کبله موږ د لاري يون ډېر ستړي کړو ...... نيکه باباو اناډېر ضعيفه شوي ول دوی زموږ په ورتګ ډېر خوشحاله شول ، زه يې ښکل کړم ، ما د هيوادخان پېژندګلوي هم ورسره وکړه ، دوی ته مي د ورتګ وجه بيان کړه ، دوی ډېر خوشحاله شول ، دوی ډېر لوېدلي ؤ ، هسي ګزاره يې کوله.......

انا:- زو يه چي کله ستاسو کډه تللې ده ، له هغه وخته مي بانو، سيلو جانه او ته له ياده نه ياست وتلي دا متل به دي اورېدلی وي چي يوه کډه د بلي زړه کاږي څه مي کړي وی زويه مجبوري وه هر څه مي زغمل خوخېر تاته دي خدای پاک جنتونه درکړي چي راغلې ستا په ليدولو مي سترګي خونکي شوې...........

نيکه بابا :- زويه انا ښه وائي له کومي ورځي چي تاسو بارشوي ياست په والله که مو له ياده وتلي ياست هغه وخت لاښه وم ، انا وئيل چي د بانو لور کره به ځو ، اراده به مي وکړه ، خو بيا به يو کار راپېښ شوؤ ، هغه دا ؤ چي ګوزڼ ووهلم له تګ څخه يې واچولم ، دا رنګه مي له نيکه بابا او انا سره ډېري خبري اتري وکړې ، يوه ورځ مو تېره کړه ، د يوې ورځي د ارام نه پس مو ستړ يا ختمه شوه د سهار د چای څښلو پس له مامک سره کلي ته راووتو هغه د کاکو د خونو شاته چي به مو بډی يا بيتي کولې دا ځای لا هغه رنګه ؤ ، چا په کي وداني نه وه کړې ، د پخوا تر حال کمه شوې وه ، ډېر خلګ ځيني بار شوي ؤ ، زما د هغه وخت په همزولو کي هم ډېر له کلي بار شوي ول، بيا مي له مامک څخه د جمال درک معلوم کړو ، جمال په کلي کي يو وړوکی دکان پرانستې ؤ چي بس تش د کور ګزاره يې په کېدله ، له هغه سره مي وليدل څه مو سره وژړل او څه مو سره وخندل ، جمال ته مي د واده ست وکړو چي د مامک سره خامخا راشه ، د راسره ومنله بيا کور ته راغلو نيکه بابا د تګ نه ؤ ، په در يمه ورځ مي انا له ځانه سره راروانه کړه د لاري سفر ګران ؤ خوپه څه سخترو کور ته راغلو ، مور کی چي انا وليده سترګي يې د خوشحالی له اوښکو څخه ډکي

شوي ، روغبړ يې سره وکړو بيا يې لاس اوچت کړل ؛ يا خدايه ته زما د ګران هر ارمان پوره کړې زما يې هر ارمان پوره کړی دی ،، مورکۍ او انا ډېري دعاګاني راته وکړې هم دغه د دوی دعاګانو ، د مولوي صاحب او د ډاکټر صاحب لارښودنه او روزنه وه ، چي له مايې سړی جوړ کړو، کنې د بهرام غوندي سړي ته ما چيري ماته ورکولی شوه .

21

# چــي د ضرورت په وخت په کا راشي .

د واده نېټه  هم رانزدې شوه ، زما په کارونو کي هم دو چنده اضافه وشوه ، مامک او جمال هم راورسېدل ، هغو هم په کارونو کي له ما سره وړه په  وړه شول ، له کلي څخه هم ډېر ملګري او قر يبان سره له کور ودانو را ورسېدل ، هر چا به د واده د پاره څه نا څه نخښنه را اخيستې وه ، چا بنګړي ، چاتيګري او چا نيکريزي ، د سيلو جاني همزولي هم راغلي وې ، تر واده  دوې ورځي مخ کي مرجان اکا او د شهباز مورکۍ هم راغله ، شهباز تر دوی هم مخ کي راغلی ؤ ، د واده تيار ياني ښه په مزه شروع وې ، لا  دوې ورځي پاته وې چي پېغلو در يا ووهل پېل کړو ، پيغلو ښکلي سنګارونه کړي ؤ ، زه به هم په وار وار بې له ضرورته کور ته تلم راتلم ، په حقيقت کي هم د واده خوشحالي بيا ثاني نه لري ، له ډېري خوشحالۍ څخه په جامو کي نه ځائيدم ، بيا به مي يو ځل سوچ وکړو چي خدای مه که ، خوشحالي دي په غم بدله نه شي ،لکه هغه زموږ ګاونډی بريالی ،...............   د بريالي واده ؤ ، ډېر خوشحاله ؤ ، ما ته له خپل واده اندازه وشوه چي دی به څومره خوشحاله ؤ ، په کور کي ښه خوشحالي وه ، پېغلو ډول ډول سندري زمزمه کولې ، دی به خاص لکه زه ، کور ته تلو راتلو ، په تندي کي  يې خوشحالي له ورايه ښکارېده ، خو له موږه  هغه هېر دی ، چي موږ ته د بانه تر رپ هم رانزدې دی ، مرګ يادوم څومره بې نيازه او بې درده دی ،مرګی ظالم ، سړی له خوشحالۍ وباسي ،

................. د بریالي د واده په شپه یو ځای د ساز ننداره وه ، بل خوا د بریالي همزولي ډول ته نڅېدل ، اتڼ ښه تود ؤ ، بر یالی د یو ملګري په غوښتنه په اتڼ ګډ شو ، د بریالي یو ډېر نزدې ملګری چي هر وخت به بریالي سره ؤ ، د دوی ډېره ټینګه یارانه وه ، لکه زما اود شهباز ، په هر راز به سره شریکان ؤ ، ..... په دې ښار کي په ودونو کي د ډزو، ټکانو کولو ډېر بد رواج ؤ ، جمعه خان سره کلاشنکوف ؤ ، چي اتڼ به تود شو جمعه خان به هوائي ډزي کولې ، یو وخت د جمعه له لاس څخه کلاشنکوف و ښوېدی ، خوله یې ټیټه شوه ، بریالی د بریالي ورور شمشاد خان او یو بل ملګری خپبرخان ځای په ځای مړه شول ،د بریالي واده په غم بدل او ناوې یې کونډه شوه ، د ډزو د دې بد رواج له وجهي درې ځوانان خاورو ته وسپارل شول ، او ټول کلی یې غمجن کړو ، زه دې سوچ ډېر نا قراره کړی وم ، ما وئیل داسي نه وي ، زه داسي نه شم ، ګلپانه ، سپلو مورکۍ او ټول ملګري به مي سترګو ته جګ ودرېدل ، بیابه مي ببرته آیة الکرسي په ځان چووف کړه ، ما وئیل خدای به خېر کړي ، بیا مي یو ترتیب ذهن ته راغلو ، مرجان اکا مي خبر کړو ، چي ټول ځوانان دي له ډزو کولو منع کړي ، یواځي یو توپک چي ورا ځي او راځي درې ټکان دي وکړل شي هغه هم د ماهر سړي په لاس ، بل چا ته هیڅ اجازت نشته چي ډزي وکړي ،

..................

د دنیا شپې او ورځي دي تېرېږي ، د واده ورځ هم را ورسېده ، سهار وختي ورا روانه شوه ، د ډول والا د بس په سر کي کښېنستل ، په ښار کي ګڼ شمېر قامونه اوسېدل د هر چا بېل بېل رواج ؤ ، ځینو به زوم په ورا بوتلی او ځینو به نه ، خو زموږ رواج دا ؤ ، چي زوم به په خپله ورا نه تلو ، زه کور پاته شوم ، ورا د ډول او درياګانو په زړه راکښونکي ږغ کي روانه شوه ، څو ملګري زما د مرستي د پاره پاته شول ، د ورا د روانېدلو پس موږ په خپلو کارونو شروع وکړه ، د ورا د راتګ او مېلمنو د پاره مو هر څه تیار کړي ؤ، د هیڅ څه کمی هم نه ؤ ، ژړی ماځیګر ؤ ، لمر او غر سره

ورتلو ، د ټکانو ږغ شو ، د ډول او تمبلو له ږغ سره ورا راورسېده
، د ورابانېو د پاره مو زر زر چاي پخې کړې ، ماښام مو ښاروالو
او له کلي څخه راغلي مېلمنو ته ښه مېلمستیا ورکړه ،د ډوډۍ پس یو
خوا ډول او اتڼ ؤ، بل خوا د ساز ننداره هم شروع وه ، ځای
سندرغاړو په زړه پوري سندري وئیلې ، زه به یو وار کور ته
ضرور تلم ، ما وئیل په یو طریقه له طر یقو ګلپاڼه ووینم ، هغه په
ګلپاڼه د پیغلومېله تازه وه ، نجونو دریاګاني وهلې ، چي زه به په
وره ور دننه شوم ، دوي به په سندرو کي زما نوم خامخا یاداؤ ، یو
وار خو به یې ګلپاڼه هم په کي یادوله ، د ځوانانو یې کور ودان چي
د مرجان اکا په وینا یې عمل وکړو هیچا هم ټکان ونه کړل ،دا شپه
تر صادقه سهاره ښه په خوند تېره شوه ، په سبا ورځ اکثره کلیوال
رخصت شول ، ........
د ورا په دریمه شپه خونه له مېلمنو ډکه وه ،د ښار او د کلي خلګ
ناست ؤ ، دا ټول مېلمانه ؤ ، غیبانه اکا ، مرجان اکا ، د زلمي پلار
، دوی د کلي پخوانی ګپي کولې ، پخواني یادونه یې تازه کول ، هر
چا په خپل وار خپلي کیسې کولې ، غیبانه اکا ، مرجان اکا او نورو
مشرانو خپل وار تېر کړو ، چي ګیلې مانې هم په کي وې ، په آخر
کي بهرام کاکا خپل داستان شروع کړو
بهرام کاکا : - زه و خپل ژوند ته حیران یم ، ما دا سوچ هم نه وو
کړی ، چي زه به دومره بدلېږم په ما کي به دومره بدلون راځي ، ما
ډېر بد وخت تېر کړو ، ډېر ظلمونه مي وکړل ، ډېر زړونه مي
آزار کړل ، خدای مي دي ټول تېر بد راوبخښي ، دا ټول د دې ګران
برکت دی چي زما سترګي یې خلاصي کړې ، زه یې په خلګو ګډ
کړم ، د هغه وخت او د دې وخت ډېر فرق دی ، اوس ځان ډېر
خوشحاله محسوسوم ، ښه یې ووئیلي دي ، چي په زور کلي نه
کېږي ، .... زما زور زما دب دبه څه شوه، چي یو یتیم هلک داسي
کولی شي ، چي د بهرام غوندي سړی پرځولی شي ، نو یقین لرم
چي بدلون راتلی شي ، دا ټول د علم په برکت سره کېدی شي ،زه
خبر وم چي موږ له ګران سره کېس چلاؤ، او زما لمسی د ګران


طرفدار ؤ، ټول کليوال د ګران حمايتيان ؤ، ما د ګران د نا کامئ ډېر کوششونه وکړل ، خو په هر کوشش کي به نا کامه شوم ، مرجانه وروره هغه ستا خبري مي اوس هم په مغزو کي دي ، ته صحيح وې زه غلط وم ، ډېر خوشحاله يم چي خداى پاک په سمه لاره کړم ،زه به د ګران دا احسان هيڅکله هېر نه کړم علم او پوهنه د انسان د پاره ډېره لازمه ده ، .............

.بهرام کاکا څو شپې راسره تېري کړې بيا ښه په خوشحالئ رخصت شو ، تروركه لا اوس هم زموږ کره ده ، زما او د ګلپاڼي ژوند ډېر ښه تيرېږي ، موركئ او سپلو جانه له ګلپاڼي ډېري خوشحاله دي ، اناګو ډېره خوشحاله ده ، ولي چي له ډېره وخته پس يې داسي خوشحالي نصيب شوه ، زما ټول آرمانونه پوره شوي ؤ، زما د واده پس مي لا يو څه په ذهن کي ؤ، هغه د سپلو جاني واده ؤ، زما د واده په ۲۸تمه ورځ مي د ډاکټر صاحب په واسطه د زلمي پلار ته حال ورکړئ ، چي د سپلو او زلمي کوزده سره وشي ، هغه هم داسي وشول ، چي د سپلو جاني کوزده هم وشوه ، زلمئ او سپلو جانه دواړه په دې کوزده خوشحاله ؤ، بدرو لالا مي ښار ته راکډه کړو ، ښائسته خان د بدرو لالا زوئ مي د ښار په ښونځي کي داخل کړو ، ....................

د ژوندون ټولي ښې او ښادئ زما په برخه دي ، د ښار په شتمنو او قدر منو خلګو کي شمېرل کېږم ، دولت ، او عزت لرم د ښار په هره حکومتي او غېر حکومتي شعبه کي ښه ملګري انډيوالان لرم ، خپل ، پرېدي ټول را باندي چار پېره وې ، ما په ښار کي يو داسي اداره هم پرانيستې ده ، چي په هغه کي يتيمانو او نېستمنو ماشومانو ته ديني او علمي زده کړي ور ښودل کېږي ¸ ما غوښتو هم دغه ، چي زه داسي کارونه وکړم چي خلكو او وطن والو ته يې ګټه ورسېږي ، اوس زه په خپل سرای کي يوازي په سوچونو کي ناست يم ، چار پېره خاموشي ده ، نن مي دژوند هغه تېر شوي حالات او واقعات "چي کله به زه يواځي شوم، ما به په خپل نازولي قلم ليکلو" پاى ته ورسول .او خپل نازولى قلم مي په ډېره مينه او

قدر له ځان سره خوندي وساتو ، چي د ضرورت په وخت په کا
راشي ،

دریاب ډاټ نیټ
DARYAAB.NET




Download from: aghalibrary.com